# د حضرت یرمیاه نبی کِتاب ـ ماخذ انبیاء

## پېژندګلو

د دې کِتاب موضوع ډېره ښه او د ټولو انسانانو دپاره ضروری او ګټوره ده او هم هغه خبرې کوی کومې چې زیاتو پېغمبرانو کړې دی چې د ګناهونو نه توبه وباسئ، خُدائ پاک ته راوګرځئ، او کۀ نۀ نو بیا تباهئ ته تیار شئ. حضرت یرمیاه د ژړېدونکی پېغمبر په نوم یادېږی ځکه چې هغۀ به ډېر زیات ژړل په دې وجه چې خلقو د خُدائ پاک د عدالت پېغام نظر انداز کړے وو. هغۀ د یهوداه قوم ته د یوسیاه بادشاه د حکومت نه واخله تر یروشلم د تباهئ پورې پېشګویئ کړې وه. هغۀ خپلې پېشګویانې باروک عالِم ته بیان کړې. د حضرت یرمیاه د یو پېغمبر په حیثیت هدف دا وو چې د خُدائ پاک د عدالت د راتلو اعلان وکړی. خو بیا هم په ټول کِتاب کښې مونږ ګورو چې خُدائ پاک غواړی چې خلق او قومونه توبه وباسی او صداقت طرف ته راشی. د هغۀ پېغام هغه وخت ته هم ګوری چې کله به خُدائ پاک خپل شریعت د انسانانو په زړۀ ولیکی نو هغه فرمائی چې، زۀ به خپل شریعت د هغوئ په مازغو کښې واچوم او د هغوئ په زړونو به یې ولیکم. او زۀ به د هغوئ شرارتونه معاف کړم او د هغوئ ګناهونه به نور نۀ یادوم. د حفظ کولو دپاره ۲۹:۱۱

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

آیت ”ما ته د هغه منصوبو پته ده زهٔ چې کومې ستاسو دپاره
لرم، هغه منصوبه چې تاسو آبادوی او خوشحالوی، نه چې
تاسو ته نقصان رسوی، هغه منصوبه چې تاسو ته مستقبل او
اُمید درکړی.“

## حضرت یرمیاه

۱ ۱ په دې کِتاب کښې د خِلقیاه د زوئ یرمیاه پېغامونه
دی څوک چې د بنیامین په علاقه کښې د عنتوت په ښار
کښې د اِمامانو نه یو اِمام وو. ۲ د مالِک خُدائ کلام په
اول ځل په یرمیاه د امون په زوئ یوسیاه د یهوداه د
بادشاهت په دیارلسم کال نازل شو، ۳ او یرمیاه ته دا
پېغامونه تر دې چې د یهویقیم د یوسیاه د زوئ د یهوداه
بادشاه په ټول حکومت کښې او د یهوداه بادشاه د یوسیاه د
زوئ د صدقیاه د حکومت د یوولسم کال تر پینځمې میاشتې
پورې مِلاویدل کله چې د یروشلم خلق جلاوطن کړے شوی
وُو.

## یرمیاه په پېغمبرۍ منتخب کېدل

۴ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو او ما ته یې
وفرمائیل، ۵ ”ما تهٔ د هغه وخت نه پېژندلې چې لا د مور په
خېټه شوے نهٔ وې، ستا د پېدا کېدو نه وړاندې مې تهٔ غوره
کړې او د قومونو دپاره مې نبی مقرر کړې.“ ۶ خو ما ورته
ووئیل چې، ”اے قادر مطلق خُدایه، ما ته خو د صحیح خبرو
کولو طریقه هم نهٔ راځی ځکه چې زهٔ خو لا هلک یم.“ ۷

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل چې، ”داسې مهٔ وايه چې زهٔ
لا هلک يم ځکه زهٔ چې هر چا ته تا ورلېږم نو تهٔ به ورځې او
هر څهٔ چې درته وايم هغه به ورته وائې. ٨ د خلقو نه مهٔ
يرېږه، ځکه چې زهٔ مالِک خُدائ دا وايم چې زهٔ ستا مل يم،
او زهٔ به تا بچ ساتم.“ ٩ نو بيا مالِک خُدائ خپل لاس
راوړِد کړو، او زما خولې له يې راوړو او راته يې وفرمائيل،
”ګوره، ما خپل کلام ستا په خولهٔ کښې واچولو. ١٠ نن ما
تهٔ په قومونو او بادشاهتونو باندې مقرر کړې، او تا ته مې په
هغوئ د بېخ نه د راويستلو، او د هغوئ د رانسکورولو،
بربادولو او د اخوا غورزولو، او په هغې د نورو د قائمولو او
د کَرلو اختيار درکړو.“

## دوه روياګانې

١١ نو بيا د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو او وې
فرمائيل، ”يرمياه، تا ته څهٔ ښکارى؟“ ما ورته ووئيل، ”ما ته د
بادام د ونې يوه څانګه ښکارى.“ ١٢ مالِک خُدائ راته
وفرمائيل، ”تا ته ټيک ښکارى، د دې دا مطلب دے چې زهٔ د
خپل کلام ساتونکے يم، زهٔ چې څهٔ وايم چې هغه پوره شى.“
١٣ د مالِک خُدائ کلام دوباره په ما نازل شو او وې
فرمائيل، ”نور څهٔ وينې؟“ ما ورته ووئيل، ”زهٔ د شمال طرف
نه دېګ وينم چې څهٔ په کښې يشيږى او د دېګ خولهٔ زمونږ
په طرف راټيټه ده.“ ١٤ نو مالِک خُدائ ما ته بيا وفرمائيل
چې، ”دغه شان به په دې مُلک او څوک چې په کښې
اوسيږى په هغوئ به د شمال نه د جنوب طرف ته افت
راښکته شى، ١٥ نو وګورئ، زهٔ قومونه د شمال د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاهتونو نه راغونډوم. د دُنيا بادشاهان به يروشلم او د
يهوداه په ټولو ښارونو حمله وکړی او هغوئ به خپل تختونه د
يروشلم د ښار په دروازه کښې قائم کړی. ۱۶ نو زۀ به خپله
سزا په خپل غوره شوی قوم نازله کړم او د هغوئ د شرارت
په وجه به هغوئ ته سزا ورکړم ځکه چې دوئ زۀ رد کړم او
غېرو خُدايانو ته يې خوشبويانې وسوزولې او د خپلو لاسونو
جوړو شوو بُتانو ته يې عبادت وکړو. ۱۷ نو تۀ يرمياه اوس
ځان تيار کړه، او راپاڅه او هر هغه څۀ چې زۀ درته وايم دا
هغوئ ته ووايه. د هغوئ نه مۀ يرېږه، ګنې زۀ به تا د هغوئ په
وړاندې سخت ويروم. ۱۸ ګوره، ما نن تۀ لکه د يو قلعه بند
ښار په شان او د اوسپنې ستن، او د پيتلو د دېوال په شان
مضبوط جوړ کړې چې تۀ د ټول مُلک سره مقابله وکړې، کۀ
هغه د يهوداه بادشاهان، آفسران، اِمامان او يا د هغې ټول
عوام وی. ۱۹ هغوئ به ستا خلاف وجنګيږی خو کامياب به
نۀ شی، ځکه چې زۀ ستا مل يم او زۀ به تا بچ کړم،“ مالِک
خُدائ فرمائی.

## خُدائ پاک د بنی اِسرائيلو وفاداری رايادوی

۲ ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو او راته يې
وفرمائيل چې، ۲ ”لاړ شه او د يروشلم خلقو ته دا پيغام
ورسوه. ما ته ستاسو د ځوانئ وفاداری ښۀ ياده ده، چې
تاسو به څنګه لکه د ناوې په شان ما سره مينه کوله او تر دې
چې په صحرا کښې چې په کښې کله هم څۀ نۀ کېدل بيا هم
تاسو ما پسې راروان وئ. ۳ په هغه ورځو کښې بنی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِسرائيل مالِک خُدائ ته مقدس خلق وُو او د هغهٔ د فصل
وړومبۍ مېوه وه. او چا به چې هغوئ ته نقصان رسولو نو
هغوئ به ما مجرمان ګرځول او په هغوئ به مې مصيبتونه
نازلول، ما مالِک خُدائ دا وفرمائيل.“

## د بنی اِسرائيلو د پلار نيکهٔ ګناه

۴ اے د يعقوب اولاده، اے د بنی اِسرائيلو ټولو قبيلو، د
مالِک خُدائ کلام ته غوږ ونيسئ. ۵ مالِک خُدائ فرمائی،
”ستاسو پلار نيکهٔ په ما کښې څهٔ غلطی ليدلې وه چې هغوئ
زما نه دومره لرې شول؟ هغوئ د بېکاره بُتانو عبادت شروع
کړو او په خپله هم بېکاره شول. ۶ هغوئ دا تپوس قدرې
هم ونهٔ کړو چې، ”مالِک خُدائ چرته دے، چا چې مونږ د
مِصر نه رابهر کړو، او په هغه صحرا کښې يې زمونږ
لارښودنه وکړه چې د ميرو او کندو کپرو مُلک وو، هر طرف
ته خُشکه او تيارهٔ وه چې په کومه زمکه کښې نهٔ چا سفر
کولو او نهٔ په کښې څوک اوسېدل؟“ ۷ ما تاسو د باغونو نه
ډک او زرخيزه مُلک ته راوستلئ چې د دې د مېوو او د نورو
ښو څيزونو نه خوند واخلئ. خو کله چې تاسو په هغه مُلک
کښې ورداخل شوئ نو هغه تاسو په ګناه سره پليت کړو او
په دې وجه مو زما ميراثی مُلک قابل نفرت وګرځولو. ۸
اِمامانو هم دا تپوس ونهٔ کړو چې، ”مالِک خُدائ چرته دے؟“
او تر دې چې د شريعت خادِمانو هم زهٔ ونهٔ پېژندم، د قوم
مشرانو زما خلاف سرکشی وکړه، او د هغوئ نبيانو د بعل د
بُت پيغام اورولو او د بېکاره بُتانو پيروی او عبادت يې
کولو.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مالِک خُدائ د خپلو خلقو خلاف اِلزام

٩ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”نو په دې وجه به زۀ د خپلو
خلقو خلاف اِلزام ولګوم. او زۀ به ستاسو په اولاد هم نسل
در نسل اِلزام ولګوم. ١٠ مغرب طرف ته د سمندر په بله
خوا کښې د قبرص جزيرې ته لاړ شه او وګوره، او د مشرق
طرف ته د قيدار مُلک ته څوک ولېږه چې په غور سره لټون
وکړی چې آيا د دې نه وړاندې هم داسې کار شوے دے؟ ١١
تاسو چرې يو قوم داسې هم ليدلے دے چې د خپلو خُدايانو
نه اوړېدلی وی کوم چې په حقيقت کښې خُدائ پاک هم نۀ
دے؟ نه، بلکل نه. خو زما غوره شوے قوم زۀ خپل جلالی
مالِک خُدائ پرېښودم او زما په ځائ يې د بې‌فائدې بُتانو
عبادت وکړو. ١٢ اے آسمانونو تاسو خوف زده شئ او
پرېشانه شئ،“ مالِک خُدائ فرمائی، ١٣ ”ځکه چې زما
خلقو دوه ګناهونه کړی دی، يو دا چې هغوئ زۀ چې د
ژوندون د اوبو چينه يم پرېښودے يم، او بل دا چې د خپل
ځان دپاره يې مات شوی تالابونه جوړ کړی دی په کوم کښې
چې اوبۀ نۀ ايسارېږی.“

## د بې‌وفائی نتيجه

١٤ ”ولې بنی اِسرائيليان غلامان دی څۀ؟ ولې هغوئ غلامان
پېدا شوی دی څۀ؟ نو بيا ولې هغوئ اغوا کړے شول؟ ١٥
هغوئ د غرمبېدونکو زمرو په شان په دوئ باندې حمله وکړه،
او د دوئ د زمکې نه يې صحرا جوړه کړه، او ښارونه يې
ورته وسوزول او د اوسېدو نه يې وويستل. ١٦ د دې نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

علاوه، د میمفِس او د تحفنحیس خلق راغلل او ستاسو
سرونه يې وخرائيل او غلامان يې جوړ کړئ. ۱۷ اے بنی
اِسرائیلو، ولې دا تاسو په خپله په خپل ځان نهٔ دی کړی څهٔ؟
کله چې مالِک ستاسو خُدائ پاک ستاسو رهنمائی کوله نو
بیا په هغه وخت کښې تاسو هغه پرېښودو. ۱۸ نو بیا مِصر
ته د تلو او د دریائے نیل د اوبو څښلو څهٔ فائده ده؟ او بیا
اسور ته د تلو او د فرات د سیند د اوبو څښلو څهٔ فائده ده؟
۱۹ ستاسو شرارت به تاسو له سزا درکړی، او زما نه
ستاسو د اوړېدو په وجه به تاسو ورټلے شئ. نو بیا تاسو په
دې غور وکړئ او ځان خبر کړئ چې دا به ستاسو دپاره
څومره بده او ترخه وی کله چې تاسو مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک پرېږدئ او تاسو د هغهٔ نه، نهٔ یرېږئ،“ مالِک
خُدائ ربُ الافواج فرمائی.

## د مالِک خُدائ عبادت پرېښودل

۲۰ ”اے بنی اِسرائیلو، تاسو د ډېر پخوا نه زما جغ د خپل
څټ نه اخوا کړے دے او زما نه مو اِنکار کړے دے. تاسو
ووئیل، ”زهٔ به نور ستا بندګی نهٔ کوم.“ په هره لوړه غونډۍ او
د هرې شنې ونې لاندې څملاستئ او د کنجرو په شان مو زنا
وکړه. ۲۱ ما تاسو د نورو انګورو د ښو بوټو د مینځ نه
غوره کړئ او په زمکه مې وکرلئ خو بیا تاسو ولې فاسد او
په خراب او ځنګلی انګورو بوټی بدل شوئ؟ ۲۲ کهٔ څهٔ هم
تاسو خپل ځان په سوډا او ډېر صابون باندې ووینځئ، خو
بیا هم ستاسو د ګناه داغونه زما په وړاندې دی.“ دا د قادر
مطلق خُدائ وینا ده. ۲۳ ”تهٔ څنګه وائې چې ما خپل ځان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نۀ دے ګنده کړے او د بعل د بُت پيروی مې نۀ ده کړې؟
ګوره تا په هغه دره کښې څنګه رفتار وکړو. لږ ځان سره
سوچ وکړه چې تا هلته څۀ کړی دی. تۀ هغه اوښه يې چې وار
يې راوړے وی او اخوا ديخوا منډې وهی، ٢۴ تۀ لکه د هغه
ځنګلی خرې په شان يې چې په دشته کښې په مستئ راغلې
وی او آوازونه شروع کړی نو څوک د هغې شهوت قابو
کولے شی؟ او هر يو صحرائی خر به بغير د تکليف نه په هغې
پاندې سوريدے شی او هغه په خپله هغوئ ته نزدې ورځی
ځکه چې هغه په مستئ کښې راغلې وی. ٢۵ نو بيا دومره
منډې مۀ وهه چې څپلئ دې وشليږی او مرئ دې اوچه شی.
نو بيا تا ووئيل، چې نه، دا خبرې زما دپاره بېفائدې دی، زۀ
د غېرو د بُتانو سره مينه کوم، او زۀ به د هغوئ پيروی کوم.“

## بنی اِسرائيل به وشرميږی

٢۶ ”اے بنی اِسرائيلو ستاسو ټول قوم او بادشاهان،
مشران، اِمامان، او نبيان داسې شرمنده شئ لکه څنګه چې
يو غل ونيولے شی او شرمنده وی. ٢٧ دوئ د لرګی نه جوړ
شوی بُت ته وائی چې تۀ زما پلار يې، او د کاڼی نه جوړ شوی
بُت ته وائی چې تۀ زما مور يې. دوئ ټولو ما ته د مخ په ځائ
شا کړې ده، خو چې کله هم څۀ تکليفورباندې راشی نو بيا
ما ته خواست کوی چې راشه او مونږ ته خلاصون راکړه.
٢٨ نو بيا هغه معبودان چرته دی کوم چې تاسو د خپل ځان
دپاره جوړ کړی دی؟ نو بيا کۀ دوئ کولے شی نو را دې شی
او د مصيبت په وخت کښې دې تاسو له خلاصون درکړی.
ځکه چې اے يهوداه، ستاسو خو دومره ډېر معبودان دی لکه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څومره چې ستا ښارونه دی.“ ۲۹ مالِک خُدائ فرمائی چې،
”نو بیا تاسو ولې په ما اِلزام لګوئ؟ تاسو ټولو زما خلاف
سرکشی کړې ده. ۳۰ ما ستاسو خلقو ته بې‌فائدې سزا
ورکړه، ځکه چې هغوئ زما اصلاح کول ونۀ منل. خو تاسو
لکه د غړمبېدونکی زمری په شان په خپلو نبیانو حمله وکړه
او هغوئ مو قتل کړل. ۳۱ اے موجوده نسلونو، د مالِک
خُدائ په کلام باندې غور او فکر وکړئ، ولې زۀ د بنی
اِسرائیلو دپاره د صحرا او یا د تورې تیارې زمکې په شان وم
څۀ؟ نو بیا ولې زما قوم داسې وائی چې اوس دوئ زما نه
آزاد شُو، او بیا به هیڅکله ما ته واپس رانۀ شی؟ ۳۲ ولې یوه
پېغله خپل کالی هېروی، او یا یوه ناوې خپل د وادۀ سنګار او
جامې هېروی څۀ؟ خو زما خلقو زۀ بې‌حده هېر کړے یم.
۳۳ د معشوقو په پیدا کولو کښې تاسو څومره ماهر یئ. تر
دې چې بدکاره ښځه به هم ستاسو نه چل زده کړی. ۳۴
ستاسو لمن د بې‌ګناه غریبانانو په وینو داغې شوې ده، سره
د دې چې هغوئ تاسو په غلا کولو کښې نۀ دی نیولی. د دې
هر څۀ باوجود ۳۵ بیا هم تۀ وائې چې، ”ما هیڅ نۀ دی کړی
زۀ بې‌ګناه یم، مالِک خُدائ خو ما ته غصه نۀ دے.“ خو زۀ
به تا له سخته سزا درکړم ځکه چې تۀ وائې چې، ”زۀ بې‌ګناه
یم.“ ۳۶ تۀ کله دلته او کله هلته ځې راځې نو بیا ولې دومره
زر خپلې لارې بدلوې؟ تۀ به د مِصر نه داسې وشرمېږې لکه
څنګه چې تۀ وړاندې د اسور نه شرمېدلے وې. ۳۷ تۀ به د
هغه ځائ نه هم لاس په سر شرمنده وځې، ځکه چې په چا تا
بهروسه کوله مالِک خُدائ هغوئ رد کړل نو تاسو به د هغوئ
نه هیڅ امداد حاصل نۀ کړئ.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## مالِک خُدائ سره د بنی اِسرائیلو بےوفائی

۳ ۱ مالِک خُدائ فرمائی، ”کهٔ يو سړے خپله ښځه
طلاقه کړی او د هغې نه جدا شی او بيا هغه د بل چا سره
وادۀ وکړی نو آيا بيا اول خاوند ته د دې سره د دوباره وادۀ
کولو اجازت شته څۀ؟ بلکل نه، ولې چې په داسې کولو به
ټوله زمکه پوره پليته نۀ شی څۀ؟ خو اے اِسرائيله لکه څنګه
چې يوه زناکاره ښځه په ډېرو سړو پسې ګرځی دغه شان
تاسو په ډېرو بُتانو پسې وګرځېدئ نو اوس تاسو غواړئ چې
ما ته دوباره راشئ څۀ؟ ۲ د اوچتو خُشکو غرونو طرف ته
نظر وکړه او وګوره چې آيا هلته په هغې کښې داسې ځائ
شته چې تۀ په کښې بےحرمته شوے نۀ يې؟ د لارې په خوا
کښې تۀ د زنا دپاره يارانو ته داسې ولاړه وې، لکه چې يو
کوچے په صحرا کښې په انتظار ناست وی. تا د زناکارۍ او
شرارت په وجه ټوله زمکه پليته کړې ده. ۳ نو باران په دې
وجه ايسار شوے وو او د سپرلی څاڅکی ونۀ ورېدل. نو دا
چې تا د کنجری شکل نيولے دے او تا له هيڅ شرم نۀ
درځی. ۴ تۀ د دومره بےشرمۍ باوجود بيا هم ما ته وائې
چې، ”اے پلاره، کله چې زۀ وړه وم، تا ما سره مينه کوله،
۵ ولې تۀ به د تل دپاره ما ته په قهر يې څۀ؟ ولې ستا
غضب به د تل دپاره په مونږ باندې وی څۀ؟“ تۀ خو داسې
وائې مګر څومره بدعملی چې تا نه کېدے شی دومره کوې.“

## توبه کول

۶ د يوسياه بادشاه د حکومت په دوران کښې مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ما ته وفرمائيل، ”تا هغه څهٔ وليدل کوم چې بې‌وفا اِسرائيل
کړې دی؟ لکه د يوې بدکارې ښځې په شان هغې په هر يو
اوچت غرهٔ او د هرې شنې ونې د سورې لاندې زنا کړې ده.
۷ زما خيال دا وو چې د دې هر څهٔ کولو نه وروستو به
هغه ما ته واپس راوګرځى. خو دا راونهٔ ګرځېده او د دې
بې‌وفا خور يهوداه دا هر څهٔ وليدل. ۸ ما بې‌وفا اِسرائيل ته
د هغې د زناکارئ په وجه طلاق نامه ورکړه او ومې شړله نو
بيا ما وليدل چې د هغې خور يهوداه نهٔ يرېدله. هغه هم بهر
ووتله او زناکارى يې شروع کړه. ۹ ځکه چې د اِسرائيل
دغه بدکارى هغې ته ډېره بې‌اهميته ښکارېده نو هغې هغه
زمکه پليته کړه چې د کاڼو او لرګو د بُتانو سره يې زنا شروع
کړه. ۱۰ خو د دې هر څهٔ باوجود، د هغې بې‌وفا خور يهوداه
ما ته په پوره زړهٔ سره راونهٔ ګرځېدله، خو صرف په ظاهرى
شکل سره زما طرف ته راواپس شوه. دا د مالِک خُدائ
فرمان دے.“ ۱۱ نو بيا مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل چې،
”خو بيا دا چې بې‌ايمانه اِسرائيل د دوکه باز يهوداه نه صادق
دے.“ ۱۲ هغهٔ ما ته وفرمائيل چې، ”د شمال طرف ته لاړ
شه او هغوئ ته ووايه، اے بې‌ايمانه اِسرائيله، مالِک خُدائ
فرمائى ما ته راواپس شه. زهٔ به په غصې سره نور تا ته نهٔ
ګورم، ځکه چې زهٔ رحم کوونکے يم، مالِک خُدائ فرمائى،
او نهٔ به زهٔ د تل دپاره تا ته غصه يم. ۱۳ تهٔ صرف د خپلو
ګناهونو اقرار وکړه چې ګناهګار يم او تا د خپل مالِک خُدائ
خلاف سرکشى کړې ده، او تا د هرې شنې ونې د لاندې د
پردو بُتانو عبادت کړے دے او زما د کلام تابعدارى دې نهٔ
ده کړې، مالِک خُدائ دا فرمائى. ۱۴ اے بې‌ايمانه خلقو،
راواپس شئ ځکه چې زهٔ ستاسو مالِک يم. زهٔ به ستاسو د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښارېږي نه يو او د هرې قبيلې نه دوه دوه کسان خوښ کړم او
صيون ښار ته به مو واپس راولم. ۱۵ زۀ به تاسو له د
شپونکو په شان مشران درکړم چې زما سوچ لرى او تاسو ته
په عِلم او عقل سره هدايت کوى. ۱۶ نو کله چې ستاسو د
خلقو شمېر په هغه مُلک کښې ډېر شى، مالِک خُدائ فرمائى،
نو تاسو به په هغه ورځو کښې د خُدائ د لوظ صندوق ذکر نۀ
کوئ او هم به ستاسو خيال ته دا نور نۀ راځى، او نۀ به هغه
يادوئ، او نۀ به د هغې د ضرورت احساس تاسو ته کيږى، او
نۀ به هغه دوباره جوړ کړئ. ۱۷ نو په دغه وخت کښې به
دوئ يروشلم ته د ”مالِک خُدائ تخت“ ووائى، او ټول قومونه
به په يروشلم کښې راټول شى او د مالِک خُدائ نوم له به
عزت ورکړى. او دوئ به نور د خپل سرکشه او شريره
زړونو پيروى نۀ کوى. ۱۸ نو په دغه ورځو کښې به د يهوداه
خاندان د اِسرائيل د خاندان سره يوځائ شى او په شريکه به
دوئ د شمال د جلاوطنۍ د مُلک نه هغه مُلک ته واپس راشى
کوم چې ما ستاسو پلار نيکۀ له په ميراث کښې ورکړے وو.“

## د خُدائ پاک د غوره شوى خلقو بُت پرستى

۱۹ ”مالِک خُدائ په خپله فرمائى چې اے بنى اِسرائيله، ما
غوښتل چې زۀ تا سره د خپل بچى په شان سلوک وکړم او د
خپلې خوښې مُلک او زمکه درکړم، چې د نورو مُلکونو په
نسبت ښکلې او شانداره وى. زما دا خيال وو چې تۀ به ما ته
خپل پلار ووائې او زما نه به وانۀ وړې. ۲۰ خو تۀ ما سره
بېوفا شوې د هغې ښځې په شان څوک چې خپل خاوند سره
بېوفا وى. مالِک خُدائ دا فرمائى. ۲۱ د خُشکو غرونو په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوچتو سرونو باندې د بنى اِسرائيليانو د ژړا او فرياد شور
اورېدلے شى، ځکه چې هغوئ غلطه لار اختيار کړې ده او
خپل مالِک خُدائ يې هېر کړے دے. ۲۲ اے بې‌وفا بچو ما
ته راواپس شئ زهٔ به ستاسو بې‌وفائى له شفا درکړم. اے
مالِکه خُدايه، مونږ به تا ته راواپس کيږُو ځکه چې تهٔ مالِک
خُدائ زمونږ خُدائ پاک يې. ۲۳ مونږ چې په زور شور سره
د غرونو او غونډو په سرونو د بُتانو کوم عبادت کړے دے دا
په رښتيا سره دوکه وه، د بنى اِسرائيل خلاصون په يقين سره
صرف په مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک دے. ۲۴ د اول نه
تر آخره پورې دې شرمناک د بعل بُت زمونږ د پلار نيکهٔ د
محنت مېوه، د دوئ رمې او ښاروى، زامن او لونړه ټول
قبضه کړى دى. ۲۵ مونږ له په کار دى چې بې‌عزتى او شرم
قبول کړُو او په شرمونو پټ شُو. ځکه چې مونږ د خپل پلار
نيکهٔ سره د خپل مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک په خلاف
ګناه کړې ده. د اول نه تر آخره پورې مونږ د خپل مالِک
خُدائ پيروى نهٔ ده کړې.“

## د توبې دعوت

۴ ۱ مالِک خُدائ فرمائى، ”اے بنى اِسرائيلو، کهٔ چرې
تاسو واپس ما له راتلل غواړئ نو ما له واپس راشئ. کهٔ
چرې تاسو خپل پليت بُتان زما د نظر نه اخوا کړئ او نور نهٔ
ګمراه کيږئ، ۲ کله چې تاسو قسم خورئ چې، ”مالِک
خُدائ ژوندے دے“ نو په رښتيا، اِنصاف، او صداقت سره
خپله وعده پوره کوئ، نو بيا به تهٔ د دُنيا قومونو ته د برکت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ذریعه وګرځېږي او ټول قومونه به ستا په وجه زما نوم ته جلال
ورکړی.“ ۳ مالِک خُدائ د یهوداه او یروشلم خلقو ته
فرمائی، ”د خپلو زړونو په سخته زمکه کښې یوه وکړئ او په
ازغو کښې تخم مهٔ کَرئ. ۴ اے د یهوداه او د یروشلم
خلقو خپل زړونه ما ته وقف کړئ، هسې نه ستاسو د بدو
اعمالو په وجه زما د قهر اور بل شی نو هغه به تاسو مکمل
وسوزوی او بیا به داسې هیڅ څوک نۀ وی چې هغه مړ
کړی.“

## د شمال د خوا نه د افت اعلان

۵ په یهوداه کښې اعلان وکړئ او یروشلم ته اِطلاع ورکړئ
او ورته ووايئ، ”په ټول مُلک کښې بيګل وغږوئ. په زوره
چغې ووهئ. او ورته ووايئ، راشئ، محفوظو ښارونو کښې
پناه واخلئ. ۶ د صيون طرف ته د تېښتې دپاره جنډا
اوچته کړئ او په منډه محفوظ ځائ ته وتښتئ. ځکه چې زۀ
د شمال د خوا نه افت او سخته تباهی راولم. ۷ د ځنګل د
زمری په شان د قومونو سخت او تباه کوونکے دشمن د
خپل غار نه راووتو، هغه د خپل ځائ نه رارَوان دے چې
ستاسو زمکه تباه کړی او ستاسو ښارونه به وران ويجاړ
کړی او هغه به خالی پاتې شی. ۸ د ماتم او ټاټ جامې
واغوندئ، ژړا او وير وکړئ. ځکه چې د مالِک خُدائ سخت
قهر تر اوسه پورې په مونږ باندې دے. ۹ مالِک خُدائ
فرمائی، په هغه ورځ به بادشاهان او آفسران حوصله بائيلی، د
اِمامانو به د يرې نه وېښتهٔ ودرېږی او پيغمبران به د يرې نه
جام پاتې شی.“ ۱۰ بيا ما ووئيل، ”اے قادر مطلق خُدايه، دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلق او یروشلم ستا په هغه وینا دوکه شُو کومه چې تا کړې
وه چې تاسو به پوره په امن کښې اوسېږئ، خو په دې کښې
تُوره زمونږ د مرئ ډپاسه سوره شوه.“ ۱۱ په دغه وخت
کښې به دې خلقو او یروشلم ته ووئیلے شی چې، ”زما
عزیزانو. د صحرا د اوچتو غونډو نه به سوزونکی هوا په
تاسو راشی، دا به هغه ښۀ هوا نۀ وی چې دانې د بوسو نه جدا
کوی. ۱۲ خو زما د خوا نه به ډېره تېزه هوا لکه د طوفان
راشی نو اوس زۀ خپله فیصله او سزا د ستاسو په خلاف
اعلانوم.“

## د یهوداه محاصره کېدل

۱۳ وګورئ، دشمن لکه د وریځو په شان زمونږ خوا ته
راروان دے. د هغۀ جنګی ګاډی لکه د تېز طوفان په شان
راروانې دی او د هغۀ آسونه د باز نه تېز دی. په مونږ
افسوس، مونږ تباه او برباد شُو. ۱۴ اے یروشلمه، خپل زړۀ
د ګناه او شرارت نه ووینځه، نو دغه شان به تۀ خلاصون
حاصل کړې. ترڅو پورې به تۀ په خپل زړۀ کښې د ګناه
سوچونه کوې؟ ۱۵ یو آواز د دان نه د بد خبر اعلان کوی او
د اِفرائیم د غونډو نه د افت راتلو خبردارے ورکوی. ۱۶ د
دُنیا غېر قومونو ته خبردارے ورکړه او یروشلم ته اعلان
وکړه چې، ”ستاسو او د یهوداه د ښارونو خلاف د جنګ
چغې وهونکے غټ لښکر د لرې مُلک نه راروان دے. ۱۷
دوئ به یروشلم داسې محاصره کړی لکه چې سړی د پټی
حفاظت کوی، ځکه چې د دې خلقو د مالِک خُدائ نه
سرکشی کړې ده، مالِک خُدائ داسې فرمائی. ۱۸ اے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يهوداه، ستا خپل چال چلن دا مصيبت په تا نازل کړے دے.
دا ستا سزا ده. او دا ډېره ترخه ده. او دا ځومره زړهٔ
سورے کوونکې ده.“

## د يرمياه پرېشانه کېدل

۱۹ وای! وای! زهٔ په درد او مصيبت کښې راګېر شوم. زړهٔ
مې درزيږی نور زهٔ چپ پاتې کېدے نهٔ شم. ځکه چې ما د
دشمن د جنګ د بيګل آوازونه واورېدل او د دوئ د جنګ د
ناروا شور آوازونه مې واورېدل. ۲۰ د تباهۍ او بربادۍ چپې
پرله پسې په مُلک راخورې شوې، هر طرف ته مُلک تباه شو،
ناګهانه زما خېمې تباه شوې، او په يوه لحظه کښې زما پناه
ګاه تباه شوه. ۲۱ ترڅو پورې به زهٔ د جنګونو دا جنډې
ګورم او ترڅو پورې به د بيګلو آوازونه اورم؟ ۲۲ مالِک
خُدائ فرمائی، ”زما خلق کم عقل دی، هغوئ ما نهٔ پېژنی.
هغوئ لکه د ناپوهه ماشومانو په شان عقل نهٔ لری. په ورانی
کښې ډېر پوهه دی خو په نېکۍ کولو نهٔ پوهېږی.“

## د راتلونکی تباهۍ په حقله د يرمياه رويا

۲۳ ما په زمکه باندې نظر واچولو زمکه خالی وه او هيڅ په
کښې نهٔ وُو، او چې آسمان ته مې وکتل نو هلته هم رڼا نهٔ وه.
۲۴ په غرونو باندې مې نظر واچولو نو دا خوځېدل او
غونډۍ هم ټالونه خوړل. ۲۵ ما هرې خوا ته وليدل خو څوک
هم راته ښکاره نهٔ شو، او ټول مارغان هم تښتېدلی وُو. ۲۶
ما هغه زرخيزه پټی وليدل چې په شاړو بدل شوی وُو. او
ښارونه وران ويجاړ شوی وُو، چې د مالِک خُدائ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یروونکې غصې سره چخنې شوی ؤو. ۲۷ مالِک خُدائ
فرمائی، ”ټوله زمکه به تباه شی خو زۀ به بیا هم دا په پوره
توګه نۀ تباه کوم. ۲۸ نو په دې وجه به زمکه ماتم کوی، او
بره آسمان به تک تور شی. ځکه چې ما دا وفرمائیل او د
خپلې خبرې نه به وانۀ وړم. ما دا فېصله کړې ده دا به بدله
نۀ کړم.“ ۲۹ د ښار خلق چې د فوجیانو د آسونو او د غشو
لیندو شور او درزار واوری نو تښتی. او هر یو کس ځنګلونو
او غرونو ته پناه وړی او هر یو ښار به خالی شی او هیڅ
څوک به پاتې نۀ شی. ۳۰ اے تباه او لوټ شویه ښاره، تۀ
اوس څۀ کوې؟ تۀ ولې سرې جامې اچوې او د سرو کالے
استعمالوې او سترګې تورووې؟ تۀ هسې فضول خپل ځان
سینګاروې. ستا عاشقانو تۀ نامنظوره کړې يې او ستا نه
نفرت کوی او هغوئ ستا وژل غواړی. ۳۱ ما داسې ژړا
واورېدله لکه چې د یوې ښځې د ماشوم د پېدا کېدو وخت
وی، داسې زبیرګی ؤو لکه څنګه چې یوه ښځه په وړومبی
ماشوم کوی. زما لور صیون ژاړی او سلګۍ وهی، او خپل
لاس يې د امداد دپاره اوږد کړے دے او وائی، ”افسوس په
ما! زۀ تباه شوم او چې د خپلو قاتلانو د وړاندې تکه زېړه او
بې‌وسه شوې یمه.“

## د یروشلم ګناهونه

۵ ۱ د یروشلم په کوڅو کښې ښکته پورته منډې ووهئ.
اخوا دیخوا په غور سره وګورئ او په چوکونو کښې لټون
وکړئ. کۀ چرې تاسو داسې یو کس هم پېدا کړئ چې هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

صداقت او اِنصاف کوی او په رښتیاو پسې ګرځی، نو زۀ به
دا ښار نۀ تباه کوم. ۲ کۀ څۀ هم چې دوئ زما په نوم قسم
خوری چې، ”مالِک خُدائ ژوندے دے،“ خو بیا هم دوئ
دروغ وائی. ۳ اے مالِکه خُدایه ستا سترګې صداقت لیدل
غواړی. کۀ څۀ هم چې تا دوئ ووهل خو دوئ ته پرې څۀ
خفګان ونۀ رسېدو، تا هغوئ ته سزا ورکړه خو بیا هم دوئ
اصلاح نۀ شُو. او دوئ خپل زړونه د کاڼی نه هم سخت کړل
او د توبې ویستلو نه یې اِنکار وکړو. ۴ نو بیا ما سوچ
وکړو چې، ”دا خو غریبانان او جاهله مخلوق دے، دوئ
ځکه بېوقوفه کارونه کوی چې د مالِک خُدائ لار نۀ پېژنی او
د هغۀ د حکمونو نه ناواقفه دی. ۵ نو زۀ به د دوئ مشرانو
له لاړ شم او هغوئ سره به خبرې وکړم. نو دوئ به ضرور د
مالِک خُدائ د لارو او حکمونو نه خبر وی.“ خو افسوس
چې دې مشرانو هم د مالِک خُدائ د تابعدارۍ زنځیر او جغ
مات کړو او د خپلو ځانونو نه یې اخوا کړے وو. ۶ نو په
دې وجه به د ځنګل نه زمرے راشی او دوئ به وخوری، او د
دشتو نه به لیوۀ راشی او دوئ به برباد کړی، او پړانګ به
ورته پټ کښېنی ترڅو چې څوک هم د ښار نه رابهر شی نو
هغه به ټوټې ټوټې کړی. ځکه چې هغوئ غټ سرکشه دی او
په څو ځله مرتد شوی دی. ۷ مالِک خُدائ وفرمائیل، ”زۀ
څنګه تاسو معاف کړم؟ ستاسو بچو زۀ پرېښے یم او دوئ په
هغه معبودانو یقین وکړو چې په حقیقت کښې هغه رښتینی نۀ
دی. کۀ څۀ هم ما د هغوئ ټول ضرورتونه پوره کړل، خو
هغوئ لکه د بېوفا ښځې په شان زنا وکړه او د چکلې مخې
ته یې قطارونه جوړ کړل. ۸ دوئ لکه د ښۀ څربه مستو
آسونو په شان دی چې هر یو د خپل ګاونډی د ښځې پسې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هنېرى.“
٩ مالِک خُدائ فرمائى، ”ولې زهٔ دوئ ته د دې
بې‌شرمه کارونو په وجه سزا ورنهٔ کړم څهٔ؟ او ولې د داسې
قوم نه بدله وانهٔ خلم څهٔ؟
١٠ لاړ شئ او د هغوئ د انګورو
باغونه تالا والا کړئ خو بلکل په پوره توګه يې مهٔ تباه کوئ.
او د انګور بوټى څانګې راماتې کړئ، ځکه چې دا خلق زما نهٔ
دى.“
١١ مالِک خُدائ دا فرمائى، ”د اِسرائيل او يهوداه
خلقو ما سره هر قسمه بې‌وفائى او خيانت کړے دے.“

## مالِک خُدائ اِسرائيل رد کړل

١٢ دوئ د مالِک خُدائ په حقله دروغ ووئيل او وائى، ”هغه
به مونږ سره هيڅ هم نهٔ کوى. په مونږ به مصيبت نهٔ راځى.
قحط او جنګ به هم په مونږ باندې نهٔ راځى.“
١٣ دوئ وائى،
”پېغمبران هسې فضول خبرې کوى او دوئ سره د خُدائ
پاک له طرف نه پېغام نشته. د کوم مصيبت نه چې مونږ
يروى هغه دې په دوئ باندې په خپله راشى.“
١٤ نو ځکه
مالِک خُدائ ربُ الافواج خُدائ فرمائى، ”اے يرمياه، نو لکه
څنګه چې دوئ داسې خبرې کوى نو زهٔ هم خپل کلام ستا په
خولهٔ کښې لکه د اور په شان اچوم او دوئ نه خشاک
جوړوم چې دوئ وسوزوى.
١٥ مالِک خُدائ فرمائى، اے
اِسرائيله، زهٔ به د لرې ځائ نه ستا خلاف يو زورَور او
پخوانے قوم راولېږم چې په تا حمله وکړى چې تهٔ يې په ژبه
او خبرو باندې نهٔ پوهېږې.
١٦ د هغوئ سره وژونکى غشى
دى او ټول تکړه او زورَور فوجيان دى.
١٧ هغوئ به ستاسو
فصلونه او خوراک لواړ تير کړى، هغوئ به ستاسو زامن او
لونړه ووژنى. هغوئ به ستاسو رَمې او څاروى تباه کړى، او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ به ستاسو د انګورو او د اينځر ونې تباه کړی. تاسو
چې په کومو محفوظو ښارونو باندې بهروسه کوئ نو د هغې
لښکرې به يې تباه برباد کړی. ۱۸ مالِک خُدائ فرمائی چې،
خو بيا هم په هغه ورځو کښې به زۀ تاسو په مکمل توګه نۀ
تباه کوم. ۱۹ اے يرمياه کۀ چرې خلق تا نه تپوس وکړی
چې دا هر څۀ زمونږ مالِک خُدائ پاک ولې مونږ سره وکړل؟
نو تۀ دوئ ته ووايه، چې تاسو خپل حقيقی خُدائ پرېښودو او
د هغۀ په ځائ مو په خپل مُلک کښې د غيرو معبودانو
خِدمت وکړو، نو په دې وجه به تاسو په پردی وطن کښې د
پردو خلقو خِدمت وکړئ.“

## د يعقوب اولاد ته اعلان

۲۰ مالِک خُدائ وفرمائيل چې، ”د يعقوب اولاد ته اعلان
وکړه، د يهوداه خلقو ته ووايه، ۲۱ اے کم عقلو او بېشعوره
خلقو، تاسو سترګې لرئ خو وينئ نه او غوږونه لرئ خو
اورئ نه، ما ته غوږ ونيسئ. ۲۲ مالِک خُدائ فرمائی، تاسو
به زما نه نۀ يرېږئ څۀ؟ تاسو به زما په حضور کښې د يرې
نه نۀ ريږدېږئ څۀ؟ ما د سمندر دپاره د شګو حد مقرر کړے
دے، دا مې ورته ابدی او پوخ حد مقرر کړے دے. کله چې
سمندر په زور او مستۍ کښې هم راشی او د هغې چپې ډېر
شور او زور هم وکړی خو بيا هم د مقرر شوی حد نه نۀ شی
اوړېدلے. ۲۳ خو زما قوم سرکشه او د ضدناکو زړونو
لرونکی دی. دوئ زما نه واوړېدل او زۀ يې پرېښودلم. ۲۴
دوئ هيڅکله خپل ځان سره دا نۀ دی وئيلی چې، راځئ د
مالِک خُدائ نه يره وکړُو، څوک چې په مونږ باندې د منی او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سپرلی موسم کښې بارانونه راوروی، او هغه مونږ ته د ريبلو
موسم په مقرره وخت کښې راولی. ۲۵ ستاسو غلطيانو
تاسو د دې عجيبه برکتونو نه محرومه کړې. ستاسو ګناهونو
تاسو د دې ښۀ څيزونو نه منع کړې. ۲۶ زما د غوره شوی
قوم په مينځ کښې شريران پيدا کيږی. هغوئ لکه د مارغانو د
ښکاريانو په شان په انتظار کښې ناست دی، دوئ د خلقو
دپاره دام خوروی ترڅو هغوئ په کښې راګير کړی. ۲۷ لکه
څنګه چې د يو ښکاری پنجره د مارغانو نه ډکه وی، نو هم
دغه شان د دوئ کور هم د شرارت او فساد نه ډک وی. هم
دا وجه ده چې دوئ ډير زورَور او مالداره شوی دی، ۲۸
ښۀ خوری او څربه کيږی او د هغوئ د بدو کارونو څۀ حد
نشته دے. او نۀ هغوئ د يتيمانانو سره مدد کوی چې ورته
هغه څۀ مِلاو شی کوم يې چې حق دے، او نۀ د غريبانانو
مدد کوی. ۲۹ نو مالِک خُدائ فرمائی چې، آيا زۀ دوئ ته په
دې بدو کارونو کولو سره سزا ورنۀ کړم څۀ؟ او د داسې قوم
نه بدله وانۀ خلم څۀ؟ ۳۰ کوم کارونه چې په دې مُلک کښې
وشو هغه خراب او قابل نفرت دی. ۳۱ پيغمبران د دروغو
پيغامونه ورکوی، او اِمامان هم د خپلې مرضئ حکومت
کوی. او زما غوره شوے قوم هم دا سلوک خوښوی. نو تۀ
ما ته دا ووايه چې هرکله دا هر څۀ ختم شی نو تاسو به څۀ
کوئ؟“

## د يروشلم محاصره کيدل

۶ ۱ اے د بنيامين خلقو، د خپل ځان د بچ کيدو دپاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

منډه کړئ او د یروشلم نه وتښتئ. په تقوع کښې بیګل وغږوئ
او په بیت‌هکرم کښې د خطرې اعلان وکړئ. ځکه چې د
شمال طرف نه لوئ افت او بربادی راروانه ده. ۲ زما د
صیون ښکلې او نازکې لورې تۀ زما خوښه یې خو زۀ به دې
تباه کړم. ۳ تا به دشمن داسې محاصره کړی لکه څنګه
چې شپانو د ښار نه ګېرچاپېره خېمې لګولې وی. هر یو به
خپل فوجی ته د تباه کولو ځائ ورښائی. ۴ دوئ به چغې
وهی، ”راشئ او د جنګ دپاره تیار شئ. راځئ چې مونږ د
غرمې په وخت حمله وکړُو. خو افسوس چې اوس ډېر
ناوخته شو، د ورځ رڼا په ختمېدو شوه، او د ماښام تیارې
راخورې شوې. ۵ راځئ چې د شپې په تیارۀ کښې حمله
وکړُو او ټول محلونه یې تباه کړُو.“ ۶ مالِک ربُ الافواج
خُدائ فرمائی چې، ”ونې یې ووهئ، او د خاورو د ډېرو نه د
یروشلم محاصره وکړئ. دې ښار ته دې سزا ورکړے شی،
ځکه چې په دې کښې د ظلم او زیاتی نه بغیر نور څۀ په نظر
نۀ راځی. ۷ لکه څنګه چې د یو کوهی نه تازه اوبۀ راوځی،
دغه شان د دې ښار نه تازه تازه فساد او شرارت راوځی. د
دې ښار په هرې خوا او ګوټونو او کوڅو کښې د ظلم او
زیاتی آوازونه اورېدلے کېږی. د دې ښار بیماری او زخمونه
هر وخت زما د سترګو د وړاندې دی. ۸ اے د یروشلم
خلقو د دې خبرداری نه سبق حاصل کړئ، کۀ زۀ تاسو نه
لاس په سر شم، نو ستاسو ښار به تباه کړم، او هغه به نور د
اوسېدو قابل نۀ وی.“

## د اِسرائیلو سرکشی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۹ مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی، ”تر دې چې کوم
کسان په اِسرائیل کښې پاتې شوی دی هغوئ به دوباره
راوشوکولے شی، لکه څنګه چې باغوان دوباره په بوټی کښې
د پاتې شوو انګورو دانو د راشوکولو لټون کوی.“ ۱۰ ما
ورته ووئیل، ”چا سره زهٔ خبرې وکړم، چا ته خبردارے
ورکړم؟ څوک به ما ته غوږ ونیسی؟ هغوئ خپل غوږونه کاڼهٔ
کړی دی او هغوئ اورېدل نهٔ غواړی. دوئ د مالِک خُدائ
کلام پورې خندا کوی. او په هغې خوشحالیږی نه. ۱۱ نو د
دې دپاره زهٔ د مالِک خُدائ د قهر نه ډک شوے یم، او د
برداشت نه بهر شوے یم.“ مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل چې،
”زهٔ خپله غصه په کوڅو کښې په ماشومانو او د زلمو په ډلو
او په ښځې او خاوند او په سپین ږیرو او بوډاګانو نازلوم.“
۱۲ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”د هغوئ کورونه او زمکې
سره د هغوئ د ښځو نورو ته حواله کړم، ځکه چې زهٔ به
خپل لاس د دې مُلک د خلقو په خلاف وراوږد کړم. ۱۳ د
ماشومانو نه واخله تر بوډاګانو پورې هر یو د ناجائزه ګټې په
لالچ کښې دی، د پېغمبر نه واخله تر اِمام پورې ټول دوکه
ماران دی. ۱۴ هغوئ زما د خلقو د سختو زخمونو عرضی
علاج کوی. او کله چې خیر نهٔ وی نو هغوئ وائی چې، خیر
دے، خیر به شی. ۱۵ آیا هغوئ په خپل دې پلیت عمل
شرمېدل څهٔ؟ نه، هغوئ بلکل شرم نهٔ لرلو، هغوئ په دې هم
نهٔ پوهیږی چې شرم څهٔ ته وائی. دوئ به د تباه شوو په مینځ
کښې حساب شی. زهٔ به دوئ هم ختم کړم کله چې زهٔ هغوئ
ته سزا ورکوم،“ مالِک خُدائ فرمائی. ۱۶ مالِک خُدائ
داسې فرمائی چې، ”لاړ شئ او په چوکونو کښې ودرېږئ او
ګورئ. د پخوانو او هغه لارو تپوس وکړئ کومې چې د خیر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

طرف ته ځی. په دې لاره باندې تلل به تاسو ته خير درکړی.
خو تاسو ووئيل، "نه، مونږ به په دې باندې نۀ ځُو." ۱۷ بيا
ما په تاسو باندې محافظان مقرر کړل چا چې به تاسو ته
وئيل، د بيګل آواز ته غوږ ونيسئ. خو تاسو ووئيل چې، نه
مونږ به ورته توجو نۀ ورکوو. ۱۸ نو د دې دپاره تاسو
واورئ اے قومونو، او سوچ وکړئ، اے ګواهانو چې دوئ
سره به څۀ کيږی. ۱۹ اے د دُنيا قومونو غوږ شئ، زۀ په دې
خلقو افت راولم، کوم چې د دوئ د خپلو منصوبو ميوه ده،
ځکه چې دوئ زما کلام ته توجو ورنۀ کړه او زما شريعت يې
رد کړو. ۲۰ نو بيا يې څۀ فائده ده چې دوئ د شيبا نه ما ته
عطر راوړی دی، او يا د لرې مُلکونه نه قيمتی خوشبودارې
مصالحې راوړی دی. زۀ به ستاسو سوزېدونکې نذرانې نۀ
قبلوم. ستاسو په قربانو زۀ نۀ خوشحالېږم. ۲۱ نو ځکه
مالِک خُدائ فرمائی، زۀ به د دې خلقو په لارو کښې د ټيندک
خوړلو کاڼے ولګوم چې دوئ پرې ټيندک وخوری او
راپرېوځی. ترخو پلار او زامن او ګاونډيان او دوستان پرې په
شريکه راپرېوځی او هلاک شی."

## د شمال د خوا نه حمله

۲۲ مالِک خُدائ فرمائی، "د شمال د مُلک د خوا نه فوج
راروان دے، او ستاسو خلاف يو لوئ او تکړه قوم د لرې نه
د جنګ کولو په نيت راپاڅېدلے دے. ۲۳ هغوئ په ليندو او
نېزو سره سمبال دی، هغوئ ټول ظالمان او بې‌رحمه دی.
ټول جنګيالی يې په آسونو سوارۀ او په جنګی صف بندئ
کښې راروان دی او د هغوئ شور لکه د غضبناک سمندر په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شان دے او په تا، صیون لورې، د حملې کولو دپاره تیار
دی.“ ۲۴ ”کله چې مونږ د دوئ په حقله واورېدل، نو زمونږ
لاسونو همت پرېښودلو او په لړزېدو شول. لکه څنګه چې
یوې ښځې ته د لنګون درد شروع شی دغه شان درد، یرې او
وحشت راواخستلو. ۲۵ بهر مېدان ته مهٔ ځئ، او په کوڅو
کښې مهٔ ګرځئ، ځکه چې زمونږ دشمن تُوره په لاس دے، او
هرې خوا ته خوف خور شوے دے.“ ۲۶ مالِک خُدائ خپلو
خلقو ته فرمائی، ”اے زما غوره شوی قومه، د ټاټ جامې
واغوندئ او په ایرو کښې ولوغړېږئ. داسې بد بد ویر وکړئ
لکه څوک یې چې په یک یو زوئ باندې کوی،“ ځکه چې تباه
کوونکی به په مونږ ناګهانه حمله وکړی.

## یرمیاه قوم آزمائی

۲۷ ”اے یرمیاه، ما تهٔ د اوسپنې آزمائیونکے جوړ کړې او
خپل قوم نه مې اوسپنه جوړه کړه. تهٔ زما غوره شوے قوم
وآزمایه ترڅو د دوئ د عمل درته پته ولګی. ۲۸ هغوئ ټول
سخت سرکشه شوی دی، او بدرد وائی او زړونه یې لکه د
اوسپنې او پیتلو په شان سخت دی، او دوئ ټول بےایمانی
کوی. ۲۹ د بټۍ لاندې خو سخت اور بلیږی چې سیکه د
سپینو زرو نه جدا کړی خو هغې زما قوم پاک نهٔ کړو او
بدعمله خلق ترې جدا نهٔ شول. ۳۰ هغوئ ته رد شوی سپین
زر وئیلے شی، ځکه ما، مالِک خُدائ هغوئ رد کړی دی.“

## د خُدائ پاک په کور کښې د حضرت یرمیاه تبلیغ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ ۱ مالِک خُدائ یرمیاه له پېغام ورکړو، ۲ ”د مالِک
خُدائ د کور د دروازې سره ودرېږه او خلقو ته اعلان وکړه
چې، اے د یهوداه ټولو اوسېدونکو او هغه کسانو چې په دې
لارو د مالِک خُدائ کور ته د عبادت دپاره دننه کيږئ، د
مالِک خُدائ کلام واورئ. ۳ مالِک خُدائ ربُ الافواج چې
د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک دے فرمائی چې د خپل چال چلن
او سلوک اصلاح وکړئ، نو بیا به زهٔ تاسو ته په دې زمکه د
اوسېدو دپاره موقع درکړم. ۴ د هغوئ په دروغژنو خبرو
مهٔ دوکه کېږئ چې وائی، ”مونږ دلته په امن کښې یُو ځکه
چې دا د خُدائ پاک کور، د خُدائ پاک کور، د خُدائ پاک
کور دے.“ ۵ کهٔ چرې په رښتیا سره تاسو خپل چال چلن
او د ژوند طریقې بدلې کړئ، او په اِنصاف سره د یو بل سره
معامله وکړئ، ۶ او چې نه تاسو په مسافر، یتیم او کونډه
باندې ظلم وکړئ، او په دې ځائ کښې د بېګناه وینه تویه نهٔ
کړئ، او د پردو معبودانو عبادت نه لاس په سر شئ او په دې
خپل ځان ته نقصان مهٔ رسوئ، ۷ نو بیا به زهٔ تاسو په هم
دې مُلک کښې د اوسېدو دپاره پرېږدم کوم چې ما ستاسو
پلار نیکهٔ له د تل دپاره په میراث کښې ورکړے وو. ۸ خو
ګورئ تاسو په دروغژنو خبرو باندې یقین ساتئ کومې چې
بېفائدې دی. ۹ تاسو غلا، قتل او زنا کوئ او د دروغو
قسمونه خورئ، او د بعل بُت ته د خوشبویۍ نذرانې پېش
کوئ، او د هغه غېرو معبودانو عبادت کوئ چې تاسو د
مخکښې نه نهٔ دی پېژندلی. ۱۰ او د دې نه وروستو هغه کور
ته هم راځئ کوم چې زما په نامه یادېږی او زما په حضور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې ودرېږئ او وايئ چې، ”مونږ په حفاظت کښې يُو،“ خو
دوياره بيا خپلو ټولو حرامو کارونو پسې ګرځئ څۀ؟ ۱۱
مالِک خُدائ فرمائی چې، ولې په کوم کور چې زما نامه
ليکلے شوې ده د دې نه د ډاکوانو د پټېدو ځائ جوړ شوے
دے څۀ؟ خبردار. څۀ چې تاسو کوئ زۀ دا هر څۀ ګورم.
۱۲ تاسو د سيلا ښار ته لاړ شئ، په کوم ځائ کښې چې ما
خپله وړومبی عبادتخانه جوړه کړې وه، نو هلته به درته دا پته
ولګی چې ما خپل قوم بنی اِسرائيل سره د دوئ د شرارت په
وجه هغه ښار سره څۀ کړی دی. ۱۳ مالِک خُدائ فرمائی
چې، هرکله چې تاسو دا د شرارت کارونه کول، ما تاسو ته
بار بار د دوئ په حقله وينا وکړه، خو تاسو زما وينا ته غوږ
ونۀ نيولو. ما تاسو ته آواز درکړو خو تاسو جواب رانۀ کړو.
۱۴ نو بيا چې ما کوم افت په سيلا ښار نازل کړے دے نو
زۀ به هم هغه افت په دې عبادتخانې چې زما نوم پرې ليکلے
شوے دے، او په دې عبادتخانه چې تاسو پرې يقين کوئ، او
په دې ځائ چې ما ستاسو پلار نيکۀ او تاسو له درکړے دے
نازل کړم. ۱۵ زۀ به تاسو د خپل حضور نه داسې وشړم
لکه څنګه چې ما ستاسو خپلوان د اِفرائيم خلق شړلی وُو.“

## د خلقو سرکشی

۱۶ مالِک خُدائ وفرمائيل، ”اے يرمياه، دې قوم ته نوره
دُعا مۀ کوه. او د هغوئ دپاره ما ته سوال او فرياد مۀ کوه،
ما ته د هغوئ سره د مدد کولو سفارش مۀ کوه، ځکه چې زۀ
به ستا خبره نۀ اورم. ۱۷ ولې تۀ هغه څۀ نۀ وينې چې کوم
هغوئ د يهوداه په ښارونو کښې او د يروشلم په کوڅو کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوی؟ ۱۸ ماشومان خشاک راغونډوی، پلاران اور بلوی او
ښځې اوړهٔ اغږی او ترې نه پېړې جوړوی چې د آسمانې
مَلِکې په نامه بُت ته ترې نازکې روټۍ پخې کړی. او هغوئ
نورو معبودانو ته د څښلو نذرانې وړاندې کوی، او په خپل دې
عمل ما غصه کوی. ۱۹ آیا هغوئ په خپل دې عمل سره ما
ته نقصان رسوی څۀ؟ خو هغوئ خپل ځان ته نقصان رسوی
او په خپل دې عمل سره خپل ځانونه شرموی. ۲۰ نو په دې
وجه قادر مطلق خُدائ فرمائی، زما د قهر او غصې اور به د
دې ځائ په انسانانو، څناورو، او د مېدان په ونو او د زمکې
په فصلونو نازل کړم. او هر څۀ به وسوزی او څوک به هم دا
اور نهٔ شی مړ کولے.“ ۲۱ ربُ الافواج مالِک خُدائ د بنی
اِسرائیلو خُدائ پاک داسې فرمائی، ”خپلې سوزېدونکې
نذرانې او نورې قربانۍ واخلئ او په خپله یې غوښې وخورئ.
۲۲ ځکه کله چې ما ستاسو پلار نیکهٔ د مِصر نه بهر
راوویستل او هغوئ سره مې خبرې وکړې او خپل حُکمونه
مې دوئ له ورکړل، نو ما هغوئ له د سوزېدونکو نذرانو او د
قربانۍ په حقله حُکم نهٔ وو ورکړے. ۲۳ خو ما هغوئ له دا
حُکم ورکړو، چې زما تابعداری کوئ، نو زهٔ به ستاسو خُدائ
پاک یم او تاسو به زما خلق یئ. او د کومو لارو چې زهٔ درته
د تلو حکم کوم په هغې تلل کوئ. نو په دې کښې به ستا خیر
وی. ۲۴ خو هغوئ زما دا حکم ونهٔ منلو او زما کلام ته یې
غوږ ونهٔ نیولو، بلکې د خپل سرکشه زړهٔ خواهشونه یې ومنل
نو په دې باندې هغوئ د ښهٔ کېدو په ځائ نور هم خراب
شول. ۲۵ د کومې ورځې نه چې ستاسو پلار نیکهٔ د مِصر نه
بهر راووتل تر اوسه پورې، ورځ په ورځ، وخت په وخت، ما
خپل خِدمت کوونکی پیغمبران تاسو له درولېږل. ۲۶ خو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ زما خبرو ته غوږ ونهٔ نيولو او نهٔ يې توجو ورکړه. او
هغوئ سرکشه وُو تر دې چې د خپل پلار نيکهٔ نه يې هم زيات
بدکارونه وکړل. ۲۷ نو اے يرمياه، کله چې تهٔ دوئ ته دا هر
څهٔ ووائې دوئ به تا ته غوږ ونهٔ نيسى، او کله چې تهٔ دوئ ته
آواز ورکړې دوئ به تا له جواب نهٔ درکوى. ۲۸ نو دوئ ته
ووايه، دا هغه قوم دے چې د مالِک خُدائ تابعدارى يې ونهٔ
کړله او اصلاح يې قبوله نهٔ کړله. رښتينوالے د دوئ نه تلے
دے، او هغه نور د دوئ د خُلو نه نهٔ اورېدلے کيږى.“

## د بنى‌هنوم په وادۍ کښې ګناه

۲۹ ”خپل ويښتهٔ د وير دپاره کل کړئ او لرې يې وغورزوئ.
په اوچتو خُشکو غرونو د وير او ماتم سندرې ووايئ، ځکه
چې مالِک خُدائ هغوئ رد کړل او دا نسل يې خپل قهر او
غضب ته پرېښودلو. ۳۰ مالِک خُدائ فرمائى چې د يهوداه
خلقو زما د سترګو د وړاندې ګنده کارونه کړى دى، هغوئ
زما په کور کښې خپل پليت بُتان اېښى دى په کومو چې زما
نوم ليکلے دے او هغه يې ناپاکه کړے دے. ۳۱ او ورسره
ورسره هغوئ د بنى‌هنوم په وادۍ کښې د توفت په نوم
علاقائى عبادتخانې جوړې کړې چې هلته خپل زامن او لوڼه
په اور کښې وسوزوى او قربانى يې کړى چې نهٔ ورته ما حکم
کړے وو او نهٔ مې په خيال خاطر کښې تېر شوى وُو. ۳۲
خو خبردار، يو وخت داسې راروان دے چې دې ځائ ته به
نور د توفت يا د بنى‌هنوم وادى نهٔ وائى بلکې خلق به ورته د
قتل و غارت وادى وائى. ځکه چې هلته به دومره ډېر لاشونه
ښخ کړے شى چې نور به د ښخولو دپاره ځائ نهٔ وى. ۳۳

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو د هغوئ لاشونه به د هوا مارغانو او د ځنګلی ځناورو
خوراک شی او داسې څوک به ژوندی نۀ وی چې دا ترې نه
وشړی. ۳۴ زۀ به د یهوداه په ښارونو او د یروشلم په کوڅو
کښې د خندا خوشحالۍ آوازونه ختم کړم. د ناوې او زلمی
آوازونه به نور په دې ښارونو کښې نۀ اورېدلے کیږی. ځکه
چې دا مُلک به وران ویجاړ وی.“

۸ ۱ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”په هغه وخت کښې به
دشمن د بادشاهانو او د یهوداه د آفسرانو، د اِمامانو او د
پېغمبرانو او د یروشلم د نورو خلقو هډُوکی د قبرونو نه بهر
راوباسی، ۲ او د زمکې په مخ به یې خوارۀ وارۀ کړی او
هلته به د هغه چا په وړاندې یعنې د نمر، سپوږمۍ او ستورو
مخې ته پراتۀ وی د چا چې هغوئ عبادت کولو، ځکه چې
هغوئ د دې څیزونو خِدمت کولو، او دې پسې روان وُو، او
دې ته یې سجده کوله. د هغوئ هډُوکی به دوباره په خپلو
کښې رایوځائ نۀ شی او نۀ به ښخ کړے شی بلکې د ډیران په
شان به پراتۀ وی. ۳ او هر چرته چې د دې بدعمله قوم
ژوندی کسان کوم چې ما خوارۀ وارۀ کړی دی اوسیږی، نو
هغوئ به د ژوند نه په مرګ باندې خوشحاله وی.“ مالِک
خُدائ ربُ الافواج خُدائ دا وفرمائیل.

## ګناه او سزا

۴ ”هغوئ ته ووایه چې مالِک خُدائ داسې فرمائی، هرکله
چې څوک راپرېوځی، نو هغوئ بیا نۀ راپاځی څۀ؟ هرکله چې
یو سړے په غلطه لار روان شی آیا هغه به بیا راواپس نۀ شی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څۀ؟ ۵ نو بیا د یروشلم خلق د صحیح لارې نه ولې
اوړېدلی دی؟ دوئ په دروغو او دوکه مارۍ کښې خپل ځان
انغښتے دے او ما ته د واپس راتلو نه اِنکار کوی. ۶ ما
هغوئ ته په غور سره غوږ ونیولو خو هغوئ حقیقت نۀ وئیلو.
او څوک هم په خپلو بدو کارونو باندې توبه گار نۀ وُو او چا
هم دا نۀ وئیل چې، ”دا مې کوم غلط کار وکړو؟“ لکه څنګه
چې آس د جنګ مېدان ته په منډه روان وی دغه شان دوئ
هم هر یو په خپلو غلطو لارو په تېزۍ سره روان دی. ۷ تر
دې چې مختلف مارغان لکه ډینګان، ګوګوشتکې،
طوطاګرکی او زانې هم په دې پوهېږی چې اوس موسم بدل
شو او راواپس کېږی. خو زما غوره شوے قوم زما د قانون
نه ناخبره دے. ۸ تاسو څنګه دا وایئ چې، مونږ ټول
هوښیاران یُو ځکه چې مونږ سره د مالِک خُدائ شریعت
موجود دے؟ او حال دا چې د شریعت عالمانو په خپلو
دروغو سره اصلی شریعت بدل کړے دے. ۹ ګورئ دغه
هوښیاران به وشرمېږی او په خپل کم عقلتوب کښې به راګېر
شی. ځکه چې هغوئ د مالِک خُدائ کلام رد کړو نو بیا د
دوئ هوښیارتیا چرته لاړه؟ ۱۰ نو په دې وجه به زۀ د هغوئ
ښځې پردو سړو ته حواله کړم او زمکه او جائیداد به یې هم
نورو خلقو له ورکړم. ځکه چې د ماشومانو نه واخله تر
بوډاګانو پورې هر یو د ناجائزه ګټې په لالچ کښې دی، د
پېغمبر نه واخله تر اِمام پورې ټول دوکه ماران دی. ۱۱
هغوئ زما د خلقو د سختو زخمونو عرضی علاج کوی. او
کله چې خیر نۀ وی نو هغوئ وائی چې، خیر دے، خیر به
شی. ۱۲ آیا هغوئ په خپل دې پلیت عمل شرمېدل څۀ؟ نه،
هغوئ بلکل شرم نۀ لرلو، هغوئ په دې هم نۀ پوهېږی چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شرم څۀ ته وائی. دوئ به د تباه شوو په مينځ کښې حساب
شی. زۀ به دوئ هم ختم کړم کله چې زۀ هغوئ له سزا
ورکوم،“ مالِک خُدائ فرمائی. ۱۳ ”زۀ به د دوئ پوره فصل
تباه کړم. د انګورو په بوټی کښې به يوه دانه هم پاتې نۀ شی،
او نۀ به اينځر د اينځر په ونه کښې وليدلے شی، د دوئ پاڼې
به اوچې شی. او هر څۀ چې ما دوئ له ورکړی دی هغه به
ترې نه واپس واخلم. ۱۴ نو بيا به دوئ وائی چې مونږ ولې
دلته په آرام سره ناست يُو؟ راځئ چې قلعه بند ښارونو ته
وتښتو چې هلته کښې مړۀ شُو، ځکه چې مالِک خُدائ زمونږ
خُدائ دا تباهی راباندې راوستې ده او د زهرو ډک جام يې
مونږ ته څښلو دپاره راکړے دے. ځکه چې مونږ د مالِک
خُدائ خلاف ګناه کړې ده. ۱۵ مونږ د امن په طمع وُو، خو
مونږ هيڅ خير ونۀ ليدلو. مونږ د شفا حاصلولو اُميد کولو،
بلکې د هغې په ځائ په مونږ يره راغله. ۱۶ واورئ. زمونږ د
دشمن د آسونو شنهېدل د دان د ښار نه اورېدلے کيږی. او د
هغوئ د آسونو د هنېدلو نه ټوله زمکه په لړزېدو ده. هغوئ د
دې دپاره راغلی دی چې دا مُلک او هر څۀ چې په کښې دی
تباه کړی، ښارونه او هر څوک چې په کښې اوسيږی تبر
کړی.“ ۱۷ مالِک خُدائ فرمائی، ”زۀ به ستاسو خلاف
زهريله ماران درولېږم چې هيڅ قسم منتر به په هغې اثر نۀ
کوی او هغه به تاسو وچيچی.“

## په خپلو خلقو د يرمياه خفګان

۱۸ نو بيا ما ووئيل چې خوشحالی زما نه لاړه او زما د
خفګان علاج نشته، او دننه زړۀ مې بېهوشه دے. ۱۹ زما د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلقو ژړا ته غوږ ونیسئ چې په ټول مُلک کښې اورېدلے
کيږی، هغوئ تپوس کوی وائی چې، ”آیا مالِک خُدائ صيون
پرېښودے دے څۀ؟ آیا د هغوئ بادشاه نور دلته کښې نشته
څۀ؟“ مالِک خُدائ ورته په جواب کښې فرمائی چې، ”تاسو
ولې د هسې فضول او پردو بُتانو په عبادت زما قهر او غضب
راوپارولو؟“ ۲۰ خلق چغې سورې وهی او ژاړی چې،
”اوړے تېر شو، فصل لو شو، خو مونږ لا بچ نۀ یُو.“ ۲۱ زۀ
د خپلو خلقو د دردونو سره دردمند شوم. او په پرېشانئ
کښې راګېر شوم. ۲۲ آیا په جِلعاد کښې مرهم نشته؟ آیا هلته
طبيبان نشته څۀ؟ نو بيا ولې زما د قوم د زخمونو دپاره شفا
نشته څۀ؟

۹ ۱ ”کاش چې زما سر د اوبو چينه وے، او زما سترګې
د اوښکو چينې وے، ترڅو چې ما شپه او ورځ د خپلو خلقو
په قتلولو ژړا انګولا کولے. ۲ کاش چې په صحرا کښې
زما يو سرائ وے، چرته چې ما خپل خلق پرېښودی وے او
هلته د دوئ نه لرې اوسېدلم. ځکه چې دوئ ټول د خُدائ
پاک سره بې‌وفائی کوی، او د بې‌ايمانانو يوه ډله ده.“ ۳
مالِک خُدائ فرمائی، ”هغوئ د خپلو ژبو نه ليندې جوړې
کړې دی او د دروغو غشی هر وخت ورَوی. د دې مُلک په
ديانتدارئ کښې صداقت نشته، هغوئ د يوې ګناه دپاسه بله
ګناه کوی، هغوئ ما نۀ پېژنی. ۴ تاسو هر يو په خپل
دوست نظر ساتئ او په خپل ورور هم اعتبار مۀ کوئ. ځکه
چې هر يو ورور ستاسو دوکه مار دے، او هر يو دوست
غيبت کوونکے دے. ۵ هر يو دوست بل دوست سره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوکه کوی، او یو هم رښتیا خبره نۀ کوی، هغوئ خپلو ژبو ته
د دروغو وئیلو تعلیم ورکړے دے، او په ګناه کولو سره خپل
ځان ستړے کوی.“ ٦ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”تاسو د
دوکه مارانو او د دروغژنو په مینځ کښې اوسېږئ، او د خپلو
دوکه کولو په وجه دوئ نۀ غواړی چې ما وپېژنی.“ ٧ نو په
دې وجه مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی، ”زۀ به دوئ لکه د
کچه سپینو زرو په شان د اور بټۍ کښې واچوم، صفا به یې
کړم او ویه یې آزمایمه، زۀ نور د دې ګناه ګار قوم سره څۀ
وکړم؟ ٨ د هغوئ ژبې لکه د زهریله غشو په شان دی، او
هغوئ همېشه دروغ وائی. او هغوئ په خولۀ د خپل ګاونډی
سره خوږه لهجه کوی، خو په حقیقت کښې د هغوئ دپاره
بدې منصوبې جوړوی.“ ٩ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”آیا
زۀ دوئ ته د دې بدو کارونو سزا ورنۀ کړم څۀ؟ آیا د داسې
قوم نه بدله خپله وانۀ خلم څۀ؟ ١٠ زۀ به د غرونو دپاره ژړا
وکړم، او د بیابان د څرن په ځایونو به د غم سندرې ووایم.
ځکه چې څوک هم په هغې تګ راتګ نۀ کوی، او ټول
شینکے سوزېدلے او اوچ شوے دے او د رمو آوازونه په
کښې نۀ اورېدلے کېږی. د هوا مارغان او ځنګلی ځناور ټول
ترې نه تښتېدلی دی.“ ١١ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”زۀ به د
یروشلم نه د خاورو ډېرے، او د ګیدړانو غار جوړ کړم. او د
یهوداه ښارونه به وران او خاموشه کړم، نو هیڅوک به هلته
کښې نۀ اوسېږی. ١٢ نو بیا به څوک دومره هوښیار وی
چې په دې ټوله موضوع پوهه شی؟ چا ته د مالِک خُدائ نه
دومره هدایت مِلاو شوے دے چې دا بیان کړی چې دا مُلک
ولې وران شوے دے؟ دا ولې په ریګستان بدل شوے دے،
او دومره ولې وران او خراب شوے دے چې هیڅوک هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرې تېرېدلے نۀ شی؟“ ۱۳ مالِک خُدائ وفرمائيل چې، ”دا
ځکه چې هغوئ زما شريعت هېر کړو کوم تعليم چې ما
هغوئ ته وړاندې کړے وو، نۀ هغوئ زما کلام ومنلو او نۀ يې
د هغې پيروی وکړه، ۱۴ بلکې د دې په ځائ هغوئ د خپل
سرکشه زړونو پيروی وکړه، او هغوئ د بعل د بُت پيروی
وکړه لکه څنګه چې د هغوئ پلار نيکۀ ورته د عبادت کولو
تعليم ورکړے وو. ۱۵ نو ځکه، مالِک خُدائ ربُ الافواج د
بنی اِسرائيلو خُدائ پاک فرمائی چې، ګورئ، زۀ به هغوئ ته
د خوړلو دپاره ګنډير ورکړم او د څښلو دپاره به زهريله اوبۀ
ورکړم. ۱۶ زۀ به هغوئ په داسې قومونو کښې خوارۀ وارۀ
کړم چې نۀ به يې دوئ او نۀ به يې د دوئ پلار نيکۀ پېژنی، او
زۀ به په دوئ جنګ راولم ترڅو چې يې هلاک کړی نۀ وی.“

## د مدد دپاره د يروشلم د خلقو فرياد کول

۱۷ مالِک خُدائ ربُ الافواج دا فرمائی چې، ”هغه څۀ چې
کېدونکی دی په هغې غور وکړئ. سندرې ويونکې او ماتم
کوونکې ښځې راوغواړئ چې راشی، او هغه ښځې راوغواړئ
چې په مړی په ژړا کولو کښې ماهرې دی. ۱۸ لاړ شئ او
هغوئ زر راولئ چې په مونږ باندې دومره ژړا او سندرې
ووائی ترڅو زمونږ سترګې د اوښکو نه ډکې شی، او زمونږ د
بڼو نه اوښکې روانې شی.“ ۱۹ د صيون نه د ژړا آوازونه
اورېدلے کېږی چې وائی، ”وای، وای، مونږه څنګه تباه شُو
او په شرمونو وشرمېدو. مونږ مُلک پرېښودو ته مجبوره
شوی يُو، ځکه چې زمونږ کورونه تباه شوی دی.“ ۲۰ اے
ښځُو، د مالِک خُدائ کلام ته غوږ ونيسئ، او د هغۀ د خولې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هرې خبرې ته غوږ ونيسئ. خپلو لوڼو ته د سندرو او ماتم
کولو تعليم ورکړئ، او يو بل ته په خپلو کښې د ماتم کولو
تعليم ورکړئ. ۲۱ ځکه چې مرګ زمونږ کور ته په کړکو
راننوتے دے او زمونږ قلعو ته رادننه شوے دے، هغه اوس
ماشومان د کوڅو نه او ځوانان د بازارونو او چوکونو نه
راټولوى او تېروى. ۲۲ مالِک خُدائ فرمائى، "خلقو ته ووايه
چې د مړو لاشونه به په پټو کښې لکه د ډېران د سرې پراتۀ
وى، او لکه د غنمو وږې په شان د لَوګرى شا ته اخوا ديخوا
پراتۀ وى دغه شان به مړى هرې خوا ته پراتۀ وى او د
راټولولو به يې څوک نۀ وى." ۲۳ مالِک خُدائ فرمائى،
"هوښيار دې په خپله هوښيارتيا فخر ونۀ کړى، نۀ دې زورَور
په خپل زور باندې او نۀ دې دولتمند په خپل دولت باندې فخر
وکړى." ۲۴ مالِک خُدائ فرمائى چې، "کۀ څوک فخر کول
غواړى نو هغه دې په دې خبره فخر وکړى چې دوئ ما پېژنى
او په دې پوهېږى چې زۀ هغه مالِک خُدائ يم چې په زمکه
باندې نۀ ختمېدونکې مينه، عدل و اِنصاف او صداقت راولم.
ځکه چې په دې څيزونو کښې زما خوشحالى ده." ۲۵ مالِک
خُدائ فرمائى، "هغه ورځې راروانې دى چې، زۀ به ټولو هغه
خلقو ته سزا ورکړم څوک چې صرف جسمانى سنت شوى
دى. ۲۶ زۀ به مِصر، ادوم، عمون، موآب او هغوئ ته څوک
چې په دشتو او ميرو کښې اوسېږى سزا ورکړم، او ورسره
به بنى اِسرائيل ته هم سزا ورکړم. ځکه چې د ټولو بُت پرستو
قومونو په شان، د دوئ زړونه هم مالِک خُدائ ته وقف نۀ
دى."

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# بُت پرستی او صحیح عبادت

۱۰ ۱ اے بنی اِسرائیلو، د مالِک خُدائ پېغام ته غوږ
ونیسئ. ۲ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”د نورو قومونو په
طریقو تلل مۀ کوئ، او د هغوئ په شان په آسمان کښې د
ستورو د ګردش او نښو نښانو نه مۀ یرېږئ تر دې چې هغوئ
په خپله یرېږی. ۳ ځکه چې د نورو قومونو رِواج فضول
دے، هغوئ د ځنګل نه ونه راووهی، او بیا کاریګر ترې نه په
خپله په ترښځ بُت جوړوی. ۴ او وروستو هغه په سرو او
سپینو زرو باندې ښائسته کړی او بیا دوئ په څټک او مېخ
سره دا بُت په یو ځائ کښې ټک وهی چې راونۀ غورزیږی.
۵ د هغوئ بُتان داسې دی لکه د بادرنګو په پټی کښې چې
ګوډاګے د مارغانو د شړلو دپاره ودرولے شوے وی، کوم
چې نۀ خبرې کولے شی، او نۀ هغه په خپله ګرځېدے شی،
په کار دے چې نور خلق دا اوچت کړی. د هغوئ نه مۀ
یرېږه، دوئ تا ته ضرر نۀ شی در رسولے او نۀ څۀ فائده
درکولے شی.“ ۶ اے مالِکه خُدایه، ستا په شان بل هیڅ
څوک هم نشته، تۀ لوئ یې، او تۀ زورَور یې. ۷ اے د
قومونو بادشاه، څوک به ستا نه نۀ یرېږی؟ تۀ د ثناء او صِفت
لائق یې. د دُنیا په ټولو هوښیارو خلقو او بادشاهتونو کښې بل
څوک ستا په شان نشته. ۸ هغوئ ټول کم عقل او بېوقوفه
دی، ځکه هغوئ چې د څۀ عبادت کوی هغه د لرګی نه جوړ
شوی دی. ۹ هغوئ د ترسیس نه د سپینو زرو تختې او د
اوفاز نه سرۀ زر راوړی. کله چې زرګر ترې نه بُت جوړ کړی
نو بیا درزیان ورته آسمانی او کاسنی کپړې تیاروی او هغۀ ته
یې وراغوندی. ۱۰ بلکې مالِک خُدائ رښتونے خُدائ پاک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے. هغه ژوندے خُدائ پاک او ابدى بادشاه دے. د هغهٔ د
قهر و غضب نه ټوله دُنيا لړزيږى، قومونه د هغهٔ غضب ته
ټينګيدے نهٔ شى. ١١ هغه خلقو ته ځوک چې د نورو
معبودانو عبادت کوى دا ووايه چې، ”هغه تش په نامه
معبودانو چې زمکه او آسمانونه يې نهٔ دى جوړ کړى، هغه به
د زمکې د مخ نه او د آسمان د لاندې نه بلکل ختم شى.“ ١٢
خو مالِک خُدائ په خپل قدرت سره زمکه جوړه کړه. او په
خپل حکمت سره يې دُنيا قائمه کړه. او په خپل عقل يې
آسمانونه خوارهٔ کړل. ١٣ کله چې هغه بريښنا ته حُکم
وکړى نو په آسمان کښې وريځې په غرار شى، هغه وريځې د
زمکې د يو سر نه تر بل سره پورې خوروى. هغه بريښنا د
باران سره راليږى او د خپلو ذخيرو نه هوا رالوځوى. ١٤ د
انسان ټول نسلونه بېعقله او بېعلمه دى، هغه کاريګر چې
بُتان جوړوى دوئ به د دې بُتانو په وجه وشرميږى، ځکه چې
د دوئ بُتان هم دوکه ده او ساه په کښې نشته. ١٥ دا بُتان
فضول او سپک څيز دے. د حساب کِتاب په ورځ به دا ټول
تباه شى. ١٦ خو د بنى اِسرائيلو خُدائ د بُت په شان نهٔ
دے. هغه د هر شى خالق دے، د بنى اِسرائيلو په شمول چې
د هغهٔ خپل خلق دى. او د هغهٔ نوم مالِک خُدائ ربُ الافواج
دے.

## راتلونکى تباهى

١٧ اے محاصره شوې ښارې. تاسو خپله کډه راوچته
کړئ، دشمنانو درنه ګيره اچولې ده. ١٨ ځکه مالِک خُدائ
داسې فرمائى چې، ”ناګهانه به دا ځل د دې مُلک اوسيدونکى

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بهر وغورزوم. زۀ به په تاسو لوئ مصيبت نازل کړم، او په
آخر کښې به تاسو ته زما د غصې پته ولګی.“ ١٩ وای وای،
تباه شوم، زما زخمونه سخت دی، زما بيماری د رغېدو نه
بهر ده، چې ضرور دا برداشت کړم. ٢٠ بلکې زمونږ خېمې
تباه شوې دی او پړی يې شلېدلی دی، زما ماشومان ما نه
اخستے شوی دی. يو هم نۀ دے پاتې شوے، ټول بوتلے
شوی دی زۀ به يې دوباره ونۀ وينم. ٢١ زما د قوم شپونکی
بې‌شعوره او بې‌عقله شوی دی. دوئ نور د مالِک خُدائ سره
مشوره نۀ کوی. نو په دې وجه دوئ پوره ناکامیابه شوی دی،
او د دوئ ټولې رمې دانه وانه شوې دی. ٢٢ غوږ ونيسئ، د
شمال د خوا نه د غټ لښکر د راتلو يرروونکے شور اورېدے
کيږی. د يهوداه ښارونه به تباه او برباد شی او د ګيدړانو غار
به ترې نه جوړ شی.

## د يرمياه دُعا

٢٣ اے مالِکه خُدايه، زۀ په دې پوهېږم چې د انسان د
ژوندون اختيار د دۀ په خپل لاس کښې نۀ دے. او نۀ هغه په
خپلې مرضۍ سره د خپل ژوند لار مقررولے شی. ٢٤ اے
مالِکه خُدايه، په نرمۍ سره زما اصلاح وکړه، او په خپل قهر
او غضب کښې دې زما اصلاح مۀ کوه ګنې زۀ به د دُنيا نه
ورک شم. ٢٥ ځوک چې تا نۀ پېژنی خپل قهر و غضب دې
په هغه خلقو نازل کړه، او په هغه چا ځوک چې ستا نوم په
خوله نۀ اخلی، ځکه چې ستا قوم بنی اِسرائيل يې وژلی دی،
او هغوئ دوئ لواړ تېر کړی او تباه کړی يې دی، او مُلک يې
ورله وران ويجاړ کړے دے.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## یهوداه لوظ ماتوی

۱۱ ۱ مالِک خُدائ یرمیاه ته دا پېغام ورکړو چې، ۲
”تاسو د دې لوظ شرطونو ته غوږ ونیسئ او هغه د یروشلم او
یهوداه خلقو ته ووایه کوم چې ما تاسو سره کړے دے. ۳
هغوئ ته ووایه چې دا هغه موضوع ده چې مالِک خُدائ د
بنی اِسرائیلو خُدائ پاک فرمائی، لعنت دې وی په هر هغه چا
چې د دې لوظ د شرطونو پیروی نهٔ کوی. ۴ دا هغه لوظ
دے چې کله ما ستاسو پلار نیکهٔ سره په هغه وخت کښې
کړے دے کله چې ما هغوئ د مِصر نه بهر راوویستل د هغه
ځائ نه چې لکه د اور د بټۍ په شان وو. کهٔ چرې تاسو زما
د حکمونو پیروی وکړئ کوم چې ما تاسو له درکړی دی، نو
بیا به تاسو زما قوم یئ، او زهٔ به ستاسو خُدائ پاک یم. ۵
نو زهٔ به بیا خپل هغه لوظ پوره کړم کوم چې ما ستاسو د
پلار نیکهٔ سره کړے وو چې زهٔ به هغوئ له هغه زمکه ورکړم
چې په کښې د شهد او پئ ډېر تېر دی او په کوم کښې چې
تاسو نن اوسېږئ.“ نو بیا ما جواب ورکړو چې، ”آمین،
مالِکه خُدایه.“ ۶ بیا مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل، ”لاړ شه
او د یهوداه په ښارونو او د یروشلم په کوڅو کښې وګرځه.
هلته زما ټول پېغامونه هغوئ ته بیان کړه او خلقو ته ووایه
چې، د لوظ په شرطونو باندې غور وکړئ، او په هغهٔ باندې
عمل وکړئ. ۷ کله چې ما ستاسو پلار نیکهٔ د مِصر نه بهر
راویستل نو ما بار بار دوئ ته خبردارے ورکړو چې زما
تابعداری وکړئ او تر نن ورځ پورې لګیا یم او هم دا
خبردارے ورکوم. ۸ بلکې هغوئ نهٔ ما ته غوږ ونیولو او نهٔ
یې زما په خبرو غور وکړلو خو په ځائ د دې هغوئ هر یو د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل سرکشه زړهٔ د خواهشاتو په مطابق ژوند تېرولو. او زما
د لوظ د احکامو پیروی یې ونهٔ کړه، نو بیا ما هم په هغوئ
هغه ټول لعنتونه نازل کړل چې په لوظ کښې یې ذکر شوے
دے.“ ٩ نو دوباره بیا مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل چې، ”د
یهوداه او د یروشلم خلقو زما خِلاف سازش جوړ کړے دے.
١٠ هغوئ د خپل پلار نیکهٔ پخوانی د ګناهونو لارو ته رجوع
کړې ده، د هغوئ پلار نیکهٔ زما کلام ته غوږ نهٔ نیولو او د
نورو معبودانو پیروی او عبادت یې شروع کړو. دواړو
اِسرائیل او یهوداه هغه لوظ مات کړو کوم چې ما د دوئ پلار
نیکهٔ سره کړے وو. ١١ نو د دې دپاره زهٔ مالِک خُدائ دا
وایم چې، زهٔ به په دوئ هغه افتونه او مصیبتونه راولم چې
دوئ به ترې نه تښتېدلے نهٔ شی. کهٔ څهٔ هم چې دوئ ما ته د
مدد دپاره وژاړی او چغې ووهی، خو زهٔ به یې نهٔ اورم. ١٢
نو د یهوداه او د یروشلم خلق به معبودانو له لاړ شی او فریاد
به ورته وکړی، چا ته چې هغوئ خوشبوئ سوزولې. خو
هرکله چې افت په دوئ باندې راشی نو په هغه وخت کښې به
هغه بُتان دوئ بچ نهٔ کړی. ١٣ اے د یهوداه خلقو وګورئ
ستاسو د خپلو ښارونو په تعداد کښې معبودان دی، او د
یروشلم د کوڅو په تعداد کښې تاسو شرمناکې ډېرې
قربانګاه جوړې کړې دی، چې په کښې د بعل بُت دپاره د
خوشبو سوزولو قربانئ پېش کړئ. ١٤ اے یرمیاه، تهٔ د دې
خلقو دپاره نهٔ ما ته دُعا او نهٔ مِنت زاری وکړې، ځکه چې زهٔ
به دوئ ته په هغه وخت کښې چې کله په تکلیف کښې وی
غوږ نهٔ نیسم. ١٥ نو بیا تاسو زما کور ته د داخلېدو څهٔ حق
لرئ چې تاسو بد کارونه وکړل، اے زما محبوب قومه؟ آیا
ستاسو د نذرانې او د قربانئ مقدسې غوښې پېش کول به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو د تباهۍ نه بچ کړی څۀ؟ او په حقيقت کښې تاسو په
بدعملۍ کولو کښې خوشحاله يئ. ١۶ ما مالِک خُدائ به په
يو وخت کښې تاسو ته د زيتُونو د شنې او ښکلې ونې لقب
درکړے وو چې د ښو مېوو نه ډکې وې. خو د سخت او
زورَور طوفان په شور کښې به زۀ ستا په پاڼو اور بل کړم، او
ستا څانګې به ماتې کړم. ١٧ ما، مالِک خُدائ ربُ الافواج
اِسرائيل او يهوداه د ونې په شان کَرلی وُو، خو اوس مې په
تاسو د افت راوستلو فېصله وکړه. ځکه چې تاسو بدعملی
وکړه، او د بعل بُت ته د خوشبويۍ په سوزولو تاسو زما
غصه راوپاروله.“

## د يرمياه د قتلولو سازش

١٨ نو بيا مالِک خُدائ زۀ د هغوئ د بدو منصوبو نه خبر
کړم کومې چې دشمنانو زما خِلاف جوړې کړې وې. ١٩ زۀ
د هغه بېګناه ګډُورې په شان وم چې د حلالولو دپاره روان
کړے شوے وی او ما ته زما خِلاف د هغوئ د بدو منصوبو
عِلم نۀ وو. هغوئ وئيل، ”راځئ چې د مېوې هغه ډکه ونه
راوغورزوُو، راځئ چې هغه د ژوندو د دُنيا نه ختم کړُو چې
نور د هغۀ نوم د دُنيا نه د تل دپاره ورک شی.“ ٢٠ نو بيا ما
سوال وکړو چې، ”اے مالِکه خُدايه ربُ الافواجه. تۀ عادل او
اِنصاف کوونکے يې، تا ته د هغوئ د زړُونو او سوچونو پته
ده، زۀ غواړم چې تۀ زما بدله واخلې او هغه په خپله ووينم،
نو اوس ما خپله فېصله تا ته پرېښې ده.“ ٢١ مالِک خُدائ
فرمائی، ”د عنتوت خلق غواړی چې تا ووژنی. هغوئ وائی
چې تۀ د مالِک خُدائ په نوم نبوت مۀ کوه ګنې تا به مړ کړُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٢ نو مالِک خُدائ ربُ الافواج د دوئ په حقله فرمائی، زۀ
به هغوئ له سزا ورکړم. د هغوئ ځوانان به په جنګ کښې
ووژلے شی، او د هغوئ زامن او لوڼه به د قحط په وجه مړۀ
شی. ٢٣ د هغوئ نه به یو هم بچ پاتې نۀ شی ځکه چې زۀ به
د عنتوت په خلقو افت رانازل کړم. کله چې د هغوئ د سزا
وخت راورسيږی.“

## د حضرت يرمياه د مالِک خُدائ سره بحث کول

١٢ ١ اے مالِکه خُدايه، تۀ هميشه ما سره اِنصاف کوې
کله چې زۀ يوه مسئله ستا په حضور کښې وړاندې کړم. نو
ما ته د مقدمې کولو اجازت راکړه، نو دا بدکاران ولې دومره
ترقی کوی؟ او ولې ټول غداران دومره په آرام ژوند تيروی؟
٢ تا هغوئ کَرلی دی او دوئ جرړې کړې دی، دا لوئ شی
او ميوه ونيسی. تۀ هر وخت د هغوئ په خولۀ يې، خو د
هغوئ د زړونو نه لرې يې. ٣ خو اے مالِکه خُدايه، تۀ ما
پيژنې، او تۀ ما وينې او تۀ په ما آزميښت وکړه چې زۀ ستا
يم. دا بدعمله خلق داسې راکاږه لکه څنګه چې يو ګډ د
حلالولو دپاره راښکلے شی، او د حلالولو پورې يې يوې خوا
ته وساته. ٤ دا زمکه به تر کومې پورې ماتم کوی او په پټو
کښې به يې ګياه اوچيږی؟ څوک چې په دې مُلک کښې
اوسيږی نو د هغوئ د بدعملۍ په وجه مارغان او څناور تباه
شوی دی، او هم په دې وجه خلق دا وائی چې، ”خُدائ به هم
حيران وی چې مونږ سره به څۀ کيږی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## يرمياه ته د مالِک خُدائ جواب

۵ مالِک خُدائ ورته وفرمائيل، ”اے يرمياه، کهٔ چرې تهٔ د
انسانانو سره په منډه وهلو دومره ستړے کېږې، نو تهٔ به د
آسونو سره څهٔ مقابله وکړې؟ کهٔ چرې تهٔ په يو هوار او
محفوظه مېدان کښې تيندکونه خورې او راغورزېږې، نو تهٔ به
د اُردن سره په ګڼ ځنګل کښې څهٔ کوې؟ ۶ تر دې چې
ستا وروڼه، او ستا د خپل خاندان خلق ستا مخالفت کوى.
هغوئ ستا خلاف شکايتونه کوى. په هغوئ باور مهٔ کوه، کهٔ
څهٔ هم چې هغوئ ستا ښهٔ وائى.“

## په خلقو د مالِک خُدائ د خفګان څرګندونه

۷ مالِک خُدائ فرمائى، ”ما خپل خلق پرېښودل، چې زما
خاص ميراث دے. ما ته ډېر ګران خلق مې د دشمنانو
لاسونو ته حواله کړل. ۸ زما غوره شوے قوم لکه د ځنګل
د زمرى په شان ما ته وغړمبېدو، نو په دې وجه زهٔ د هغوئ
نه نفرت کوم. ۹ آيا دا مُلک د ګيدړانو غار دے چې
ټپوسان پرې بره الوځى رالوځى. خو ځنګلى ځناور دې راشى
چې د هغوئ لاشونه وخورى. ۱۰ ډېرو حاکمانو زما د
انګورو باغونه برباد کړى دى، او هغوئ ټول بوټى د پښو
لاندې کړى دى او ښائست يې ورله ختم او په بيابان بدل
کړے دے. ۱۱ هغوئ د دې نه تش بيابان جوړ کړے دے او
ما د خپلو خلقو د ماتم ژړا اورېدلې ده، او زما د ټول مُلک نه
دشته بيابان جوړ شوے دے، او څوک يې هم پرواه نهٔ کوى.
۱۲ د بيابان په ټولو اوچتو او خُشکو غونډو د قتل و غارت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فوج لیدلے کیږی، ځکه چې د مالِک خُدائ تُوره به د یو سر
نه تر بل سره پورې هغوئ هلاک کړی. نو څوک به هم
محفوظ نهٔ وی. ۱۳ زما خلقو غنم وکَرل، خو تش ازغی یې
وریبل، هغوئ ډېر محنت وکړو خو هیڅ فائده یې حاصله نهٔ
کړه. ځکه د مالِک خُدائ د سختې غصې په وجه، هغوئ
صرف د رُسوائی او شرم فصل وریبلو.“

## د بنی اِسرائیلو ګاونډیانو ته د مالِک خُدائ پېغام

۱۴ مالِک خُدائ فرمائی، ”زهٔ به د بنی اِسرائیلو نه هغه ټول
شریره او بدکاره ګاونډیان د جرړې نه راوکاږم څوک چې د
هغوئ په زمکه قبضه کول غواړی، او زهٔ به یهوداه هم د بنی
اِسرائیلو د مینځ نه راوکاږم. ۱۵ خو کله چې زهٔ هغوئ
راویاسم، نو بیا به زهٔ په هغوئ باندې رحم وکړم، او زهٔ به
هغوئ هر یو قوم خپل میراث او خپل مُلک ته واپس راولم.
۱۶ او بیا کهٔ چرې دا قومونه په رښتیا سره زما د خلقو
طریقې زده کړی، او کهٔ هغوئ زما په نوم قسم خوړل زده
کړی او وائی چې په یقین سره مالِک خُدائ ژوندے دے، لکه
څنګه چې هغوئ یو وخت زما قوم ته د بعل د بُت په نوم قسم
خوړل ور زده کړی وُو، نو هغوئ به بیا زما د قوم په مینځ
کښې آباد شی. ۱۷ خو کهٔ چرې هر یو قوم زما خبرو ته
غوږ ونهٔ نیسی، نو بیا به زهٔ هغه قوم په مکمل توګه د بیخ نه
راوکاږم او نیست و نابود به یې کړم.“ دا د مالِک خُدائ وینا
ده.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د لټې د لنګ مثال

١٣ ١ مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل چې، ”لاړ شه او د
خپل ځان دپاره د کتان لنګ واخله او د ملا نه يې تاؤ کړه
خو چې په اوبو کښې درنه لوند نۀ شی.“ ٢ نو د مالِک
خُدائ د هدايت په مطابق ما لنګ واخستو او د ملا نه مې تاؤ
کړو. ٣ نو بيا په دويم ځل د مالِک خُدائ کلام په ما نازل
شو، ٤ ”کوم لنګ چې تا اخستے او تاؤ کړے دے اوس د
فرات سيند ته لاړ شه او هلته د ګټ په سورى کښې يې پټ
کړه.“ ٥ نو د مالِک خُدائ د هدايت په مطابق زۀ لاړم او
لنګ مې هلته پټ کړو. ٦ څۀ موده وروستو بيا مالِک
خُدائ ما ته وفرمائيل، ”د فرات سيند ته لاړ شه او هغه لنګ
بيا راواخله کوم چې ما درته فرمائيلى وُو چې هلته يې پټ
کړه.“ ٧ نو بيا زۀ لاړم او هغه ځائ نه مې راوويستو په
کوم ځائ کښې چې ما لنګ پټ کړے وو، خو ومې ليدو چې
دا بلکل سخا شوے وو او د هيڅ کار نۀ وو. ٨ نو د مالِک
خُدائ کلام بيا په ما نازل شو چې، ٩ ”لکه څنګه چې دا
لنګ سخا شوے دے دغه رنګ به زۀ د يهوداه او د يروشلم
لوئ غرور سخا کړم. ١٠ دې بدکاره خلقو چا چې زما د
کلام د اورېدو نه اِنکار وکړو، او د خپلو سرکشه زړونو يې
ومنل او د نورو معبودانو عبادت او خِدمت يې شروع کړو،
نو د هغوئ حالت به د دې سخا شوے لنګ په شان وى چې
د هيڅ کار نۀ وى. ١١ لکه څنګه چې لنګ د انسان د ملا نه
کلک تاو وى، نو دغه شان ما د اِسرائيل او د يهوداه خلق
خپل ځان سره وتړل چې دوئ زما د نوم د شُهرت، تعريف
او عزت باعث وى. خو هغوئ زما تابعدارى ونۀ کړه.“ دا د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ وينا ده.

## د ميو د چاټۍ مثال

١٢ نو هغوئ ته ووايه چې، مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو
خُدائ پاک فرمائی، ”ستا د ميو ټولې چاټۍ دې د ميو نه ډکې
شی. او بيا دوئ جواب ور کړو چې، بېشکه، هره يوه چاټۍ
به د ميو نه ډکه شی. ١٣ نو بيا تهٔ هغوئ ته ووايه چې، مالِک
خُدائ فرمائی زهٔ به د دې مُلک په ټولو خلقو او د داؤد په
نسل، په بادشاهانو، او اِمامانو، پېغمبرانو دومره مے وڅښم
چې ښهٔ نشه شی او په هر هغه چا چې په يروشلم کښې
اوسيږی. ١٤ نو بيا به زهٔ هغوئ په خپلو کښې سره
وجنګومه تر دې چې مور پلار او بچی به په خپلو کښې يو بل
زره زره کړی. او زهٔ به په هغوئ هيڅ قسم رحم او ترس ونهٔ
کړم. او هيڅ څيز به ما د هغوئ د تباه کولو نه منع نهٔ کړی.“
دا د مالِک خُدائ وينا ده.

## د غرور خِلاف د يرمياه خبردارے

١٥ په غور او احتياط سره واورئ او مغروره کيږئ مه.
ځکه چې مالِک خُدائ دا فرمائيلی دی. ١٦ د دې نه مخکښې
چې ډېر ناوخته شی مالِک خُدائ، خپل خُدائ پاک ته جلال
ورکړئ. او هغه وېږنئ د دې نه وړاندې چې هغه دربانديې
تيارهٔ راولی، او تاسو تيندک وخورئ او په تورو تيارو غرونو
کښې راوغورزيږئ. او د هغه نُور چې تاسو يې په انتظار کښې
يئ نو مالِک خُدائ به هغه په تورو تيارو بدل کړی. ١٧ کهٔ
تاسو اوس هم غوږ ونهٔ نيسئ، نو زهٔ به ستاسو د غرور په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وجه پټ پټ وژاړم. زما سترګې به ترخه ژړا وکړی او ډکې
به شی او اوښکې به ترې بهیږی. ځکه چې دشمن به د مالِک
خُدائ قوم لکه د یوې رمې په شان راګېر کړی او قېدولو له به
یې بوځی. ۱۸ مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل چې، ”بادشاه او
د هغهٔ مور ته ووایه چې، د تخت نه راکوز شه او په خاورو
کښې کښېنه، ځکه چې ستا د شان او شوکت تاجونه به زر
ستا د سر نه راوغورزیږی. ۱۹ د نجب ښارونو دروازې به
بند کړے شی او څوک به هم هغه نهٔ شی کولاولے. د یهوداه
ټول خلق به جلاوطن کړے شی او یو به هم بچ نهٔ شی.“

۲۰ خپلې سترګې اوچتې کړه او هغه فوج وګوره چې د
شمال د خوا نه راروان دے. ستا هغه ښکلې رَمې اوس چرته
دی چې ما تا ته سپارلې وې؟ ستا هغه ګډان چرته دی چې تا
به پرې فخر کولو؟ ۲۱ تهٔ به په هغه ورځ څهٔ وائې کله چې
مالِک خُدائ په تا هغه خلق حکمرانان مقرر کړی کوم خلق
چې تا خپله ډله جوړه کړې وه؟ لکه څنګه چې د ښځې د
ماشوم د پېدا کېدو وخت وی نو تهٔ به په دغه شان تکلیف
کښې شې. ۲۲ کهٔ تهٔ چرې د خپل ځان نه تپوس وکړې چې
دا هر څهٔ ما سره ولې کیږی؟ نو دا ستا د ډېرو ګناهونو په
وجه تا سره وشول. نو ځکه ستا نه جامې وویستلے شوې او
هغه حمله کوونکو فوجیانو تا سره په زور زنا وکړه. ۲۳ ولې
د ایتهوپیا یو سړے د خپلې څرمنې رنګ بدلولے شی؟ یا یو
پړانګ د ځان نه خالونه لرې کولے شی څهٔ؟ نه کله هم نه،
هم دغه رنګ تهٔ په بدو عملونو دومره عادت شوے یې چې تهٔ
کله هم نیک کارونه نهٔ شې کولے. ۲۴ زهٔ به تاسو لکه د
بوسو په شان چې د صحرا هوا په مخه اخستې وی خوارهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وارۀ کړم. ۲۵ مالِک خُدائ فرمائی چې، دا ستا قسمت
دے، هغه برخه چې ما ستا دپاره مقرر کړې ده. ځکه چې تا
زۀ هېر کړے يم او په دروغژنو معبودانو دې يقين کړے دے.
۲۶ اے قومه، زۀ به په خپله ستاسو نه جامې وکاږم چې
تاسو لغړ کړم او شرمګاه مو ښکاره کړم. ۲۷ ما ستاسو
زناکارى او د نفس خواهشات، ما ستاسو په بې‌شرمۍ سره د
بُتانو عبادت په لوړو او ژورو باندې وليدلو. په تاسو دې
افسوس وى، اے يروشلمه. ترڅو پورې به تاسو داسې حرام
کاره او ناپاکه يئ؟

## په يهوداه باندې اوچ کالى

۱۴ ۱ د اوچ کالۍ په حقله په يرمياه د مالِک خُدائ کلام
نازل شو، ۲ "يهوداه وير کوى، ښارونه يې لکه د اوچو
شوو بوټو په شان غمژن دى، ټول خلق يې د غم په وجه په
زمکه ناست دى او د يروشلم نه چغې او سورې راپورته
کيږى. ۳ مالداره خلق خپل نوکران د اوبو دپاره کُوهيانو
ته لېږى، خو ټولې چينې کُوهيان اوچ شوى وى او د ګوټ
اوبو درک هم نۀ لګى. نوکران په ډېرې مايوسۍ او خفګان د
تشو منګو سره راواپس کيږى او خپل سرونه يې د پرېشانۍ په
وجه پټ کړى وى. ۴ زمکه د خوشکۍ او د باران نۀ
وريدلو په وجه چاؤدلې ده، زميداران پرېشانه دى، او هغوئ
هم خپل مخونه پټ کړى دى. ۵ په پټو کښې د خوراک
دپاره د ګياه د نشتوالى په وجه هوسۍ هم خپل تازه پېدا شوى
بچى هم داسې په ډاګه پرېښى دى. ۶ ځنګلى خرونه هم د
خوشکو غونډو په سرونو ودرېږى او د ګيدړانو په شان چغې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وهی او د خوراک د نشتوالی په وجه یې نظر کار پرېښے
دے. ۷ زما خلق ما ته فریاد کوی او وائی چې، زمونږ
ګناهونه زمونږ خِلاف ګواهی ورکوی، خو اے مالِکه خُدایه، د
خپل نوم د خاطره دې زمونږ مدد وکړه. مونږ ستا نه په څو
ځله اوړېدلی یُو، او ستا خِلاف مو ګناه کړې ده. ۸ اے
مالِکه خُدایه صرف ته د بنی اِسرائیلو اُمید یې، او د تکلیف په
وخت کښې زمونږ خلاصونکے یې. نو بیا ولې ته لکه د یو
مسافر په شان یې چې زمونږ په مُلک کښې صرف یوه شپه
تېره کړی او بیا ځی؟ ۹ ته ولې د هغه چا په شان یې چې
ګنګس وی، او لکه د داسې فوجی په شان شوے یې چې
څوک بچ کولے نهٔ شی؟ اے مالِکه خُدایه، ته مونږ سره یې،
او مونږ ستا نوم پورې تړلے شوی یُو، نو اوس مونږ مهٔ
پرېږده.“ ۱۰ نو مالِک خُدائ د دې خلقو په حقله فرمائی، ”د
دوئ ډېر زیات دا خوښېدل چې فضول وګرځی او زما نه
واوړی او په خپل ځان یې قابو نهٔ وُو. نو ځکه زهٔ د دوئ نه
راضی نهٔ یم. او د دوئ ګناهونه به راته یاد وی، او سزا به
ورله ورکړم.“ ۱۱ مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل، ”نور د دې
قوم د خیر دپاره ما ته سوال مهٔ کوه. ۱۲ تر دې کهٔ هغوئ
روژه هم ونیسی، نو زهٔ به د هغوئ فریاد ته غوږ نهٔ نیسم. او
کهٔ چرې هغوئ ما ته سوزېدونکې او د غلې نذرانې هم پېش
کړی، نو زهٔ به هغه نهٔ قبلوم. بلکې هغوئ به په جنګ، قحط او
وبا باندې مړهٔ کړم.“ ۱۳ نو بیا ما ووئیل، ”اے قادر مطلق
خُدایه، د هغوئ پېغمبران ورته وائی هر څهٔ ټیک دی جنګ او
قحط به نهٔ راځی. مالِک خُدائ به په حقیقت کښې په تاسو
امن راولېږی.“ ۱۴ نو بیا مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل چې،
”زما په نوم دا پېغمبران د دروغو نبوت کوی. د هغوئ پېغام

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زما له طرف نه نۀ دے او نۀ ما هغوئ ته حکم کړے دے چې
تاسو دا پېغام خلقو له ورکړئ. هغوئ دروغژنې روياګانې، او
فضول فالونه او د خپلو دروغژنو خيالونو پېشګويانې کوى.
۱۵ نو ځکه مالِک خُدائ فرمائى چې کوم پېغمبران چې زما
په نوم د دروغو نبوت کوى او خلقو ته وائى چې نۀ به جنګ
راځى او نۀ به قحط، چا ته چې ما پېغام نۀ دے ورکړے نو
هم دوئ به زۀ په جنګ او قحط باندې هلاک کړم. ۱۶ کومو
خلقو ته چې هغوئ دا پېشګويانې کوى نو د هغوئ لاشونه به
د يروشلم په لارو کوڅو کښې د جنګ او قحط په وجه
وغورزولے شى. څوک به نۀ وى چې هغوئ او د هغوئ
ښځې، زامن، لوڼه ښخ کړى. او زۀ به په هغوئ هغه افت نازل
کړم د کوم چې لائق دى.“ ۱۷ مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل
چې، ”يرمياه هغوئ ته دا ووايه، زما د سترګو نه شپه او ورځ
اوښکې بهيږى، زما ژړا نۀ ودريږى، ځکه چې زما قوم چې په
ما لکه د لور په شان ګران دے سخت زخمى شوے دے او
زيات ژوبل شوے دے. ۱۸ کله چې زۀ بهر مېدانونو ته لاړ
شم، نو زۀ هغوئ وينم څوک چې په جنګ کښې په تُورو مړۀ
شوى دى، او کۀ زۀ دننه د ښار کوڅو ته لاړ شم، نو زۀ هغه
خلق ګورم چې د قحط په وجه مړۀ شوى دى. پېغمبران او
اِمامان دواړه خپل کارونه جارى ساتى، خو هغوئ په دې نۀ
پوهيږى چې څۀ کوى.“

## مالِک خُدائ ته د رحم دپاره د خلقو سوال زارى کول

۱۹ اے مالِکه خُدايه، تا يهوداه بلکل رد کړے دے څۀ؟ آيا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تهٔ د صیون د خلقو نه نفرت کوې څهٔ؟ ولې تا مونږ دومره
سخت زخمي کړی یُو چې د رغېدو ټول اُمیدونه مو ختم شُو
څهٔ؟ مونږ د خیر اُمید لرلو خو مونږ ته خیر مِلاو نهٔ شو، مونږ
د علاج په طمع وُو خو د شفا په ځائ په مونږ یره راغله. ۲۰
اے مالِکه خُدایه، مونږ ستا خِلاف بدکارونه کړی دی، مونږ د
خپلو بدو کارونو او د خپل پلار نیکهٔ د بدو کارونو اِقرار کوُو.
۲۱ د خپل نوم د خاطره دې مونږ مهٔ پرېږده، او خپل جلالی
تخت دې مهٔ سپکوه. خپل لوظ دې راپه یاد کړه کوم چې تا
مونږ سره کړے دے او هغه مهٔ ماتوه. ۲۲ آیا د نورو قومونو
د بُتانو فضول معبودان باران کولے شی څهٔ؟ آیا آسمان په
خپله باران ورولے شی څهٔ؟ نه، بلکې دا تهٔ یې، اے مالِکه
خُدایه، زمونږ پاکه خُدایه. نو د دې دپاره زمونږ توکل په تا
دے، ځکه چې تهٔ هغه ذات یې څوک چې دا هر څهٔ کوی.

## د یهوداه د خلقو خراب اَنجام

۱۵ ۱ بیا مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل، ”کهٔ چرې موسیٰ
او سموئیل هم دلته ودرېدلی وے او ما ته یې د دې خلقو په
حقله مِنت زاری کړے وے، نو زما زړهٔ به دوئ ته مائل
شوے نهٔ وو. هغوئ زما د حضور نه وشړه، او پرېږده چې
ځی. ۲ او کهٔ چرې هغوئ ستا نه تپوس وکړی چې مونږ
چرته لاړ شُو؟ هغوئ ته ووایه، چې مالِک خُدائ داسې
فرمائی، د کومو خلقو په نصیب کښې چې په وبا مرهٔ کېدل
دی هغوئ دې په وبا مرهٔ شی، د چا په نصیب کښې چې په
جنګ کښې مرهٔ کېدل دی هغوئ دې په جنګ مرهٔ شی، د چا
په نصیب کښې چې په لوږه مرهٔ کېدل دی هغوئ دې په لوږه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مړۀ شی، او د چا په نصيب کښې چې جلاوطنی ده هغه دې
جلاوطن کړے شی. ۳ مالِک خُدائ فرمائی چې، زۀ به
څلور قسمه تباه کوونکی ورولېږم. تُوره د هغوئ د وژلو
دپاره، سپی چې د هغوئ لاشونه راکاږی، تپوسان چې هغوئ
تېر کړی او ځنګلی ځناور چې هغوئ ختم کړی. ۴ د
يهوداه بادشاه منسی د حزقياه د زوئ په وجه چا چې بد
کارونه په يروشلم کښې کړی وُو، زۀ به خپل خلق د دُنيا
بادشاهانو دپاره د يرې يو مثال جوړ کړم. ۵ اے يروشلمه
څوک به په تاسو رحم وکړی؟ او څوک به په تاسو وير
وکړی؟ ستاسو داسې همدرد نشته چې ستاسو تپوس له
راشی. ۶ مالِک خُدائ فرمائی چې، تاسو زۀ رد کړے يم،
او بار بار مو ما ته شا کړې ده. نو اوس به زۀ خپل لاس
ستاسو د بربادئ دپاره دراوږد کړم، نو په تاسو زۀ نور رحم
نۀ شم کولے. ۷ زۀ به تاسو، ستاسو د ښارونو په دروازو
کښې داسې د يو بل نه جدا کړم لکه څنګه چې غنم او بوس
جدا کولے شی. او تاسو نه به ستاسو بچی واخلم کوم چې په
تاسو ډېر ګران دی. زۀ به خپل قوم تباه کړم، ځکه چې هغوئ
د خپلو خرابو طريقو پرېښودو نه اِنکار کړے دے. ۸
ستاسو په مُلک کښې به کونډې د سمندر په غاړه د شګو نه
هم ډېرې وی. په نيمه ورځ به زۀ د ځوانانو په ميندو باندې
تباهی راولم. او ناګهانه به په دوئ پرېشانی او دهشت راولم.
۹ د اوو بچو مور د غم نه بېهوشه پرته ده او ساه نۀ شی
اخستلے، د هغې د بچو د ژوند رڼا ختمه شوه. هغه رسوا او
شرمنده شوې ده. په هغوئ کښې چې څوک پاتې دی هغه به
زۀ د دشمنانو په تُوره مړۀ کړم. دا د مالِک خُدائ وينا ده.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یرمیاه مالِک خُدائ ته شکایت کول

۱۰ نو ما بیا ووئیل چې، کاش چې زۀ د مور نه پېدا شوے
هم نۀ وے. زۀ چې چرته هم ځم نو هلته خلق زما مخالف دى
او جنګ راسره کوى. نۀ مې چا ته قرض ورکړے دے او نۀ
مې د چا نه قرض اخستے دے، خو بیا هم دوئ ټول په ما
لعنت وائى. ۱۱ مالِک خُدائ فرمائى چې، ”په یقین سره به
زۀ ستا ښۀ مقصد دپاره خیال وساتم، یرمیاه. او په یقین سره
ستا دشمنان به ستا نه دا وغواړى چې تۀ د تکلیف او
مصیبت په وخت کښې د هغوئ دپاره ما ته سوال زارى
وکړې. ۱۲ آیا څوک هغه د اوسپنې او د پیتلو نه جوړ شوے
سیخ ماتولے شى کوم چې د شمال د خوا نه راځى؟ ۱۳ زۀ
به ستاسو مال دولت او خزانې مفتې دشمنانو ته د لوټ کولو
دپاره حواله کړم، ځکه دا ستاسو د هغه ګناهونو په وجه چې
تاسو په ټول مُلک کښې کړې دى. ۱۴ زۀ به تاسو د دشمنانو
په لاس یو داسې مُلک ته په غلامۍ ولېږم چې تاسو ته د هغې
هیڅ پته نۀ وى. ځکه چې زما غصه د اور په شان رابله شوې
ده او دا به د تل دپاره بلیږى.“ ۱۵ بیا ما ووئیل چې، ”اے
مالِکه خُدایه، تا ته د هر څۀ پته ده، څۀ چې ما سره کیږى. نو
راشه او زما مدد وکړه. زما د دشمنانو نه بدل واخله او
هغوئ ته دومره صبر مۀ کوه چې زما د وژلو موقع ورته مِلاو
شى. ګوره خو ما په خپل ځان دا ټوله بې‌عزتى ستا د خاطره
تېره کړې ده. ۱۶ اے مالِکه، ربُ الافواجه خُدایه، هرکله به
چې ستا کلام په ما نازل شو، نو هغه ما وخوړلو، هغۀ ما ته
او زما زړۀ ته خوشحالى راکړه، ځکه چې ما پورې ستا نوم
تړلے شوے دے. ۱۷ زۀ د هغه خلقو سره شامل نۀ شوم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې خندا او خوشحالي به يې کوله. زۀ ځان ته کښېناستم
ځکه چې ستا لاس په ما وو. او د هغوئ د ګناهونو په وجه
زما قهر راوچت شو. ۱۸ زما درد ولې نۀ ختميږي؟ او زما
زخمونه ولې لا علاجه دي او نۀ رغيږي؟ ستا مدد زما دپاره
داسې نا باوره شو لکه موسمي لختي، لکه د هغه چينې په
شان چې اوچه شوې وي." ۱۹ نو مالِک خُدائ په جواب
کښې ما ته وفرمائيل، "کۀ تۀ واپس راشې، نو زۀ به تا له بيا
خپل مقام درکړم چې تۀ زما خِدمت وکړې. کۀ تۀ د بې‌مطلبه
خبرو په ځائ زما قيمتي کلام بيان کړې، نو تۀ به زما پيغمبر
يې. دا خلق دې ضرور تا له راشي بلکې تۀ د هغوئ په شان
مۀ جوړيږه. ۲۰ مالِک خُدائ فرمائي چې، زۀ به تا د دې
خلقو په وړاندې د پيتلو قوي دېوال جوړ کړم. هغوئ به ستا
خِلاف جنګ کوي، خو هغوئ به تا له شکست نۀ شي
درکولے، ځکه چې زۀ تا سره يم چې تا وساتم او خلاصون
درکړم. ۲۱ زۀ به تا د شريرانو د لاسونو نه وساتم، او د
ظالمانو د زور او لاسونو نه به درله خلاصون درکړم."

## حضرت يرمياه د وادۀ کولو نه منع کړے شوے وو

**۱۶** ۱ د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، ۲
"دلته وادۀ ونۀ کړې او نۀ زامن او لوڼه پيدا کړې. ۳ ځکه
چې زۀ مالِک خُدائ دا وايم چې، کوم ماشومان چې دلته پيدا
کيږي او هم داسې د هغوئ مور، پلار ۴ چې هغوئ به د
سختو بيمارو نه مړۀ شي. او په هغوئ به هيڅ ژړا ونۀ
کړي او نۀ به يې ښخ کړي، او د هغوئ لاشونه به په زمکه لکه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د سوځيدو په شان خوارۀ وارۀ پراتۀ وی. او هغوئ به په جنګ
او قحط مړۀ شی، او د هغوئ لاشونه به د ټپوسانو، او د
ځنګلی ځناورو خوراک شی. ۵ مالِک خُدائ داسې فرمائی
چې، هغه کور ته مۀ ورننوځه په کوم کښې چې د مړی ژړا
وی، د هغوئ سره ماتم او همدردی مۀ کوه، ځکه چې ما د
هغه خلقو نه خپل برکت، مینه او رحم اخوا کړے دے، دا د
مالِک خُدائ وینا ده. ۶ مالداره او غریبانان به دواړه په
دې مُلک کښې مړۀ شی، هغوئ به نۀ ښخ کړے شی او نۀ به
وربانديې ماتم وشی، د هغوئ دوستان به نۀ خپل ځانونه
دردمند کړی او نۀ به د خفګان ښکاره کولو په وجه خپل
سرونه د هغوئ دپاره ګنجی کړی. ۷ هیڅوک به هغوئ ته د
غمرازۍ روټۍ نۀ راوړی، تر دې چې د خپل مور او پلار دپاره
به تعزیت نۀ کوی، او نۀ به ورته څوک د تسلۍ دپاره څښلو له
څۀ ورکوی. ۸ او هغه کور ته هم مۀ ورننوځه په کوم کور
کښې چې د خوراک څښاک پروګرام وی او د هغوئ سره
روټۍ ته مۀ کښېنه. ۹ ځکه چې دا مالِک خُدائ ربُ
الافواج د بنی اِسرائیلو خُدائ درته فرمائی، ستا په ژوند کښې
او ستا د سترګو د وړاندې به زۀ په دې مُلک کښې د خندا او
د خوشحالۍ آوازونه ختم کړم. نور به په کښې د ناوې او
زلمی د خوشحالۍ آوازونه نۀ اوریدلے کیږی. ۱۰ کله چې
تۀ هغوئ ته دا هر څۀ ووائې نو هغوئ به درنه تپوس وکړی
چې، مالِک خُدائ په مونږ دومره سخت افت ولې نازلوی؟
مونږ څۀ غلطی کړې ده؟ مونږ داسې کومه ګناه د مالِک
خُدائ خلاف کړې ده؟ ۱۱ نو بیا هغوئ ته ووایه چې، مالِک
خُدائ فرمائی چې، ستاسو پلار نیکۀ زۀ هېر کړے وم، هغوئ
زما په ځائ د نورو معبودانو عبادت او خِدمت وکړو. او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ زهٔ پرېښودم او زما د کلام تابعداری يې ونهٔ کړه. ١٢
خو تاسو د خپل پلار نيکهٔ نه هم زيات بد سلوک وکړو. ګوره
چې څنګه تاسو هر يو زما د پيروی په ځائ د خپلو سرکشه
او بدکاره زړونو خواهشاتو ته غوږ ونيولو. ١٣ نو زهٔ به
تاسو د دې مُلک نه داسې مُلک ته وشړم چې نهٔ يې تاسو ته
څهٔ پته شته او نهٔ يې ستاسو پلار نيکهٔ ته څهٔ پته وه، نو هلته به
تاسو شپه او ورځ د نورو معبودانو عبادت کوئ، ځکه چې زهٔ
به په تاسو نور رحم نهٔ کوم.“

## د جلاوطنۍ نه راواپس کېدل

١٤ مالِک خُدائ وفرمائيل چې، ”داسې وخت راروان دے
چې خلق به داسې قسم نهٔ خوری چې، د ژوندی خُدائ پاک
په نوم مې دې قسم وی چا چې بنی اِسرائيل د مِصر نه
راوويستل. ١٥ خو هغوئ به داسې قسم خوری چې، د
ژوندی خُدائ پاک په نوم مې دې قسم وی چا چې بنی
اِسرائيل د شمال او د هغه ټولو مُلکونو نه راوويستل کومو ته
چې هغهٔ شړلی وُو. ځکه چې زهٔ به هغوئ دوباره هغه مُلک ته
واپس راولم کوم چې ما د هغوئ پلار نيکهٔ له ورکړے وو.“

## راتلونکی سزا

١٦ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”بلکې زهٔ به اوس ډېر ماهيګر
درولېږم چې هغوئ به دوئ راونيسی. او د دې نه وروستو به
زهٔ ډېر ښکاريان درولېږم او دوئ به هغوئ په هر يو غر،
غونډئ او د ګټانو د غارونو نه ښکار کړی. ١٧ د هغوئ ټول
عملونه زما د سترګو د وړاندې دی او زهٔ يې وينم، هغه زما نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پېټ نهٔ دی، او تر دې چې د هغوئ ګناهونه هم زما د سترګو نه
پټ پناه نهٔ دی. ۱۸ زهٔ به هغوئ له د خپلو ګناهونو او حرامو
کارونو بدله يو په دوه ورکړم، ځکه چې هغوئ د بې‌ساه
شکلونو او نفرت آميزه بُتانو په وجه زما موروثی مُلک پليت
کړے دے.“

## په مالِک خُدائ د يرمياه يقين او دُعا

۱۹ اے مالِکه خُدايه، تهٔ زما طاقت او زما قلعه يې، د
مصيبت په وخت کښې زما پناه ګاه يې. د دُنيا د آخر سر نه
به قومونه تا ته راشی او وائی به چې، ”زمونږ پلار نيکهٔ سره
هيڅ نهٔ وو بلکې دروغژن معبودان، هغه بې‌کاره بُتان چې دوئ
ته هيڅ قسمه ښېګړه نهٔ شی ورکولے. ۲۰ خلق خو ځان له
خپل خُدايان په خپله جوړوی، خو په حقيقت کښې هغه
صحيح خُدايان نهٔ وی.“ ۲۱ ”نو په دې وجه به زهٔ هغوئ ته
په دې وخت کښې د خپل زور او طاقت په حقله تعليم
ورکړم. نو بيا به هغوئ په دې باندې پوهه شی چې زما نوم
مالِک خُدائ دے.“

## د يهوداه ګناه او د هغې سزا

۱۷ ۱ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”د يهوداه د خلقو ګناه
د اوسپنې په قلم چې نوکه يې د هيرې ده، ستاسو د کاڼو نه په
سختو زړُونو نقش شوې ده او ستاسو د قربان‌ګاه په ګوټونو
ليکلې شوې ده. ۲ نهٔ صرف تاسو بلکې ستاسو بچی هم
خپلې قربان‌ګاه او د اشيرې بُت شکلونه هميشه رايادوی کهٔ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شنې ونې په خوا کښې وی او کۀ په اوچته غونډۍ وی. ٣ نو زۀ به په دې مُلک کښې خپل مقدس غر سره ستاسو د ټول مال دولت او ستاسو علاقائی عبادتخانې نورو خلقو ته د غنیمت په توګه حواله کړم، دا ستاسو د ګناهونو بدل دے کوم چې تاسو په خپل ټول مُلک کښې کړې دی. ٤ ستاسو د خپلې ګناه په وجه به هغه مُلک ستاسو د لاس نه ووځی کوم چې ما تاسو ته په میراث کښې درکړے دے. زۀ به تاسو په هغه مُلکونو کښې چې تاسو يې نۀ پېژنئ دشمنانو ته د غلام په شکل حواله کړم. ځکه چې تاسو زما د غصې اور بل کړے دے او هغه به تل بلیږی."

## په مالِک خُدائ توکل کول

٥ مالِک خُدائ فرمائی چې، "لعنت دې په هغه چا وی چې د هغۀ زړۀ د مالِک خُدائ نه اوړېدلے وی او په فانی انسان توکل او د هغۀ په زور بهروسه کوی. ٦ هغه د بیابان د هغه بوټی په شان دے، کۀ څۀ هم چې خیر وی خو هغوئ ته به مِلاو نۀ شی. ځکه چې هغه به د بیابان په خشکه او مالګینه زمکه کښې شوے وی، چرته چې نور څۀ نۀ کیږی. ٧ خو بختور دی هغوئ خوک چې په مالِک خُدائ یقین لری، او په مالِک خُدائ يې توکل کړے وی. ٨ هغوئ د هغه ونو په شان دی چې د لختی په غاړه کَرلے شوې وی او جرړې يې اوبو ته رسېدلې وی. نو کله چې د ګرمۍ موسم راشی نو یره يې نۀ وی، د هغوئ پاڼې هر وخت شنې وی. او په خُشک سالۍ کښې يې څۀ پرېشانی نۀ وی، نو کله هم بې‌مېوې نۀ پاتې کیږی." ٩ د انسان زړۀ د هر څۀ نه زیات دوکه مار وی،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او د شرارت نه ډک وی. څوک پرې هم نۀ پوهېږی. ۱۰ ”زۀ
مالِک خُدائ د انسان د زړۀ لټون کوم او د هغۀ پټ سوچونه
آزمائيم، زۀ هر چا ته اجر د هغۀ د عمل په مطابق ورکوم.“
۱۱ هغه څوک چې په ناجائزه طريقې سره مال دولت
راجمع کړی هغه د هغه تيتر په شان وی چې پردئ هګۍ
وشاربی کومې چې هغې اچولې نۀ وی، نو وروستو به د هغۀ
نه ټول مال دولت لاړ شی، کله چې د هغۀ عمر نيم تېر شی نو
د هغۀ مال دولت به د هغۀ نه والوځی او په آخر کښې به دے
خپل ځان کم عقل ثابت کړی. ۱۲ خو هغه جلالی تخت چې
د ازل نه اوچت دے، هغه زمونږ د خُدائ پاک مقدس کور
دے. ۱۳ اے مالِکه خُدايه، د بنی اِسرائيلو اُميده، هر څوک
چې تا نه مخ واړوی هغوئ ټول به ټيټ سترګې او شرمنده
شی. هغوئ چا چې تا نه مخ اړولے دے په دوړو د ليکلو په
شان دی، دوئ به زر ختم شی ځکه چې هغوئ د هغه مالِک
خُدائ نه مخ اړولے دے څوک چې د ژوندون د اوبو چينه
ده.

## د مالِک خُدائ نه د يرمياه مدد غوښتل

۱۴ اے مالِکه خُدايه، کۀ چرې تۀ ما له شفا راکړې نو زۀ به
بلکل روغ رمټ شم، کۀ چرې تۀ ما له خلاصون راکړې نو زۀ
به بچ شم، ځکه چې زۀ صرف ستا ثناء صِفت کوم. ۱۵
هغوئ ما ته بار بار دا وائی چې، د مالِک خُدائ هغه کارونه
څۀ شول د چا د پوره کېدلو په حقله چې هغۀ پېشګوئي کړې
وه؟ نو اوس دې هغه پوره کړی. ۱۶ اے مالِکه خُدايه، زۀ د
هغه کار نه نۀ يم تښتېدلے د کوم دپاره چې تاسو زۀ د خپل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قوم دپاره د شپونکی په حیثیت مقرر کړے یم. تاسو ته پته ده
چې ما په هغوئ د افت د ورځې د راتلو خواهش نۀ دے
کړے. زما د شونډو نه چې څۀ هم وتلی دی هغه ستا په
وړاندې څرګند دی. ۱۷ مالِکه خُدایه، ما مۀ یروه، د افت په
ورځ صرف تۀ زما اُمید یې. ۱۸ زما دشمنان دې وشرمیږی
خو ما مۀ شرموه، په هغوئ یره راوله خو ما مۀ یروه. په
هغوئ د افت ورځې راوله، او هغوئ په دوه چنده تباه کړه.

## د سبت ورځ مقدسه وساتئ

۱۹ مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل، "یرمیاه، لاړ شه او د
عوامی دروازې په خولۀ کښې ودرېږه په کومه چې د یهوداه
بادشاهان ځی راځی او هم داسې د یروشلم په نورو دروازو
کښې ودرېږه. ۲۰ هغوئ ته ووایه، د مالِک خُدائ پېغام
واورئ. اے د یهوداه بادشاهانو او د یهوداه ټولو خلقو او د
یروشلم اوسېدونکو او هغوئ ټولو ته چې په دې دروازې ځی
راځی. ۲۱ مالِک خُدائ فرمائی چې، خبردار چې د سبت په
ورځ په خپل سر پنډ مۀ اوچتوئ او د یروشلم په دروازو پنډ
سره مۀ ننوځئ. ۲۲ او تر دې چې په خپلو کورونو کښې هم
د سبت په ورځ هیڅ قسمه کار مۀ کوئ او مۀ څۀ بار
اوچتوئ. خو د سبت ورځ مقدسه وساتئ لکه څنګه چې ما
ستاسو پلار نیکۀ ته حکم کړے وو. ۲۳ خو هغوئ ما ته غوږ
ونۀ نیولو او نۀ یې ما ته توجو راکړه او نۀ یې زما پیروی
وکړه. خو هغوئ سرکشه ؤو او اصلاح کولو ته یې جواب
ورنۀ کړو. ۲۴ خو مالِک خُدائ فرمائی، کۀ چرې تاسو زما
خبره ومنئ او د سبت په ورځ په دې دروازو د تجارت دپاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څۀ داخل نۀ کړئ او نۀ څۀ کار وکړئ، او هغه مقدسه
وساتئ، ۲۵ نو بيا به هغه بادشاهان څوک چې د داؤد په
تخت ناست دی نو هغوئ به د خپلو آفسرانو سره د دې ښار
په دروازو ځی راځی. او هغوئ او د هغوئ آفسران به په
آسونو او ګاډو سوارۀ راشی، او د يهوداه خلق به ورسره وی
او هغوئ څوک چې په يروشلم کښې اوسيږی، او دا ښار به د
تل دپاره آباد وی. ۲۶ د يهوداه د ښارونو او د يروشلم د
ګېرچاپېره کلو نه به خلق راشی، هغوئ به د بنيامين د علاقې،
د مغربی غونډو د لمنو نه، او د نجب او د غريزې علاقې نه به
د خپلو سوزېدونکو نذرانو او قربانو سره راشی. هغوئ به د
خپلو غلو دانو او خوشبوئی د شکرانې نذرانې سره د مالِک
خُدائ کور ته راشی. ۲۷ خو کۀ تاسو زما خبره ونۀ منئ او
د سبت ورځ مقدسه ونۀ ساتئ، او لکه د نورو ورځو په شان د
سبت په ورځ د سودا پنډونه د يروشلم دروازو ته راؤړئ، نو
بيا به زۀ په دې دروازو اور بل کړم. او دا اور به د يروشلم
محلونه وسوزوی. او د دې اور لمبې به هيڅوک مړې کولے
نۀ شی.“

## يرمياه د کُلال په کور کښې

۱۸ ۱ مالِک خُدائ ما يرمياه له پېغام راکړو، ۲
”لاندې د کُلال کور ته لاړ شه، نو هلته به زۀ تا له خپل پېغام
درکړم.“ ۳ نو زۀ هلته د کُلال کور ته لاړم او ما هغه وليدو
چې په خپله څرخه يې کار کولو. ۴ خو چې کوم لوښے به
هغۀ د خټې نه جوړولو نو هغه به په لاس کښې هغه شان نۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راتلو کوم به چې د هغهٔ اُمید وو نو بیا به یې هغه خراب کړو
او بل څیز به یې ترې نه جوړول شروع کړل کوم به چې هغهٔ
ته ښهٔ ښکارېدو. ۵ بیا مالِک خُدائ ما له دا پیغام راکړو
چې، ۶ ”اے بنی اِسرائیلو، نو زهٔ دا نهٔ شم کولے چې تاسو
سره هغه کار وکړم کوم به چې کُلال د ختې سره کولو؟ لکه
څنګه چې خټه د کُلال په لاس کښې وه، داسې تاسو زما په
لاس کښې یئ. دا د مالِک خُدائ فرمان دے. ۷ هرکله کهٔ
چرې زهٔ وغواړم چې یو قوم یا بادشاهت د بېخ نه ختم کړم،
یا هغه راوغورزوم او تباه یې کړم، ۸ او کهٔ چرې هغه قوم
کوم ته چې ما خبردارے ورکړے وی، د خپلو بدو عملونو نه
راوګرځی، نو بیا به زهٔ نرمئ نه کار واخلم او د خپلې ارادې
نه به واپس شم او په هغوئ به هغه افت نهٔ راولم. ۹ او کهٔ
بل وخت کښې زهٔ چرې دا ووایم چې زهٔ به دا قوم یا یو
بادشاهت آباد او قائم کړم، ۱۰ خو کهٔ بیا هغه مُلک زما په
وړاندې شرارت کوی او زما تابعداری ونهٔ کړی نو زهٔ به د
هغه ښهٔ کولو اراده پرېږدم د کوم چې ما د هغوئ دپاره اراده
کړې وه. ۱۱ نو اوس زما د طرفه د یهوداه او یروشلم خلقو
ته ووایه چې مالِک خُدائ فرمائی چې ګورئ، زهٔ په تاسو د
افت راوستلو تیارے کوم او ستاسو خلاف منصوبه جوړوم.
نو هر یو دې د خپلو بدو طریقو نه راواوړی، او هغه څهٔ دې
کوی کوم چې ښهٔ وی. ۱۲ خو هغوئ په جواب کښې ووئیل
چې، خپله خولهٔ دې په مونږ مهٔ خرابوه، مونږ چې په کومو
طریقو اوسېدل غواړُو هغه شان به اوسېږو، په سرکشئ سره
به د خپل زړهٔ بد خواهشونه پوره کوُو.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بنی اِسرائیلو د مالِک خُدائ نه اوړېدل

۱۳ ”نو په دې وجه مالِک خُدائ فرمائی چې، د نورو قومونو
د خلقو نه دا تپوس وکړه چې کله هم هغوئ د داسې کار په
حقله اورېدلی دی. بنی اِسرائیل دې د پاکې پېغلې په شان وی،
خو هغې ډېر بد کار وکړو. ۱۴ آیا د لبنان د غرونو د څوکو
نه کله هم واوره ویلې شوې او ختمه شوې ده څۀ؟ آیا د
هغوئ د غریزه او لرې چینو یخې اوبۀ بهېدل کله ختم شوی
دی څۀ؟ ۱۵ بلکې زما خلقو زۀ هېر کړے یم، او هغوئ
بېکاره بُتانو ته خوشبويۍ وسوزولې، بُتان کوم چې د هغوئ
د تیندک باعث شُو او دوئ یې د پخوانو ښو لویو لارو نه جدا
کړل او په کچه لارو باندې روان شول. ۱۶ نو په دې وجه به
د هغوئ مُلک په بیابان بدل کړے شی او نورو ته به د خندا
ذریعه وګرځی. څوک هم چې په دې لاره تېرېږی نو هغوئ به
حق حیران شی او د یهوداه په حالت به یې د یرې نه وېښتۀ
نیغ ودرېږی. ۱۷ نو زۀ به لکه د نمرخاتۀ د باد په شان هغوئ
د دشمنانو په وړاندې خوارۀ وارۀ کړم. او د هغوئ د مصیبت
په ورځ به زۀ خپل مخ د هغوئ نه واړوم او د هغوئ فریادونه
به نۀ اورم.“

## د یرمیاه خِلاف سازش

۱۸ نو بیا خلقو ووئیل، ”راځئ چې د یرمیاه خلاف منصوبه
جوړه کړُو. ځکه چې مونږ سره ډېر اِمامان، هوښیاران او
نبیان شته دے. مونږ ته د هغۀ د شریعت د تعلیم، نصیحت او
پېشګويۍ ورکولو ضرورت نشته دے. راځئ چې په خولۀ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ په حقله افواګانې خورې کړُو او په هغهٔ اِلزام ولګوو او
دوئ چې څهٔ هم وائی نور ورته غوږ ونهٔ نیسو.“ ۱۹ نو بیا ما
ووئیل چې، ”اے مالِکه خُدایه، ما ته غوږ ونیسه او زما
دشمنان چې زما خلاف څهٔ وائی په هغې غور وکړه. ۲۰ ولې
هغوئ د ښو بدله په بدو سره ورکوی څهٔ؟ اوس خو هغوئ
زما د وژلو دپاره کنده کنستلې ده. هغه وخت رایاد کړه چې
زهٔ به ستا په حضور کښې ودرېدم او د هغوئ سفارش به مې
تاسو ته کولو چې په هغوئ باندې خپل قهر او غضب مهٔ
نازلوه. ۲۱ خو اے مالِکه خُدایه، اوس پرېږده چې د هغوئ
بچی د لوږې نه مړهٔ شی، پرېږده چې هغوئ په تُوره قتل کړے
شی. د هغوئ ښځې دې بورې او کونډې شی، پرېږده چې د
هغوئ بوډاګان سړی په وبا مړهٔ شی، پرېږده چې د هغوئ
ځوانان په جنګ مړهٔ شی. ۲۲ پرېږده چې ناګهانه په هغوئ
جنګی سپاهیان ورننوځی، او د هغوئ د کورونو نه دې چغې
او سورې واورېدلے شی. ځکه چې هغوئ زما دپاره کنده
کنستلې ده او پټ دام یې راته خور کړے دے. ۲۳ خو اے
مالِکه خُدایه، تهٔ د هغوئ په ټولو منصوبو باندې پوهه یې چې
زما د وژلو دپاره یې تیارې کړې دی. تهٔ د هغوئ جرم مهٔ
معاف کوه او مهٔ د هغوئ ګناه د خپلو سترګو نه اخوا کوه.
پرېږده چې هغوئ ستا په وړاندې راوغورزېږی، او په خپل
قهر او غضب کښې هغوئ له سزا ورکړه.“

## د مات منګی مثال

# ۱۹
۱ مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل چې، ”لاړ شه او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کُلال نه یو د خټو منګے په بیعه واخله. او ځان سره د خلقو
یو څو مشران او لوئ اِمامان بوځه. ۲ او د بنیهنوم وادئ
ته لاړ شه، او د کُلالانو د ماتو لوښو دروازې ته مخامخ هلته
هغه پیغام خلقو ته بیان کړه کوم چې زهٔ تا له درکوم. ۳
مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل چې هغوئ ته داسې ووایه، اے د
یهوداه بادشاهانو او د یروشلم خلقو، مالِک خُدائ، ربُ
الافواج د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک فرمائی چې زهٔ به په دې
ځائ دومره سخت افت راولم، او چې څوک یې هم واوری نو
د هغهٔ غوږونه به ویوګنیږی. ۴ ځکه چې زهٔ هغوئ پریښے
یم او دا ځائ یې غیرو معبودانو ته حواله کړو، او په دې ځائ
کښې هغوئ هغه معبودانو ته داسې قربانۍ پېش کړې چې هغه
نهٔ دوئ په خپله او نهٔ د دوئ پلار نیکهٔ او نهٔ د یهوداه
بادشاهانو پخوا کړی وی. هغوئ دا زمکه د بےګناه خلقو په
وینو تویولو سره ډکه او رنګ کړه. ۵ او هغوئ د بعل بُت
دپاره علاقائی عبادتخانې جوړې کړې دی چې خپل بچی هلته
په کښې د سوزېدونکی قربانۍ په توګه بعل بُت ته پېش کړی.
د داسې کار ما نهٔ هغوئ ته حکم ورکړے دے او نهٔ مې په
خیال خاطر کښې راغلی دی، ۶ نو مالِک خُدائ فرمائی
چې خبردار، هغه وخت راروان دے چې خلق به نور دې
ځائ ته د ”توفت“ یا بنیهنوم وادئ ونهٔ وائی، بلکې دا به ”د
قتل و غارت د وادئ“ په نوم مشهوره شی. ۷ په دې ځائ
کښې به زهٔ د یهوداه او د یروشلم د خلقو ټولې منصوبې تباه
کړم. زهٔ به هغوئ د هغه دشمن په لاس ووژنم، څوک چې د
دوئ وینو ته تږی ناست دی، او زهٔ به د دوئ لاشونه د هوا د
مارغانو او د ځنګلی ځناورو خوراک کړم. ۸ زهٔ به
یروشلم تباه کړم، او د خلقو د خندا به یې کړم. څوک هم چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په دې لار تېرېږی نو د هغوئ په تباهۍ به حق حېران شی. ٩
زۀ به د هغوئ دشمنان څوک چې د هغوئ د وینو تږی دی
راپاڅوم چې د دوئ ښار نه ګېره واچوی او دوئ ته غټ
تکلیف ورسوی. او دا ګېره به دومره سخته وی چې دوئ به د
خپلو ماشومانو او ګاونډیانو په خوړلو شروع وکړی. ١٠ بیا
مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل چې هغه کسان چې تا خپل ځان
سره بوتلی دی د هغوئ په وړاندې دا منګے چې تا سره دے
مات کړه. ١١ او هغوئ ته ووایه چې مالِک خُدائ ربُ
الافواج فرمائیلی دی، زۀ به د دې منګی په شان دا قوم او دا
ښار ټوټې ټوټې کړم چې د بیا جوړېدو امکان به یې نۀ وی. په
هغه وخت کښې به هغوئ خپل مړی په توفت کښې ښخوی،
تر هغې پورې چې د ښخولو نور ځائ پاتې نۀ شی. ١٢ مالِک
خُدائ فرمائی چې، زۀ به دې ښار او د دې د اوسېدونکو سره
هم دغه رنګ وکړم. او د دوئ سره به د توفت په شان پلیت
سلوک وکړم. ١٣ زۀ به د یروشلم ټول کورونه، د یهوداه د
بادشاهانو شاهی محلونه لکه د توفت په شان پلیت وګرځوم،
چا چې د خپلو کورونو په چتونو ستورو ته قربانۍ پېش کړې
دی، او د څښلو نذرانې یې نورو بُتانو ته پېش کړې دی.“ ١٤
نو بیا یرمیاه د توفت نه راواپس شو، کوم ځائ ته چې مالِک
خُدائ هغه د پېغام ورکولو دپاره لېږلے وو. نو بیا هغه د
مالِک خُدائ د کور په دربار کښې ودرېدو او ټولو خلقو ته یې
وفرمائیل چې، ١٥ ”مالِک خُدائ ربُ الافواج، د بنی
اِسرائیلو خُدائ پاک فرمائی چې زۀ به په دې ښار او د دې نه
ګېرچاپېره ښارونو هغه ټول افتونه راولم چې د کومو ما
وړاندې ذکر کړے دے، ځکه چې تاسو په سرکشۍ سره زما
خبرو اورېدلو ته تیار نۀ یئ.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د فشحور اِمام سره د حضرت يرمياه لانجه

٢٠ ١ کله چې فشحور د اِمير زوئ څوک چې د مالِک
خُدائ په کور کښې مشر اِمام وو، هغه څۀ واورېدل د څۀ
چې يرمياه پېشګوئي کوله، ٢ نو هغۀ يرمياه نبى راګېر کړلو
او په کوړو يې ووهلو او بيا يې هغه پاس د مالِک خُدائ په
کور کښې د بنيامين په دروازه کښې د لرګى په کُنده کښې بند
کړلو. ٣ په بله ورځ کله چې فشحور هغه د کُندې نه آزاد
کړو، يرمياه هغۀ ته وفرمائيل چې، ”مالِک خُدائ ستا نوے
نوم اېښے دے او د نن نه پس به ستا نوم فشحور نۀ وى
بلکې په هر اړخ باندې دهشت. ٤ ځکه مالِک خُدائ په خپله
دا فرمائى چې، زۀ به په تا او ستا په دوستانو باندې دهشت
راولم، او تۀ به په خپلو سترګو سره د هغوئ وژل د دشمنانو
د لاسه وينې. زۀ به د يهوداه ټول خلق د بابل بادشاه ته
حواله کړم، څوک چې به د هغوئ نه ځينې بابل ته قېديان
بوځى او ځينې به په تُوره قتل کړى. ٥ زۀ به د دې ښار
ټول مال دولت او د هغوئ ټول قيمتى سامانونه او د يهوداه
بادشاه خزانې د هغوئ دشمنانو ته حواله کړم. هغوئ به دا
لوټ کړى او بابل ته به يې يوسى. ٦ ترڅو چې ستا خبره
ده فشحوره، تۀ او ستا مکمل خاندان به هم ونيولے شى او
بابل ته به بوتلے شى. هلته به تاسو او ستا هغه ټول دوستان
مړۀ او ښخ شى چا ته به چې تا په دروغو پېشګوئي کوله چې
هيڅ پرواه مۀ کوئ خير به شى.“

## مالِک خُدائ ته د يرمياه شکايت کول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ اے مالِکه خُدايه، تا زۀ دوکه کړم، او زۀ دوکه شوم.
تاسو زورَور يئ او زۀ دې مغلوب کړم. زۀ اوس ټوله ورځ د
مسخرو شوم، او هر څوک ما پورې ټوقې او خندا کوی. ٨
کله چې هم زۀ خپله خولۀ خلاصوم، نو بيا ضرور زۀ د ظلم
او تباهۍ په حقله چغې سورې وهم. ځکه چې زۀ د مالِک
خُدائ د کلام په وجه ټوله ورځ کنځل او بدې ردې تېروم او
سپکولے شم. ٩ خو چې کله زۀ ووايم چې، ”زۀ به د مالِک
خُدائ په حقله خبرې نۀ کوم او نۀ به نور د هغۀ پيغام چا ته
رسوم،“ نو بيا د هغۀ کلام زما په زړۀ کښې لکه د اور په شان
بلېږی او هغه اور زما هډوکو ته رسيږی. زۀ په ځان کښې د
هغۀ د ايسارولو د کوشش په وجه ډېر ستړے شوے يم او زۀ
هغه نۀ شم ايسارولے. ١٠ ما د خپل ځان په حقله د ډېرو
خلقو ګونګوسی اورېدلی دی. هغوئ وائی چې، ”هرې خوا ته
دهشت دے بس دهشت. راځئ چې د هغۀ اِطلاع ورکړُو.
راځئ چې د هغۀ په حقله اِطلاع ورکړُو.“ زما نزدې دوستان
هم زما د غورزېدلو په انتظار دی، او هغوئ وائی چې، ”شايد
چې هغه دوکه شی، نو بيا به يې راګير کړُو او د هغۀ نه به
خپله بدله واخلو.“ ١١ بلکې مالِک خُدائ د يو طاقتور
جنګيالی په شان ما سره دے، نو بيا څوک هم چې زما د
ژوند ختمولو پسې دی هغوئ به هيڅکله هم کامياب نۀ شی،
او په خپله به تيندکونه وخوری. هغوئ به ناکاميابه شی او په
شرمونو به وشرمېږی، د هغوئ دا بې‌عزتی به هيڅکله د
هېرېدلو نۀ وی. ١٢ خو اے مالِکه خُدايه، ربُ الافواجه،
تاسو په خپله صادق سړے وينئ، او تاسو په خپله د انسان د
زړۀ او دماغ ژور سوچونه او رازونه آزمايئ. ما خپل خواست
تا ته پېش کړے دے نو په دې وجه تاسو زما بدله اخستل ما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته وښايئ. ۱۳ د مالِک خُدائ حمد ووايئ. د مالِک خُدائ
ثناء صِفت ادا کړئ. هغه غريبانان د شريرانو د لاس نه بچ
کوی. ۱۴ په هغه ورځ دې لعنت وی په کومه چې زۀ پېدا
شوے وم. او هغه ورځ دې مبارکه نۀ وی په کومه ورځ چې
زۀ د مور نه پېدا شوم. ۱۵ په هغه کس دې لعنت وی چا
چې زما د پلار د خوشحالولو دپاره دا زېرے راوړے وو چې،
”ستا زوئ پېدا شوے دے.“ ۱۶ هغه سړے دې د هغه
ښارونو په شان شی کوم چې مالِک خُدائ په بې‌رحمئ سره
تباه کړی وُو. هغه دې په سحر کښې د يرې چغې واورى او په
غرمه کښې دې د جنګ شور واورى، ۱۷ ځکه چې زۀ هغۀ د
پېدا کېدو نه وړاندې د مور په ګېډه کښې مړ نۀ کړم، ترڅو
چې د هغې ګېډه زما قبر جوړ شوے وے. ۱۸ زۀ د مور د
خېټې نه ولې دُنيا ته راغلم؟ د دې دپاره پېدا شوم چې په دُنيا
کښې تکليفونه او کړاونه وګورم، او چې زما ژوند په بې‌عزتئ
کښې ختم شی؟

## د يروشلم د شکست پېشګوئي

۲۱ ۱ هغه پېغام چې د مالِک خُدائ له خوا نه يرمياه ته
ورکړے شو کله چې د يهوداه بادشاه صدقياه د مُلکياه زوئ
فشحور او د معسياه زوئ صفنياه اِمام يرمياه ته د دې
عرض سره ورولېږل چې، ۲ ”زمونږ دپاره د مالِک خُدائ
نه تپوس وکړه ځکه چې د بابل بادشاه نبوکدنضر او د هغۀ
لښکر په مونږ حمله کوی، نو کېدے شی چې مالِک خُدائ
زمونږ دپاره د وړاندې په شان معجزه وکړی او نبوکدنضر د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې ځائ نه په وتو مجبور کړی.“ ۳ بیا یرمیاه جواب
ورکړو، ”تاسو صدقیاه بادشاه ته واپس لاړ شئ او ورته
ووایئ چې، ۴ مالِک خُدائ، د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک دا
فرمائی چې، زهٔ به ستاسو د جنګ وسله کومه چې ستاسو په
لاس کښې ده بې‌کاره کړم او ستاسو خلاف به یې استعمال
کړم، کومه چې تاسو د جنګ دپاره د بابل د بادشاه او د بابل
د خلقو خلاف به استعمالوئ څوک چې د دېوال نه اخوا دی
او په تاسو حمله کوی. نو په حقیقت کښې به زهٔ ستاسو
دشمنان د دې ښار زړهٔ ته راولم. ۵ زهٔ به په خپله خپل
زوروَر لاس دراوږد کړم او ستاسو خِلاف به په غصې، قهر،
او لوئ غضب سره جنګ وکړم. ۶ زهٔ به په دې ښار
سخته وبا رانازله کړم، زهٔ به انسانان او ځناور دواړه مړهٔ
کړم. ۷ مالِک خُدائ فرمائی چې د دې نه وروستو به زهٔ
صدقیاه بادشاه او د هغهٔ ټول آفسران او د هغهٔ نور خلق کوم
چې دې ښار کښې اوسیږی او د وبا، جنګ، او قحط نه
ژوندی پاتې شوی وی زهٔ به هغوئ نبوکدنضر بادشاه ته او د
هغوئ دشمن ته حواله کړم څوک چې د هغوئ ژوند ختمولو
پسې ګرځی. هغه به هغوئ په تُوره په بې‌دردئ سره مړهٔ کړی،
او په دوئ باندې به هیڅ قسمه رحم، مینه او نهٔ به پرې څهٔ
زړهٔ سواندے ښکاره کړی.“ ۸ بیا مالِک خُدائ ما ته
وفرمائیل چې دې خلقو ته ووایه چې، ”زهٔ، مالِک خُدائ
ستاسو په وړاندې دوه لارې پېش کوم چې یوه د ژوند او بله د
مرګ لاره ده. ۹ هر څوک هم چې په دې ښار کښې پاتې
شی نو هغه به په جنګ، قحط او یا د وبا په وجه مړهٔ شی.
خو هر څوک چې بهر ووځی او خپل ځان بابلیانو ته حواله
کړی چا چې ښار محاصره کړې دے هغوئ به ژوندی پاتې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شی، او هغوئ ته به د ژوندون غنيمت ورکړے شی. ۱۰
مالِک خُدائ فرمائی چې، ما دا فيصله کړې ده چې زۀ به دا
ښار بچ نۀ کړم او افتونه به پرې نازل کړم، نه چې آبادی. دا
به د بابل بادشاه ته حواله کړم او هغه به دا ښار په اور تباه
کړی.“

## د يهوداه د شاهی خاندان عدالت

۱۱ ”د يهوداه شاهی خاندان ته ووايه، د مالِک خُدائ پېغام
واورئ، ۱۲ اے د داؤد خاندانه، مالِک خُدائ تاسو ته داسې
فرمائی، هر سحر د خلقو اِنصاف کوئ د چا نه چې غلا شوې
وی او هغوئ ته د ظالمانو د لاس نه خلاصون ورکوئ، ګني
زما غضب به رانازل شی او هر څۀ به لکه د اور په شان
وسوزوی او دا به ستاسو د هغه شرارت په وجه داسې بلېږی
چې هيڅ څوک به يې نۀ شی مړ کولے. ۱۳ مالِک خُدائ
فرمائی، اے يروشلمه، زۀ به په ذاتی توګه ستاسو خلاف
جنګ کوم، تاسو څوک چې په دې وادۍ بره اوسېږئ او په
اوچت ګټ پراتۀ يئ، تاسو څوک چې په ډېر فخر سره وايئ،
دلته څوک زمونږ خلاف راتلے شی څۀ؟ او زمونږ پناه ګاه ته
څوک راننوتلے شی څۀ؟ ۱۴ مالِک خُدائ فرمائی چې، زۀ
به ستاسو د عمل په مطابق چې د څومره سزا قابل يئ هومره
درکړم. زۀ به ستا د قلعه ګانو د لرګو په ستنو اور بل کړم او
د هغې نه ګېرچاپېره چې هر څۀ وی هغه به وسوزوم.“

## د بدکاره بادشاهانو اَنجام

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۲ (۱) مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل چې، ”تهٔ د یهوداه د
بادشاه محل ته ښکته لاړ شه او هلته دا پېغام بیان کړه، (۲)
اے د یهوداه بادشاه، د مالِک خُدائ پېغام واوره، تاسو ځوک
چې د داؤد په تخت ناست یئ، تهٔ، او ستا آفسران او ستا قوم
ځوک چې په دې دروازه تګ راتګ کوئ. (۳) مالِک خُدائ
داسې فرمائی چې، اِنصاف او صداقت قائم کړئ. ځوک چې
لوټ شوے وی هغه د ظالم د لاس نه آزاد کړئ. په مسافرو،
یتیمانو او کونډو ظلم او زیاتے مهٔ کوئ او بېګناه وینه په
دې ځائ کښې مهٔ توئیوئ. (۴) کهٔ چرې تاسو په احتیاط
سره زما په حکمونو عمل وکړئ، نو بیا هغه بادشاه ځوک
چې په یروشلم کښې د داؤد د اولاد نه د داؤد په تخت ناست
دے د هغهٔ بادشاهی او د هغهٔ اولاد به قائم وی او هغه به د
خپلو آفسرانو او د هغه خلقو سره چې په ګاډو او آسونو
باندې سوارهٔ دی د دې محل په دروازو راداخل شی. (۵)
مالِک خُدائ فرمائی چې، کهٔ چرې تاسو په دې حکمونو عمل
ونهٔ کړئ، قسم دې زما په خپل ذات وی چې دا محل به د
خاورو ډېرے کړم. (۶) نو بیا مالِک خُدائ د یهوداه د
بادشاه د محل په حقله داسې فرمائی، کهٔ څهٔ هم چې د یهوداه
محل زما دپاره د جِلعاد په شان مېوه لرونکے او د لبنان د
غرونو په شان شین او ښکلے دے، خو زهٔ به په یقین سره دا
په دشته بدل کړم لکه د هغه ښارونو په شان چې ځوک په
کښې نهٔ اوسېږی. (۷) زهٔ به ستا د بربادئ دپاره وسله بند
جنګی لښکر درولېږم او هغوئ به ستا ستنې چې د دِیار د
ښائسته ونو نه تیارې شوې دی راوباسی او په اور کښې به یې
وغورزوی. (۸) نو کله چې د ډېرو قومونو خلق په دې ښار
باندې تېرېږی نو بیا به د یو بل نه دا تپوس کوی چې، مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ ولې د دې لوئ ښار سره داسې سلوک وکړو؟ ۹ نو
هغوئ ته به جواب ورکړے شی چې، د دې ښار سره داسې
سلوک ځکه وشو چې هغوئ د خپل خُدائ پاک سره لوظ
مات کړو او د نورو معبودانو عبادت او خِدمت يې وکړو.“
۱۰ اے د يهوداه خلقو، د مړ شوی بادشاه يوسياه په حقله
ژړا مهٔ کوئ، او د هغهٔ په مرګ ماتم مهٔ کوئ. خو د دې په
ځائ ډېره سخته ژړا د هغهٔ د زوئ سلوم بادشاه په حقله
وکړئ، ځوک چې د مُلک نه شړلے شوے دے ځکه چې هغه
به بيا کله هم واپس رانهٔ شی، او نهٔ به خپل ذاتی مُلک دوباره
وګوری. ۱۱ نو بيا مالِک خُدائ د يوسياه د زوئ سلوم په
حقله فرمائی، ځوک چې د پلار نه پس د يهوداه بادشاه جوړ
شوے وو، ”هغه د دې ځائ نه لاړو او هغه به هيڅکله نهٔ
راواپس کيږی. ۱۲ هغه به په هغه ځائ کښې مړ شی چرته
چې هغوئ قېدی بوتلے دے او هغه به دا مُلک بيا دوباره
هيڅکله ونهٔ ګوری.“ ۱۳ ”افسوس دے په يهويقيم ځوک چې
په ناجائزه او په زور سره په مزدورانو باندې خپل محل
جوړوی، ځوک چې په بې اِنصافئ سره د هغې دېوالونه
خېژوی، ځکه چې هغه په خپلو خلقو بغېر پېسو کار کوی.
هغه هغوئ ته مزدوری هم نهٔ ورکوی. ۱۴ هغه وائی چې، زهٔ
به د خپل ځان دپاره يو لوئ محل جوړ کړم چې په کښې بره
لوئې کوټې او ډېرې اوچتې کړکئ وی او د لرګی کار به يې په
خوشبودار دِيار سره وکړم او تک سور رنګ به ورکړم. ۱۵
خو د دِيار نه د ښائسته محلونو جوړول ځوک لوئ بادشاه نهٔ
جوړوی. بېشکه ستا پلار، يوسياه، سره خو د خوړلو او
څښلو دپاره هر څهٔ ډېر تېر وُو، خو سره د دې هغه په خپله
هره معامله کښې صادق او اِنصاف کوونکے وو، نو ځکه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مالِک خُدائ ورله برکت ورکړو. ۱۶ هغۀ به غریبانانو او
محتاجو له امداد او اِنصاف ورکولو، د دې په بدل کښې ورته
برکت مِلاو شو. نو د دې ښکاره مطلب دا دے، څوک چې
داسې کوی نو هغه ما پېژنی، مالِک خُدائ داسې فرمائی. ۱۷
خو ستاسو سترګې او زړۀ صرف د ناروا پېسو ګټلو طرف ته
متوجه شوی دی، د بې‌ګناه خلقو وينه توئيوئ او دلته په
هغوئ باندې ظلم او زياتے کوئ.“ ۱۸ نو مالِک خُدائ د
يهوداه بادشاه، د يوسياه د زوئ يهويقيم په حقله فرمائی،
”خلق به ستا په مرګ ماتم نۀ کوی تر دې چې ستا په کور
کښې به هيڅ څوک هم د غم او افسوس اظهار نۀ کوی او نۀ
به څوک ووائی چې افسوس دے، اے مالِکه. افسوس ستا
شان شوکت لاړو ختم شو. ۱۹ هغه به داسې ښخ کړے شی
لکه څنګه چې يو خر ښخولے شی، هغه به راښکلے شی او د
يروشلم د دروازو نه به بهر وغورزولے شی.“ ۲۰ ”اے د
يروشلم خلقو، بره لبنان ته لاړ شئ او چغې ووهئ، ستاسو د
ژړا آواز دې په بسن کښې واورېدے شی، او د عباريم نه ژړا
وکړئ، ځکه چې ستاسو ټول ملګری تباه شوی دی. ۲۱ ما
په هغه وخت کښې تاسو ته خبردارے درکړو کله چې تاسو
ښۀ په آرام وئ، خو تاسو ووئيل، مونږ مۀ تنګوه. د ځوانئ نه
ستاسو هم دا عادت وو، تاسو زما تابعداری نۀ ده کړې. ۲۲
زما د غضب طوفان به ستاسو ټول شپونکی جارُو کړی، او
ستاسو ټول دوستان به جلاوطن کړی او هلته به غلامان شی
او تاسو به د خپلو بدو عملونو په وجه سپک او شرمنده شئ.
۲۳ تاسو څوک چې په لبنان کښې اوسېږئ، او ځان ته مو د
دِيار نه جاله جوړه کړې ده، تاسو به د دردونو په وجه داسې
زبيرګی کوئ لکه چې يوه ښځه يې د ماشوم د پيدا کېدو په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخت کښې کوی.“ ۲۴ مالِک خُدائ يهوياکين ته چې، د
يهويقيم زوئ او د يهوداه بادشاه دے وفرمائيل، ”زما دې په
خپل ذات قسم وی، کۀ چرې تۀ زما د ښی لاس ګوتمه هم
ولې نۀ وے نو تۀ به بيا هم ما ايستلې او اخوا غورزولې وے.
۲۵ زۀ به تاسو هغه چا ته حواله کړم څوک چې ستا ژوند
ختمول غواړی او د چا نه چې تۀ يرېږې. زۀ به تا د بابل
بادشاه نبوکدنضر او د هغۀ خلقو ته حواله کړم. ۲۶ زۀ به تا
او ستا مور د دې مُلک نه جلاوطن کړم، او تاسو به په پردی
مُلک کښې مړۀ شئ، په هغه مُلک کښې چرته چې تاسو پېدا
شوی نۀ يئ. ۲۷ تاسو به دې مُلک ته بيا هيڅکله هم واپس
رانۀ شئ کوم چې تاسو غوښتل چې هغه بيا ووينئ.“ ۲۸
خلقو ووئيل چې، ”ولې دا سړے يهوياکين بادشاه د هغه مات
منګی په شان دے څۀ، کوم چې غورزولے شوے وی او د
هيچا په کار نۀ وی؟ هغه او د هغۀ بچی ولې په يو داسې مُلک
کښې جلاوطن کړے شوی دی چې هغوئ ته هيڅ پته هم نۀ
وی؟“ ۲۹ اے زما وطنه، زما وطنه، زما وطنه. د مالِک
خُدائ دې پيغام ته غوږ ونيسه، ۳۰ مالِک خُدائ دا فرمائی
چې، ”دا کس په بې‌اولادو کښې حساب کړه، دا کس به په
خپل ټول ژوند کښې نۀ خوشحاله او نۀ آباد شی. د هغۀ د
اولاد نه به څوک هم آباد نۀ شی، او يو به هم نۀ د داؤد په
تخت کښېنی، او نۀ به په يهوداه کښې حکومت وکړی.“

## د راتلونکی وخت اُميد

۲۳ ۱ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”افسوس دے د قوم په
شپونکو باندې څوک چې زما د څرن د ځائ ګډې تباه کوی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او خوروی.“ ۲ نو ځکه مالِک خُدائ، د بنی اِسرائیلو
خُدائ پاک، دې شپونکو ته فرمائی چې، ”تاسو زما رمې
خورې ورې کړې او د خپل ځان نه مو لرې شړلې دی او د
هغوئ مو ښۀ خیال نۀ دے ساتلے، زۀ به تاسو له د دې بد
کار سزا درکړم، مالِک خُدائ فرمائی. ۳ زۀ به په خپله د
خپلې رمې باقی پاتې شوی خلق د هغه ټولو مُلکونو نه راغونډ
کړم کومو ته چې ما شړلی وُو او خپل وطن ته به یې واپس
راولم. چرته چې به هغوئ مېوه ونیسی او د هغوئ شمېر به
ډېر شی. ۴ زۀ به په هغوئ شپونکی مقرر کړم چې د هغوئ
خیال وساتی، او هغوئ به نور د چا نه نۀ یرېږی او نۀ به
پرېشانه شی. او نۀ به یو ورک شی. ما مالِک خُدائ دا
وفرمائیل.“ ۵ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”هغه ورځې
راتلونکې دی چې، زۀ به د داؤد په نسل کښې یوه صادقه
څانګه راپورته کړم او بادشاه به یې کړم، او هغه به په
هوښیارتیا سره حکومت کوی. او هغه به په مُلک کښې
صداقت او اِنصاف قائم کړی. ۶ په هغه ورځو کښې به
یهوداه بچ کړے شی او اِسرائیل به د سلامتۍ سره ژوند کوی.
او دا هغه نوم دے چې په کوم سره به هغه یادېږی، مالِک
خُدائ زمونږ خلاصونکے دے.“ ۷ مالِک خُدائ فرمائی
چې، ”نو هغه ورځې راتلونکې دی چې خلق به نور داسې قسم
نۀ خوری چې په هغه ژوندی خُدائ مو دې قسم وی چا چې
بنی اِسرائیل د مِصر نه رابهر کړل، ۸ خو هغوئ به داسې
وائی چې، قسم دے په هغه ژوندی مالِک خُدائ باندې چا
چې د بنی اِسرائیل نسل د شمال او د نورو مُلکونو نه واپس
راغونډ کړو کله چې هغۀ هغوئ تس نس کړی وُو. نو بیا به
هغوئ په خپل مُلک کښې اوسیږی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# دروغژن نبیان

٩ زما زړۀ د دروغژنو نبیانو په وجه مات شوے دے، او
ټول هډُوکی مې په لړزان دی. زۀ لکه د هغه نشائی په شان
شوے یم څوک چې په شرابو زیات نشه شوے وی، نو دغه
شان زۀ د مالِک خُدائ او د مقدس کلام په وجه نشه یم. ١٠
دا مُلک د زناکارانو نه ډک دے، نو په دې وجه مالِک خُدائ
وریاندې لعنت نازل کړے دے نو زمکه اوچه شوې ده او په
للمه کښې شینکے اوچ شوے دے. نبیان په بدو لارو روان
شوی دی او خپل طاقت په غلطه طریقه استعمالوی. ١١
مالِک خُدائ فرمائی چې، ”نبیان او اِمامان دواړه بې‌خُدایه
کارونه کوی، تر دې چې ما په خپل کور کښې هم د دوئ
بدعملی پیدا کړی دی. ١٢ نو په دې وجه چې هغوئ چرته
هم ځی د هغوئ پښې به ښوئیږی، او د تیارو خوا ته به بوتلے
شی او هلته به هغوئ راوغورزیږی. زۀ به په هغوئ باندې د
هغوئ د سزا په مقرر شوی وخت کښې افت نازل کړم.“
مالِک خُدائ داسې فرمائی. ١٣ ”ما د سامریه د نبیانو دا
خراب کارونه ولیدل چې کوم هغوئ د بعل په نوم پیشګوئې
خلقو ته کوله او زما قوم بنی اِسرائیل یې بې‌لارې کړو. ١٤
خو ما د یروشلم په پیغمبرانو کښې د دې نه زیات خراب کار
ولیدلو، هغوئ زنا کوی او بې‌ایمانی کوی، او د بدعملو خلقو
حوصله افزائی کوی، نو بیا یو هم د خپلو بد عملونو نه نۀ منع
کیږی. هغوئ ټول زما دپاره د سدوم د خلقو په شان خراب
دی، او د یروشلم خلق ما ته د عموره د خلقو په شان بد
دی.“ ١٥ نو ځکه مالِک خُدائ ربُ الافواج د یروشلم د
نبیانو په حقله داسې فرمائی، ”زۀ به هغوئ ته د خوړلو دپاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تریخ خوراک او د څښلو دپاره به ورله د زهرو اوبهٔ ورکړم،
ځکه چې د یروشلم د نبیانو په وجه، په ټول مُلک کښې
بې‌دینی خوره شوې ده.“ ۱۶ مالِک خُدائ ربُ الافواج خپلو
خلقو ته فرمائی چې، ”دا نبیان چې تاسو ته کومه پېشگوئې
کوی د هغوئ خبرو ته غوږ مهٔ نیسئ، هغوئ تاسو د دروغو په
اُمیدونو سره ډکوی. هغوئ تاسو ته د مالِک خُدائ پېغام نهٔ
درکوی خو صرف د خپل سوچ او زړهٔ نه تاسو ته رویا پېش
کوی. ۱۷ هغوئ هغه خلقو ته مسلسل خبرې کوی څوک
چې ما سپک گڼی، چې مالِک خُدائ فرمائی چې تاسو به په
خیر خیریت یئ. او هغوئ ټولو ته څوک چې د خپل سرکشه
زړهٔ تابعداری کوی هغوئ وائی تاسو ته به هیڅ قسمه نقصان
ونهٔ رسیږی.“ ۱۸ خو په هغوئ کښې کوم یو د مالِک خُدائ
په حضور کښې ولاړ وو چې هغه څهٔ یې لیدلی یا اورېدلی وی
کوم چې هغهٔ فرمائیلی دی؟ یو هم نه. چا هغهٔ ته غوږ نیولے
او چا د هغهٔ آواز اورېدلے دے؟ ۱۹ گورئ د مالِک خُدائ
غضب لکه د طوفان په شان راروان دے، او د هغهٔ غضب به
د ډېر تیز طوفان په شان د بدعملو په سرونو باندې راتاو شی.
۲۰ او د مالِک خُدائ دا غضب به تر هغې پورې سوړ نهٔ
شی ترڅو پورې چې د هغهٔ د زړهٔ مقصد پوره شوے نهٔ وی.
په راتلونکو ورځو کښې به تاسو په دې ټولو باندې پوره پوهه
شئ. ۲۱ ”ما دا نبیان نهٔ دی لېږلی، خو هغوئ د خپل ځان نه
د پېغام ورکولو دپاره په منډه شوی دی، ما د هغوئ سره
خبرې نهٔ دی کړې، خو هغوئ پېشگویانې وکړې. ۲۲ کهٔ
چرې هغوئ زما په حضور کښې ما سره ولاړ وے، نو هغوئ
به بیا زما کلام خلقو ته اورولو او هغوئ به یې د خپلو
شرارتونو او بدعملونو نه را اړول.“ ۲۳ مالِک خُدائ فرمائی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې، "زۀ هغه خُدائ پاک یم چې هر چرته حاضر ناظر یم نه
چې په یو ځائ کښې. ۲۴ ولې داسې څوک شته چې زما نه
خپل ځان چرته پټ کړی او زۀ هغه ونۀ وینم؟" مالِک خُدائ
فرمائی. "ولې زۀ په هر ځائ زمکه او آسمان کښې نۀ یم
څۀ؟" مالِک خُدائ فرمائی. ۲۵ "ما هغه هر څۀ واورېدل څۀ
چې دې پېغمبرانو خلقو ته وفرمائیل څوک چې زما په نوم
دروغ وائی او خلقو ته وائی چې، ما خوب ولیدو. په خوب
کښې په ما الهام وشو. ۲۶ دا خبرې به ترڅو پورې د دې
دروغژنو پېغمبرانو په زړونو کښې راځی، څوک چې د خپلو
سوچونو پېغامونه خلقو ته بیانوی. ۲۷ د هغوئ خیال دا دے
چې کوم خوبونه چې دوئ په خپلو کښې یو بل ته بیانوی نو د
دې په وجه به زما خلق زما نوم هېر کړی، لکه څنګه چې
پخوا د دوئ پلار نیکۀ زما نوم هېر کړے وو او د بعل بُت
عبادت یې وکړو." ۲۸ مالِک خُدائ فرمائی چې، "کوم
پېغمبر چې خوب لیدلے دے هغه دې بېشکه خپل خوب
بیان کړی، خو چې په چا زما کلام نازل شوے دے هغه دې
په وفادارئ سره کلام خلقو ته واوروی. تش بوس د غنمو
برابر دی څۀ؟" ۲۹ مالِک خُدائ فرمائی چې، "آیا زما پېغام
د اور په شان نۀ دے څۀ، او زما پېغام د څټک په شان نۀ
دے څۀ چې ګټ ټوټه ټوټه کوی؟ ۳۰ نو ځکه زۀ د هغه
پېغمبرانو خِلاف یم څوک چې د یو بل نه خبرې نقل کوی او
بیا خلقو ته وائی چې دا کلام زما د طرفه دے." ۳۱ مالِک
خُدائ فرمائی چې، "زۀ د هغه پېغمبرانو خِلاف هم یم چا چې
خپله خولۀ پرانستی وی او د خپل ځان نه لګیا وی خبرې
کوی او بیا وائی چې مالِک خُدائ داسې فرمائی. ۳۲ په
حقیقت کښې زۀ د هغوئ خلاف یم،" مالِک خُدائ دا بیان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوی، ”څوک چې د دروغو خوبونه جوړوی او زما خلقو ته
هغه بيانوی، او هغوئ په خپلو بې‌حسابه دروغو سره زما خلق
بې‌لارې کوی، حال دا چې نهٔ ما هغوئ لېږلی دی او نهٔ مې
مقرر کړی دی. او هغوئ د خلقو د فائدې هيڅ خبرې نهٔ
کوی.“ مالِک خُدائ دا بيان کوی.

## د مالِک خُدائ پېغام

۳۳ ”يرمياه، کله چې د دې خلقو نه عام کس يا پېغمبر يا
اِمام ستا نه تپوس وکړی چې، تا سره د مالِک خُدائ نه کوم
دروند پيتهے شته څهٔ؟ نو تهٔ په جواب کښې ورته ووايه، نو
هغه دروند پيتهے هم تهٔ يې، مالِک خُدائ فرمائی، زهٔ به تا
وغورزوم. ۳۴ کهٔ چرې يو پېغمبر، يا اِمام يا بل څوک دا
دعویٰ وکړی چې، ”دا د مالِک خُدائ دروند پيتهے دے،“ زهٔ
به دهٔ له او د دهٔ خاندان له سزا ورکړم. ۳۵ نو بيا دې دا هر
يو کس په تاسو کښې د يو بل نه او د خپلو دوستانو او
خپلوانو نه تپوس کوی چې، ”مالِک خُدائ په جواب کښې
څهٔ فرمائيلی دی؟“ او يا دا چې، ”مالِک خُدائ کومه خبره
کړې ده؟“ ۳۶ خو نور به تهٔ بيا کله هم دا ونهٔ وائې چې، ”د
مالِک خُدائ پېغام يو دروند پيتهے دے،“ ځکه چې د هر سړی
خپله خبره د هغهٔ پېغام وګرځېدو نو تاسو بيا دغه شان د
ژوندی مالِک خُدائ، ربُ الافواج خُدائ زمونږ د خُدائ پاک
پېغام ته تعبير ورکوئ. ۳۷ تاسو پېغمبرانو ته داسې ووايئ
چې، ”مالِک خُدائ تاسو له څهٔ جواب درکړو؟ مالِک خُدائ
څهٔ فرمائيلی دی؟“ ۳۸ او کهٔ بيا هم تاسو دا دعویٰ کوئ
چې، ”دا د مالِک خُدائ نه دروند پيتهے دے،“ نو مالِک خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیا داسې فرمائی چې، ”تاسو خبرې خو کوئ چې دا د مالِک
خُدائ نه دروند پیټے دے، اګر چې ما درته فرمائیلی وُو چې
داسې خبرې مهٔ کوئ چې دا د مالِک خُدائ د طرف نه دروند
پیټے دے،“ ۳۹ نو په دې وجه به زهٔ تاسو په یقین سره هېر
کړم او سره د هغه ښاره کوم چې ما تاسو او ستاسو پلار
نیکهٔ له ورکړو د خپل حضور نه لرې وشړم. ۴۰ زهٔ به په
تاسو باندې نهٔ ختمېدونکے لعنت او ابدی شرم نازل کړم چې
هیڅکله به هېرولے نهٔ شی.“

## د اینځرو دوه ټوکرۍ

۲۴ ۱ وروستو د دې نه چې د بابل بادشاه نبوکدنضر د
یهویاکین د یهویقیم زوئ د یهوداه بادشاه بابل ته سره د
آفسرانو، کاریګرانو او لوهارانو قېدیان بوتلل نو بیا مالِک
خُدائ ما ته په رویا کښې د اینځرو دوه ټوکرۍ راوښودلې
چې د مالِک خُدائ د کور مخې ته پرتې وې. ۲ په یوه
ټوکرۍ کښې اول موسمی او پاخهٔ اینځر وُو، او په بله ټوکرۍ
کښې خراب اینځر وُو، دومره ډېر خراب چې د خوړلو نهٔ وُو.
۳ نو بیا مالِک خُدائ ما ته وفرمائیل، ”یرمیاه تا ته څهٔ
ښکاری؟“ ما ورته په جواب کښې ووئیل، ”اینځر. ښهٔ اینځر
ډېر ښهٔ دی خو خراب اینځر ډېر خراب دی، دومره خراب
دی چې د خوړلو قابل هم نهٔ دی.“ ۴ نو بیا د مالِک خُدائ
کلام په ما نازل شو چې، ۵ ”مالِک خُدائ، د بنی اِسرائیلو
خُدائ پاک داسې فرمائی چې، دا ښهٔ اینځر د یهوداه د هغه
خلقو په شان دی چې ما د بابل مُلک ته د دې ځائ نه
جلاوطن کړی دی او زهٔ هغوئ ته هم دغه شان ښهٔ ګورم.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ زۀ به هغوئ ته په ښۀ سترګه ګورم، او زۀ به هغوئ دې
مُلک ته واپس راولم. زۀ به هغوئ آباد کړم او زۀ به هغوئ ونۀ
غورزوم، زۀ به هغوئ وکرم او د بېخ نه به يې نۀ راوباسم.
۷ زۀ به هغوئ له دا خواهش ورکړم چې هغوئ ما وپېژنی
چې زۀ مالِک خُدائ يم. هغوئ به زما مخلوق وی، او زۀ به د
هغوئ خُدائ پاک يم، ځکه چې هغوئ به په پوره زړۀ سره ما
ته رجوع وکړی. ۸ مالِک خُدائ وفرمائيل، هغه خراب
اينځر چې دومره ډېر خراب دی چې د خوړلو قابل هم نۀ دی،
نو دغه شان به زۀ د صدقياه د يهوداه بادشاه، او د هغۀ د
آفسرانو سره څوک چې د يروشلم نه ژوندی پاتې شوی دی
کۀ هغه دلته اوسېږی او يا کۀ په مِصر کښې دی دغه شان
سلوک وکړم. ۹ زۀ به هغوئ په زمکه د هر يو مُلک دپاره د
دهشت مثال او د افت زده ګانو نمونه وګرځوم. زۀ چې
هغوئ چرته هم خوارۀ کړم نو هغوئ به د عبرت يو مثال جوړ
شی او خلق به د هغوئ نوم د بې‌عزتۍ دپاره استعمالوی او د
هغوئ بې‌عزتی به کوی او لعنت به پرې وائی. ۱۰ زۀ به په
هغوئ جنګ راولم، لوږه او وبا به پرې راولم، تر هغې پورې
چې هغوئ به په هغه مُلک کښې ختم کړم کوم چې ما دوئ
او د دوئ پلار نيکۀ له ورکړے وو.“

## په بابل کښې د اويا کلونو د قيد پيشګوئې

۲۵ ۱ يرمياه ته د يهوداه بادشاه د يوسياه د زوئ
يهويقيم د بادشاهۍ په څلورم کال، د يهوداه د ټولو خلقو په
حقله د مالِک خُدائ د طرف نه پيغام ورکړے شو. په هم دغه
کال باندې نبوکدنضر د بابل په تخت کښېناستو. ۲ نو بيا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یرمیاه نبی د یروشلم ټولو اوسېدونکو او د یهوداه ټول قوم ته
بیان وکړو او ورته یې وفرمائیل، ۳ ”د یهوداه بادشاه د
امون د زوئ یوسیاه د بادشاهۍ د دیارلسم کال نه واخله، تر
اوسه پورې مالِک خُدائ د درویشتو کالو دپاره ما ته پېغام
راکړو او ما هغه تاسو ته څو ځله در رسولے دے، خو تاسو
ما ته غوږ ونۀ نیولو. ۴ سره د دې چې مالِک خُدائ بیا بیا
خپل خِدمتګاران پېغمبران رالېږلی دی، تاسو هغوئ ته نۀ غوږ
نیولو او نۀ مو هغوئ ته توجو ورکوله. ۵ هغوئ به تاسو ته
فرمائیل چې، تاسو هر یو خپلې خرابې طریقې او هغه بد
کارونه پرېږدئ کوم چې تاسو کوئ، نو بیا تاسو په هغه مُلک
کښې تر تله پورې اوسېدلے شئ کوم چې ما تاسو او ستاسو
پلار نیکۀ له ورکړے دے. ۶ هغوئ به تاسو ته فرمائیل چې
د نورو معبودانو عبادت او خِدمت مۀ کوئ، تاسو چې په
خپلو لاسونو کوم بُتان جوړ کړی دی هغوئ ته په عبادت
کولو زما قهر مۀ راپاروئ. نو بیا به زۀ تاسو ته نقصان نۀ
درکوم. ۷ مالِک خُدائ وفرمائیل چې، خو تاسو ما ته غوږ
ونۀ نیولو، او تاسو چې څۀ جوړ کړی وُو د هغې په وجه تاسو
زۀ په قهر او غصه کړم، او تاسو په خپله خپل ځان ته
نقصان ورسولو. ۸ نو په دې وجه مالِک خُدائ ربُ
الافواج داسې فرمائی چې، ځکه چې تاسو زما پېغام ته غوږ
ونۀ نیولو، ۹ زۀ به د شمال ټول خلق او خپل خدمتګار د
بابل بادشاه نبوکدنضر د دې مُلک او په دې کښې د
اوسېدونکو خلقو او د خواوشا ټولو قومونو په خلاف د جنګ
دپاره راولېږم. زۀ به هغوئ بلکل تباه کړم او هغوئ به د خلقو
دپاره د یرې دهشت، ټوقو، او مسخرو یو مثال وګرځوم، او
په ابدی کنډرو به یې بدل کړم. مالِک خُدائ دا فرمائی. ۱۰

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زۀ به د هغوئ د خندا او د خوشحالئ چغې د دې ځائ نه
خاموش کړم او زۀ به د هغوئ د وادۀ د ناوې او د زلمی د
خوشحالئ آوازونه خاموش کړم. د هغوئ د مېچونو آوازونه
به خاموش کړم او د هغوئ ډيوې به مړې کړم. ۱۱ دا ټول
مُلک به په شاړو او خرابو باندې بدل شی، او دا قومونه به د
اويا کالونو دپاره د بابل د بادشاه خِدمت کوی. ۱۲ خو چې
کله اويا کالونه پوره شی، نو بيا به زۀ د بابل بادشاه او د هغۀ
قوم، او د هغۀ مُلک له سزا ورکړم، د هغوئ د هغه گناهونو په
وجه کوم چې هغوئ کړی دی، مالِک خُدائ دا فرمائی، او د
تل دپاره به د بابل مُلک په دشته او خرابه بدل کړم. ۱۳ زۀ
به په دې مُلک هغه ټول افتونه راولم کوم چې ما د دۀ خلاف
بيان کړی دی، او په دې کِتاب کښې ليکلے شوی دی او کوم
چې د يرمياه نبی په ذريعه د ټولو قومونو خلاف پېشگوئې
شوې ده. ۱۴ نور ډېر قومونه او غټ بادشاهان به هغوئ
غلامان جوړ کړی، او زۀ به هغوئ ته هم هغه شان سزا
ورکړم کومه سزا چې هغوئ نورو ته ورکړې وه.“

## د خُدائ پاک د غضب پيالئ

۱۵ مالِک خُدائ چې د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک دے ما ته
يې وفرمائيل، ”زما د لاس نه دا پيالئ واخله چې زما د غضب
د شرابو نه ډکه ده او ټولو قومونو ته چې زۀ تا استوم په
هغوئ يې وڅښوه. ۱۶ کله چې هغوئ دا وڅښی، نو هغوئ
ټول به زنګيږی او تيندکونه به خوری او کوم جنګ چې زۀ په
دوئ باندې راولم د هغې په وجه به ليونی شی.“ ۱۷ نو بيا ما
د مالِک خُدائ د لاس نه پيالئ واخستله او په هغه ټولو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قومونو مې وښئيله چې زۀ چا ته هغۀ ورلېږلے وم. ۱۸ زۀ
یروشلم او د یهوداه ټولو ښارونو او د هغوئ بادشاهانو او
مشرانو له لاړم او هغوئ ټولو د غضب د پيالۍ نه وڅښل. د
هغه وخت نه تر اوسه پورې، دا مُلک تباه شو، او د هغوئ
دپاره د يرې او دهشت، ټوقو مسخرو شو او خلقو د هغوئ په
نومونو لعنت وئيلو. ۱۹ ما دا پيالۍ فِرعون د مِصر بادشاه
او د هغۀ نوکرانو او آفسرانو له او ټولو مِصريانو له ورکړه،
۲۰ او نورو ټولو هغه پردو خلقو ته څوک چې په دې مُلک
کښې اوسېدل، او د عُوض ټولو بادشاهانو ته، د فلستيه د
ټولو ښارونو بادشاهانو ته لکه اسقلون، غزه، عقرون، او کوم
خلق چې په اشدود کښې پاتې وُو ورکړه، ۲۱ د ادوم، موآب
او عمون قومونه ته، ۲۲ د صور او صيدا ټولو بادشاهانو ته،
او د سمندر د ساحلی علاقو بادشاهانو ته، ۲۳ د ددان، تيما
او بُوز ښارونو او هغه ټولو خلقو ته څوک چې لرې اوسېدل،
۲۴ د عربو ټولو بادشاهانو ته او د ټولو هغه اجنبيانو
بادشاهانو ته چې هلته په ريګستان کښې اوسېدل، ۲۵ د
زِمری، عيلام او د مادی ټولو بادشاهانو ته، ۲۶ او ما د
شمال ټولو نزدې لرې بادشاهانو ته، او پرله پسې د زمکې په
مخ ټولو بادشاهتونو ته ورکړه. او د دې هر څۀ نه وروستو د
بابل بادشاه به يې هم وڅښی. ۲۷ بيا مالِک خُدائ ما ته
وفرمائيل، ”اوس هغوئ ته ووايه چې، مالِک خُدائ ربُ
الافواج د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک فرمائی، تاسو وڅښئ چې
نشه شئ او اولټۍ وکړئ، او چې راوغورزېږئ چې بيا هيڅکله
راپورته نۀ شئ ځکه چې زۀ به په تاسو جنګ راولم. ۲۸ خو
کۀ هغوئ ستا د لاس د پيالۍ اخستلو او څښلو نه اِنکار
وکړی، هغوئ ته ووايه، مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی چې،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا پيالۍ به ضرور څښئ. ٢٩ ګورئ چې ما د تباهۍ کار په
يروشلم کښې شروع کړلو کوم ښار چې زما په نوم ياديږی.
نو ولې تاسو به د سزا نه خلاص شئ څۀ؟ تاسو به بې‌سزا
پاتې نۀ شئ، ځکه چې زۀ په ټوله زمکه کښې او د هغوئ په
ټولو اوسېدونکو باندې جنګ راولم، مالِک خُدائ ربُ الافواج
دا فرمائی. ٣٠ نو اوس دا ټولې خبرې د هغوئ خلاف بيان
کړه او هغوئ ته ووايه چې، مالِک خُدائ به د آسمان د اوچتو
او مقدسو ځايونو نه لکه د ازمرى په شان وغړمبيږی او هغه
به د خپل وطن خلاف زوروَر آوازونه وکړی. او هغه به داسې
په تېزه آوازونه وکړی لکه څنګه چې د انګورو نچوړونکی په
هغه وخت کښې شور کوی. او هغه به د هغوئ ټولو خلاف په
زوره چغې ووهی څوک چې په دُنيا کښې اوسيږی. ٣١ او د
هغۀ د عدالت آواز به د دُنيا د يو سر نه تر بل سره پورې
ورسيږی. ځکه چې مالِک خُدائ د قومونو خِلاف عدالت
کوی. او هغه به د ټولو انسانانو فيصله واوروی او بدکاران به
جنګونو ته حواله کړی. مالِک خُدائ دا فرمائی. ٣٢ ربُ
الافواج داسې فرمائی چې، وګورئ، افت د يو مُلک نه بل
مُلک ته پيوسته خوريږی او يو لوئ طوفان د دُنيا د بل سر نه
راروان دے. ٣٣ په هغه ورځ به چې کوم خلق مالِک خُدائ
وژلی وی د هغوئ لاشونه به هر چرته د دُنيا د يو سر نه تر بل
سره پورې پراتۀ وی. په هغوئ باندې به نۀ څوک ماتم کوی او
نۀ به يې څوک رايوځائ کولے شی او نۀ به ښخولے شی خو
په زمکه به لکه د ډيران د ډيرى په شان پراتۀ وی. ٣٤ اے د
قوم شپونکو تاسو په خپل ځان باندې ژړا او ماتم وکړئ، او
اے د قومونو مشرانو تاسو په خاورو ايرو کښې ورغړيږئ.
ځکه ستاسو د حلاليدلو او خوريدلو وخت رارسيدلے دے.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو به د خټو د نازک لوښی په شان راوغورزېږئ او ټوکړې
ټوکړې به شئ. ۳۵ د شپونکو سره به د تېښتې دپاره يو ځائ
هم نۀ وی، او د قوم د مشرانو سره به د منډې دپاره يو ځائ
هم نۀ وی. ۳۶ د شپونکو ژړا انګولا واورئ، او د قوم د
مشرانو ژړا او فرياد واورئ، ځکه چې مالِک خُدائ د هغوئ
مُلک تباه کوی. ۳۷ د مالِک خُدائ د يروونکی قهر په وجه
به د آرام ځايونه خراب شی. ۳۸ مالِک خُدائ لکه د يو
طاقتور ازمری په شان کله چې د خپل غار نه راوځی او په
خلقو حمله وکړی نو دغه شان به د ظالم تيره تُوره او د
مالِک خُدائ سخت قهر به د هغوئ مُلک تباه کړی.“

## د حضرت يرمياه د مرګ نه بچ کېدل

۲۶ ۱ دلته يرمياه ته د مالِک خُدائ پېغام د يهويقيم د
يوسياه د زوئ د يهوداه بادشاه د حکومت په وړومبنی سر
کښې ورکړے شو. ۲ مالِک خُدائ هغۀ ته داسې وفرمائيل
چې، ”لاړ شه او د مالِک خُدائ د کور په دربار کښې ودرېږه،
او هغه خلقو ته اعلان وکړه ځوک چې د يهوداه د خوا او شا
ښارونو نه د عبادت دپاره راغلی دی. هغوئ ته زما کلام پوره
پوره واوروه او يو لفظ هم ترې نه کم نۀ کړې. ۳ کېدے
شی چې هغوئ تا ته غوږ ونيسی او هر يو د خپلو بدو لارو نه
راواوړی. کومه منصوبه چې ما د هغوئ خلاف جوړه کړې
وه، نو بيا به زۀ خپل سوچ بدل کړم او هغه افت به پرې نۀ
راولم. ۴ هغوئ ته ووايه، مالِک خُدائ فرمائی، کۀ چرې
تاسو ما ته غوږ ونۀ نيسئ او کوم شريعت چې ما تاسو ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پېش کړے دے د هغې پيروى ونۀ کړئ، ۵ او کۀ چرې
تاسو زما د خِدمت کوونکو پېغمبرانو کلام ته غوږ ونۀ نيسئ
کوم چې ما تاسو ته بار بار درلېږلى دى خو تاسو هغوئ ته
غوږ ونۀ نيولو، ۶ نو زۀ به د دې کور سره هم هغه شان
کار وکړم لکه څنګه مې چې د سيلا سره کړے وو، او د
زمکې په مخ به د دُنيا ټول قومونه د دې ښار نوم په لعنت
کولو سره اخلى.“ ۷ کله چې يرمياه د مالِک خُدائ په کور
کښې دا کلام واورولو نو اِمامانو، پېغمبرانو او ټولو خلقو د
هغۀ کلام واورېدو، ۸ نو چې څنګه يرمياه هغه کلام خلقو
ته اورول ختم کړو کوم چې ورته مالِک خُدائ حکم کړے وو
چې دې خلقو ته يې واوروى نو سمدستى اِمامانو، نبيانو او
ټولو خلقو هغه ونيولو او چغې يې کړې، ”دا ضرورى ده چې
تۀ د دې په وجه مړ شې. ۹ تۀ ولې د مالِک خُدائ په کور
کښې د هغۀ په نوم پېغام ورکوې چې دا کور به لکه د سيلا په
شان شى او دا ښار به په صحرا او کنډرو بدل شى؟“ نو د
مالِک خُدائ په کور کښې ټول خلق د يرمياه نه راتاو شول.
۱۰ کله چې د يهوداه آفسرانو د دې خبرو په حقله واورېدل،
هغوئ د شاهى محل نه د مالِک خُدائ د کور طرف ته لاړل
او هلته د نوې دروازې په نوم دروازه کښې په داخلېدو سره
په خپلو ځايونو باندې کښېناستل. ۱۱ نو بيا اِمامانو او
پېغمبرانو، ټولو آفسرانو او نورو خلقو ته وفرمائيل چې، ”دې
سړى ته دې د مرګ سزا ورکړے شى ځکه چې هغۀ د دې
ښار خِلاف پېشګوئې وکړه او تاسو په خپلو غوږُونو
واورېده.“ ۱۲ نو بيا يرمياه ټولو آفسرانو او ټولو خلقو ته
وفرمائيل، ”زۀ مالِک خُدائ رالېږلے يم چې د دې کور او د
دې ښار خِلاف هغه ټولې پېشګويانې وکړم کومې چې تاسو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واوړېدلې. ۱۳ تاسو اوس د خپلو طريقو او اعمالو اصلاح
وکړئ او د مالِک خُدائ ستاسو د خُدائ پاک تابعداری
وکړئ. نو بيا به مالِک خُدائ خپل سوچ بدل کړی او د کوم
افت د نازلېدو منصوبه يې چې جوړه کړې ده هغه به نۀ
نازلوی. ۱۴ ترڅو پورې چې زما خبره ده، زۀ خو ستاسو په
قبضه کښې يم، څۀ چې تاسو ته ښۀ او صحيح ښکاری هم
هغه ما سره وکړئ. ۱۵ خو تاسو په دې يقين وساتئ، کۀ
چرې تاسو ما مړ کړئ، نو تاسو او د دې ښار خلق څوک
چې په کښې اوسېږی د يو بې‌ګناه کس خون به په خپله غاړه
واخلئ ځکه چې په حقيقت کښې زۀ مالِک خُدائ تاسو ته
رالېږلے يم، چې دا ټولې خبرې ستاسو غوږونو ته
دررسوم.“ ۱۶ نو آفسرانو او خلقو چې دا واورېدل، نو
اِمامانو او پېغمبرانو ته يې ووئيل، ”دې سړی ته دې د مرګ
سزا ورنۀ کړے شی، ځکه چې هغۀ مونږ ته د مالِک خُدائ
زمونږ د خُدائ پاک په نوم خبرې وکړې.“ ۱۷ نو بيا د قوم
يو څو مشران راپاڅېدل او ټولو حاضرو خلقو ته يې ووئيل
چې، ۱۸ ”د مورشيت ميکاه نبی چې د حزقياه د بادشاهت
په ورځو کښې د يهوداه بادشاه وو، پېشګوئې وکړه. هغۀ د
يهوداه ټولو خلقو ته وفرمائيل، دا هغه څۀ دی چې مالِک
خُدائ ربُ الافواج يې فرمائی، صيون به لکه د پټې په شان په
يوې واړولے شی، د يروشلم نه به د خاورو ډېرے جوړ شی،
او په اوچتو غونډو چرته چې د خُدائ کور دے په هغې کښې
به جاړې بوټی راشنۀ شی. ۱۹ ولې حزقياه چې د يهوداه
بادشاه وو هغه په مرګ محکوم کړو څۀ؟ آيا حزقياه د مالِک
خُدائ نه ونۀ يرېدو چې د هغۀ رحم ولټوی؟ آيا مالِک خُدائ
خپله فيصله بدله نۀ کړه د کوم افت د رانازلېدو چې هغۀ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دوئ خلاف منصوبه جوړه کړې وه؟ مونږ په خپله په خپل
ځان د سخت افت راوستو په حالت کښې يُو.“

## د اورِياه نبی قتلول

۲۰ په هغه ورځو کښې يو بل نبی د اورِياه په نوم چې د
قِريَت‌يعريم اوسېدونکے وو او د سمعياه زوئ وو د يرمياه
نبی په شان د مالِک خُدائ په نوم نبوت کولو. هغهٔ هم د دې
ښار او د دې خلقو خلاف لکه څنګه چې يرمياه خبرې کړې
وې يو شان خبرې وکړې. ۲۱ کله چې يهويقيم بادشاه، او د
هغهٔ ټولو فوجيانو او آفسرانو د اورِياه خبرې واورېدلې، نو
بادشاه د هغهٔ د قتلولو کوشش وکړو. خو کله چې اورِياه
واورېدل نو د يرې نه مِصر ته وتښتېدلو. ۲۲ نو بيا يهويقيم
بادشاه الناتن د عکبور زوئ مِصر ته سره د نورو کسانو
ولېږلو. ۲۳ نو هغوئ اورِياه په مِصر کښې ونيولو او يهويقيم
بادشاه له يې راوستلو، او هغه يې په تُوره قتل کړو او د هغهٔ
لاش يې د عامو خلقو په قبرستان کښې ښخ کړو. ۲۴ خو
اخيقام د سافن زوئ د يرمياه مدد کولو، نو ځکه هغه د مرګ
دپاره خلقو ته حواله نهٔ کړے شو.

## يرمياه جغ په غاړه کړو

۲۷ ۱ د صدقياه د يوسياه د زوئ د يهوداه د بادشاهۍ په
تازه ورځو کښې دا پېغام يرمياه ته د مالِک خُدائ له طرفه
ورکړے شو. ۲ مالِک خُدائ ما ته وفرمائيل چې، ”د خپل
ځان دپاره جغ جوړ کړه او د څرمنې په تسمو سره يې په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپله غاړه کښېږي واچوه.“ ۳ بیا مالِک خُدائ ما ته
وفرمائیل چې، ”د ادوم، موآب، عمون، صور او د صیدا
بادشاهانو ته د هغوئ د هغه سفیرانو په ذریعه پېغام ورواستوه
څوک چې یروشلم ته د یهوداه د بادشاه صدقیاه لیدلو له
راغلی وُو. ۴ هغوئ له دا پېغام د هغوئ د مالِکانو دپاره
ورکړه چې دا هغه څۀ دی چې ربُ الافواج د بنی اِسرائیلو
مالِک خُدائ یې فرمائی، ۵ ما په خپل لوئ طاقت او
زورَور لاس سره زمکه او په کښې ټول انسانان او څناور پېدا
کړل، او هر چا ته چې زما خوښه وی نو بیا دا هغوئ له
ورکوم. ۶ خو زۀ به اوس ستاسو ټول مُلکونه خپل خِدمت
کوونکی نبوکدنضر د بابل بادشاه ته حواله کړم، تر دې چې
زۀ به ځنګلی ځناور هم د دۀ تابعدار کړم. ۷ ټول قومونه به
د هغۀ خِدمت وکړی، او د هغۀ د زوئ او د نمسی به تر هغې
پورې خِدمت کوی ترڅو چې د هغۀ د مُلک د ختمېدو دپاره
مقرر شوے وخت نۀ وی راغلے. نو بیا به نور ډېر قومونه او
لوئ بادشاهان راشی او بابلیان به خپل غلامان جوړ کړی.
۸ مالِک خُدائ داسې فرمائی چې، کۀ چرې یو قوم یا
بادشاهت د نبوکدنضر یعنې د بابل د بادشاه د خِدمت نه
اِنکار وکړی او یا خپل څټ د هغۀ د جغ لاندې نۀ کړی، نو زۀ
به بیا په هغه قوم جنګ، قحط او وبا را نازله کړم، ترڅو چې
بابلیانو هغه قبضه کړے نۀ وی. ۹ نو بیا خپلو دروغژنو
نبیانو، فالګرو، د خوب تعبیر کوونکو، خپل قسمت
معلومونکو او جادوګرو ته غوږ مۀ نیسئ، څوک چې تاسو ته
وائی چې تاسو به د بابل د بادشاه خِدمت نۀ کوئ. ۱۰
هغوئ تاسو ته د دروغو نبوت کوی او په دې خبرو به تاسو د
خپل مُلک نه لرې وشړلے شئ، زۀ به تاسو خوارۀ وارۀ کړم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او تاسو به تباه شئ. ۱۱ خو کۀ کوم یو قوم هم خپل څټ د
بابل بادشاه د جغ لاندې ښکته کړی او د هغۀ خِدمت وکړی،
نو زۀ به دا قوم په خپله زمکه باندې پرېږدم چې هغه وکَری او
هلته اوسيږی." دا د مالِک خُدائ وينا ده. ۱۲ ما هم دا پيغام
د يهوداه بادشاه صدقياه ته ورکړو. ما ورته ووئيل، "خپل
څټونه د بابل بادشاه جغ ته ښکته کړئ، د هغۀ او د هغۀ د
خلقو خِدمت وکړئ، نو تاسو به ژوندی پاتې شئ. ۱۳ نو بيا
ولې تۀ او ستا عوام دې په هغه جنګ، قحط يا وبا مړۀ شی په
کومو چې مالِک خُدائ هر هغه قوم يروی څوک چې د بابل د
بادشاه د خِدمت نه اِنکار کوی؟ ۱۴ د دروغژنو نبيانو خبرو
ته غوږ مۀ نيسئ څوک چې تاسو ته وائی چې د بابل د بادشاه
خِدمت به نۀ کوئ، ځکه چې هغوئ تاسو ته دروغ وائی. ۱۵
مالِک خُدائ په خپله فرمائيلی دی چې، هغوئ ما نۀ دی
درلېږلی. هغوئ زما په نوم د دروغو نبوت کوی. نو ځکه زۀ
به تاسو د خپل مُلک نه وشړم، نو تاسو او هغه نبيان دواړه به
هلاک شئ." ۱۶ نو بيا ما اِمامانو ته ووئيل چې، "دا هغه څۀ
دی چې مالِک خُدائ فرمائيلی دی، هغه نبيانو ته غوږ مۀ
نيسئ چې څوک داسې وائی چې د خُدائ پاک د کور مقدس
څيزونه به ډېر زر د بابل نه راواپس شی. هغوئ تاسو ته د
دروغو پېشګويانې کوی. ۱۷ هغوئ ته غوږ مۀ نيسئ، د بابل
د بادشاه خِدمت کوئ، نو تاسو به ژوندی پاتې شئ. نو بيا دې
ولې دا ښار تباه او په کنډرو بدل شی څۀ؟ ۱۸ کۀ چرې
هغوئ په رښتيا سره پيغمبران وی او د مالِک خُدائ د خوا نه
ورته کلام ورکړے شوے وی نو بيا دې هغوئ ما ته چې
مالِک خُدائ ربُ الافواج يم سوال او مِنت وکړی چې زۀ هغه
پاتې شوی مقدس څيزونه بابل ته پرې نۀ ږدم چې هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يوسی. او چې هغه په يروشلم کښې د مالِک خُدائ په کور او
د يهوداه بادشاه په محل کښې پاتې شی. ۱۹ نو مالِک خُدائ،
ربُ الافواج د هغه ښيزونو په حقله وفرمائيل کوم چې په
يروشلم کښې پاتې وُو لکه د زېړو ستنې او د زېړو ډيګی، او د
اوبو راوړلو ګاډی او نور سامانونه. ۲۰ دا هم هغه پاتې شوی
ښيزونه دی کله چې نبوکدنضر بادشاه د يهوداه بادشاه، د
يهويقيم زوئ يهوياکين او د يهوداه او يروشلم مشران سپين
روبی ټول بابل ته بوتلل. ۲۱ مالِک خُدائ ربُ الافواج د بنی
اِسرائيلو خُدائ پاک فرمائی هغه ښيزونو په حقله کوم چې د
مالِک خُدائ په کور کښې پاتې دی او د يهوداه او په يروشلم
او د بادشاه په محل کښې پاتې دی، ۲۲ دا سامانونه به بابل
ته يوړے شی او دا به زما د راتلو د ورځې پورې هلته وی،
مالِک خُدائ داسې فرمائی چې، نو بيا به زهٔ دا ټول سامان
واپس راوړم او په دې ځائ کښې به يې ولګوم.“

## حضرت يرمياه او حننياه نبی

۲۸ ۱ د يهوداه د بادشاه د صدقياه د بادشاهۍ په تازه
ورځو کښې په هم هغه کال په پينځمه مياشت په څلورم کال
د جبعون د ښار يو پېغمبر د عزور زوئ حننياه د مالِک
خُدائ په کور کښې د اِمامانو او د خلقو په وړاندې ما ته
خبرې وکړې او راته يې وفرمائيل چې، ۲ مالِک خُدائ ربُ
الافواج، د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک فرمائی چې، ”زهٔ به د بابل
د بادشاه جغ مات کړم چې بوج يې په خلقو باندې دے. ۳
زهٔ به په دوو کالو کښې دننه د مالِک خُدائ د کور هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټول مقدس ځيزونه واپس دې ځائ ته راوړم کوم چې
نبوکدنضر بادشاه بابل ته وړلی وُو. ۴ زهٔ به هم د يهوداه
بادشاه د يهويقيم زوئ يهوياکين سره د يهوداه د هغه ټولو
خلقو واپس دې ځائ ته راولم کوم چې په بابل کښې
جلاوطن دی. بېشکه چې زهٔ به د بابل د بادشاه جغ مات
کړم. مالِک خُدائ دا فرمائی.“ ۵ بيا يرمياه پېغمبر د
اِمامانو او د هغه ټولو خلقو په مخکښې کوم چې د مالِک
خُدائ په کور کښې ولاړ وُو حننياه نبی ته داسې جواب
ورکړو، ۶ هغهٔ وفرمائيل چې، ”آمين. مالِک خُدائ دې هم
داسې وکړی. هغه دې ستا پېشګوئي پوره او رښتيا کړی چې
هغه به دوباره ټول د مالِک خُدائ د کور سامان سره د هغه
کسانو چې بابل ته قېديان بوتلے شوی دی دلته واپس راولی.
۷ خو اوس تهٔ هم هغه خبرو ته کومې چې زهٔ تا ته د ټولو
خلقو په وړاندې کوم غوږ ونيسه. ۸ زما او ستا نه ډېر
وړاندې پخوانو نبيانو دا پېشګوئي کړې ده چې په ډېرو مُلکونو
او لويو بادشاهتونو به جنګ، قحط او وبا راځی. ۹ خو
کوم يو پېغمبر چې د خير او سلامتۍ پېشګوئي کوی نو هغه به
په رښتيا سره په دې وپېژندلے شی چې د مالِک خُدائ له
طرفه رالېږلے شوے دے کله چې د هغهٔ پېشګوئي رښتيا
شی.“ ۱۰ نو بيا حننياه د يرمياه نبی د غاړې نه جغ لرې
کړو او ټوټه ټوټه يې کړو، ۱۱ او حننياه ټولو خلقو ته
وفرمائيل چې، ”مالِک خُدائ فرمائی، زهٔ به په دوو کالونو
کښې دننه هم دغه شان د نبوکدنضر بادشاه جغ چې کوم هغهٔ
د ټولو قومونو په غاړه کښې اچولے دے لرې کړم.“ په دې
خبره يرمياه د هغه ځائ نه لاړو. ۱۲ نو بيا څهٔ موده
وروستو کله چې حننياه پېغمبر د يرمياه پېغمبر د څټ نه جغ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مات کړو، نو بیا د مالِک خُدائ کلام په یرمیاه پېغمبر نازل
شو چې، ۱۳ ”لاړ شه او حننیاه ته ووایه چې، مالِک خُدائ
فرمائی، تا خو د لرګی جغ مات کړو، خو د دې په ځائ به
مالِک خُدائ د خلقو په غاړه کښې د اوسپنې جغ واچوی.
۱۴ مالِک خُدائ، ربُ الافواج د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک
فرمائی چې، زهٔ به د دې ټولو قومونو په غاړه کښې د اوسپنې
جغ واچوم ترڅو چې هغوئ د بابل د بادشاه نبوکدنضر
خِدمت وکړی. مالِک خُدائ فرمائیلی دی، تر دې چې زهٔ به د
ځنګل په ځناورو باندې هم نبوکدنضر ته اختیار ورکړم چې د
هغهٔ خِدمت وکړی.“ ۱۵ بیا یرمیاه نبی حننیاه نبی ته
وفرمائیل چې، ”حننیاه ما ته غوږ شه. مالِک خُدائ تهٔ نهٔ یې
رالیږلے، تهٔ دې قوم ته د دروغو نبوت کوې او هغوئ ستاسو
په دروغو باندې باور کوی. ۱۶ نو ځکه بیا مالِک خُدائ په
خپله فرمائی چې، زهٔ اوس تا د زمکې د مخ نه اخوا کوم. په
هم دې کال کښې به تهٔ مړ شې، ځکه چې تا د مالِک خُدائ
خلاف د سرکشۍ تعلیم ورکړے دے.“ ۱۷ نو د هم هغه کال
په اوومه میاشت حننیاه پېغمبر مړ شو.

## په بابل کښې جلاوطنو ته د حضرت یرمیاه نبی خط

۲۹ ۱ دا د هغه خط متن دے کوم چې یرمیاه پېغمبر د
یروشلم نه بابل ته هغه مشرانو او اِمامانو، پېغمبرانو، او نورو
ټولو خلقو ته خوک چې نبوکدنضر بادشاه د یروشلم نه بابل
ته جلاوطن کړی وُو، ۲ هغهٔ دا د هغه وخت نه وروستو
ولیکلو کله چې یهویاکین بادشاه، د هغهٔ مور مَلِکه، د دربار
خصیان آفسران، د یهوداه او یروشلم مشران، ماهِر کسان او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کاریګران د یروشلیم نه شړلی وُو. ٣ هغهٔ هغه خط د
اِلعاسه د سافن زوئ او ګمریاه د خِلقیاه زوئ په لاس ولېږلو،
کوم چې د یهوداه بادشاه صدقیاه د بابل نبوکدنضر له
ولېږلو. په هغې کښې دا لیکلے شوی وُو، ٤ ”مالِک خُدائ
ربُ الافواج، د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک هغه ټولو خلقو ته
فرمائی کوم چې ما مالِک خُدائ هغوئ د یروشلم نه بابل ته
قېدیان بوتلل، ٥ خپل ځان له په بابل کښې کورونه جوړ
کړئ او په هغې کښې اوسېږئ. باغونه وکَرئ او د هغې نه
خوراک کوئ. ٦ تاسو ودونه وکړئ چې زامن او لوڼه مو
پېدا شی. نو دغه شان بیا خپل زامن او لوڼه هم وادهٔ کړئ
چې د هغوئ هم بچی پېدا شی. تاسو په شمېر کښې زیات شئ
نه چې کم شئ. ٧ کوم ښار ته چې ما تاسو جلاوطن کړی
یئ د دغه ښار خیر غواړئ. او مالِک خُدائ ته د هغې دپاره
دُعا کوئ، ځکه کهٔ چرې په هغې کښې خیر وی، نو تاسو به
هم په خیر یئ. ٨ مالِک خُدائ، ربُ الافواج د بنی اِسرائیلو
خُدائ پاک تاسو ته فرمائی چې، خبردار، ستاسو په مینځ
کښې چې کوم نبیان او فالبین اوسېږی چې هغوئ تاسو دوکه
نهٔ کړی. د هغوئ خوبونو ته توجو مهٔ ورکوئ. ٩ ځکه
هغوئ تاسو ته زما په نوم د دروغو پېشګوئې کوی. هغوئ ما
تاسو ته نهٔ دی درلېږلی. مالِک خُدائ داسې فرمائی. ١٠
مالِک خُدائ فرمائی چې، کله چې په بابل کښې ستاسو اویا
کاله تېر شی، نو زهٔ به ستاسو خوا ته راشم او خپله هغه د
رحم وعده به پوره کړم چې تاسو بیا واپس خپل مُلک ته
راولم. ١١ مالِک خُدائ فرمائی چې، ما ته د هغه منصوبو
پته ده زهٔ چې کومې ستاسو دپاره لرم، هغه منصوبه چې
تاسو آبادوی او خوشحالوی، نه چې تاسو ته نقصان رسوی،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه منصوبه چې تاسو ته مستقبل او اُميد درکړی. ۱۲ بيا به
په هغه وخت تاسو ما ته مِنت زاری وکړئ، ما ته به رجوع
وکړئ او ما نه به دُعا وغواړئ، او زۀ به ستاسو دُعا واورم.
۱۳ تاسو به زما لټون کوئ او کۀ چرې په پوره زړۀ سره زما
لټون وکړئ نو تاسو به مې پيدا کړئ. ۱۴ مالِک خُدائ
فرمائی چې، زۀ به تاسو ته اجازت درکړم چې ما پيدا کړئ.
زۀ به ستاسو مُلک دوباره تاسو له درکړم. د هغه ټولو مُلکونو
او ځايونو نه به تاسو واپس راولم په کومو کښې چې ما
خوارۀ کړی وئ، او زۀ به تاسو هغه مُلک ته واپس راولم د
کوم نه چې ما تاسو جلاوطن کړی وئ، مالِک خُدائ فرمائی.
۱۵ تاسو ووايئ چې، مونږ دپاره مالِک خُدائ په بابل کښې
هم پېغمبران راپيدا کړی دی، ۱۶ خو مالِک خُدائ ته غوږ
ونيسئ چې هغه د هغه بادشاه په حقله فرمائی څوک چې د
داؤد په تخت ناست دے او د هغه خلقو په حقله څوک چې په
دې ښار کښې پاتې شوی دی، او ستاسو د مُلک خلقو په
حقله څوک چې تاسو سره جلاوطن شوی نۀ وُو. ۱۷ مالِک
خُدائ ربُ الافواج فرمائی چې، زۀ به په هغوئ باندې جنګ،
قحط او ويا راولم او هغوئ به د هغه خرابو اينځرو په شان
کړم چې د خوړلو قابل نۀ وی. ۱۸ زۀ به په هغوئ جنګ،
قحط او ويا نازله کړم او د هغوئ پسې به يم، او د دُنيا ټول
نور قومونه چې هغوئ ته ګوری نو ورته به د يرې او دهشت
مثال وی او چې چرته هم هغوئ خوارۀ کړم نو ټولو خلقو ته
به يې د نفرت او سپکاوی باعث وګرځوم. ۱۹ مالِک خُدائ
فرمائی چې، ځکه چې هغوئ زما کلام ته غوږ نۀ نيولو، هغه
پېغام چې ما بار بار د خپلو خادِمانو نبيانو په ذريعه هغوئ ته
ورکړے وو. او تاسو جلاوطنو هم زما پېغام ته غوږ ونۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نیولو، مالِک خُدائ فرمائی. ۲۰ نو اوس تاسو ټولو اے
جلاوطن شوو څوک چې ما د یروشلم نه بابل ته لیږلئ د
مالِک خُدائ کلام واورئ. ۲۱ مالِک خُدائ ربُ الافواج، د
بنی اِسرائیلو خُدائ پاک د اخی‌اب د قولایاه د زوئ او د
صدقیاه د معسیاه د زوئ په حقله فرمائی چې، هغوئ تاسو ته
زما په نوم د دروغو پېشګویانې وکړی، زۀ به هغوئ
نبوکدنضر د بابل بادشاه ته حواله کړم، او هغه به هغوئ ستا
د سترګو د وړاندې مړۀ کړی. ۲۲ څکه چې د هغوئ په وجه
به، د یهوداه نه ټول جلاوطن شوی خلق څوک چې په بابل
کښې قېدیان دی هغوئ به داسې ښېرې کوی، مالِک خُدائ
دې تاسو سره د صدقیاه او اخی‌اب په شان کار وکړی څوک
چې د بابل بادشاه په اور کښې سوزولی وُو. ۲۳ څکه چې
هغوئ په بنی اِسرائیلو کښې شرمناک ګناهونه کړی دی،
هغوئ د خپلو ګاونډیانو د ښځو سره د زنا باوجود، زما په
نامه د دروغو پېغام خلقو ته وړاندې کړے دے د کوم چې ما
هغوئ ته حُکم نۀ دے ورکړے. خو ما ته د هغوئ په حقله
عِلم دے او په هغوئ باندې زۀ ګواه یم. مالِک خُدائ داسې
فرمائی.“

## د سمعیاه خط

۲۴ مالِک خُدائ په بابل کښې دا پېغام سمعیاه نحلامی ته
راولېږلو، ۲۵ ”مالِک خُدائ ربُ الافواج د بنی اِسرائیلو
خُدائ پاک داسې فرمائی چې، تا په خپل اختیار سره یو خط
صفنیاه د معسیاه زوئ، اِمام ته، او تا د دې نقل نورو اِمامانو
او د یروشلم خلقو ته ولېږلو، چې په کښې تا ولیکلو چې، ۲۶

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تهٔ مالِک خُدائ د یهویدع په ځائ اِمام جوړ کړې او هغهٔ تهٔ د
خپل کور مشر جوړ کړې. نو تا ته په کار دی چې هر یو
لیونے کس چې په دروغو سره نبوت کوی د لرګی په کنده
کښې بند کړې او په غاړه کښې ورته د اوسپنې زنځیر
واچوې. ۲۷ نو بیا تاسو د عنتوت یرمیاه ته زورنه ولې نهٔ ده
ورکړې، چا چې ستاسو په مینځ کښې د پېغمبرۍ دعوٰی کوله
او خلقو ته یې د پېغمبرۍ خبرې کولې؟ ۲۸ ځکه چې مونږ ته
په بابل کښې هغهٔ پېغام راولېږلو، او پېشګوئې یې وکړه چې
زمونږ په جلاوطنۍ کښې به ډېر وخت لګیږی. نو هغهٔ ووئیل،
تاسو په دې وجه کورونه جوړ کړئ او هلته په کښې اوسېږئ،
باغونه وکَرئ او د هغې مېوې خورئ.“ ۲۹ صفنیاه اِمام دا
خط یرمیاه نبی ته ولوستلو، ۳۰ او بیا د مالِک خُدائ کلام
په یرمیاه نازل شو چې، ۳۱ ”ټولو جلاوطنو ته خط ورولېږه
او ورته ولیکه چې، مالِک خُدائ د سمعیاه نحلامی په حقله
فرمائی چې، هغهٔ د خپل ځان نه تاسو ته پېشګوئې کړې ده،
او کهٔ څهٔ هم چې هغه ما تاسو ته نهٔ دے درلېږلے. او هغهٔ
تاسو داسې تیار کړئ چې د هغهٔ په دروغو باندې باور وکړئ.
۳۲ نو بیا په دې وجه مالِک خُدائ داسې فرمائی چې، زهٔ به
سمعیاه نحلامی او د دهٔ اولاد ته په یقین سره سزا ورکړم. د
هغهٔ د خاندان نه به څوک هم ژوندی پاتې نهٔ شی، او نهٔ به
هغوئ هغه احسانونه او نعمتونه وګوری کوم چې زهٔ د خپل
غوره شوی قوم سره کوم، ځکه چې هغهٔ زما خلاف خلقو ته
د سرکشۍ کولو لمسون وکړو، مالِک خُدائ فرمائی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مالِک خُدائ د خپلو خلقو سره د خلاصون لوظ

٣٠ ١ د مالِک خُدائ پيغام يرمياه ته ورکړے شو، ٢
”دا هغه څۀ دی چې مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک
يې فرمائی چې، ټولې هغه خبرې چې ما تا سره وکړې هغه په
يو کِتاب کښې وليکه. ٣ مالِک خُدائ فرمائی چې، ګوره،
نو هغه وخت راروان دے چې زۀ به خپل خلق اِسرائيل او
يهوداه د جلاوطنۍ نه بحال کړم او هغه مُلک او ځائ ته به يې
واپس راولم کوم چې ما د هغوئ پلار نيکۀ له په ميراث کښې
ورکړے وو او دا به بيا د هغوئ ملکيت وی، دا مالِک خُدائ
فرمائی.“ ٤ دا هغه خبرې دی چې مالِک خُدائ د اِسرائيل
او يهوداه د خلقو په حقله فرمائيلی دی، ٥ ”مالِک خُدائ
فرمائی چې، زۀ د يرې ژړا اورم، هلته دهشت دے او امن
نشته. ٦ نو زۀ به ستاسو نه دا يو تپوس وکړم چې ولې
سړی بچی راوړی څۀ؟ نو دا ولې زۀ چې هر يو تکړه سړی ته
ګورم نو لکه د يوې بيمارې ښځې په شان چې د ماشوم د
پېدا کېدو وخت يې رانزدې شوے وی هغسې يې لاسونه په
خپله ګېډه باندې ايښی وی او هر يو لکه د مړی په شان تک
زېړ شوی وی؟ ٧ افسوس چې هغه ورځ به څومره سخته
وی. د هغې ورځې په شان به بله کومه ورځ هم نۀ وی. دا به د
يعقوب دپاره سخته ورځ وی، خو په آخر کښې به هغه ترې بچ
شی. ٨ مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی چې، په هغه ورځ
به د هغوئ د غاړې نه هغه جغ مات کړم او د زنځيرونو نه به
يې خلاص کړم او هغوئ به نور د پردو خلقو غلامان نۀ وی.
٩ خو هغوئ به د خپل مالِک خُدائ او د داؤد د نسل نه د
هغه بادشاه خِدمت وکړی، څوک چې به زۀ په هغوئ باندې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مقرروم. ۱۰ بلکې مالِک خُدائ فرمائی چې، اے زما خِدمت
کوونکیه یعقوبه، مهٔ یرېږه. او اے اِسرائیله تهٔ مهٔ پرېشانه
کېږه. زهٔ به په یقین سره تا او ستا اولاد په هغه لرې مُلک
کښې د جلاوطنۍ نه آزاد کړم. او تهٔ به راواپس شې او خیر
خیریت سره به ژوند کوې. او څوک به تا نهٔ شی یرولے. ۱۱
نو مالِک خُدائ فرمائی چې، زهٔ ستا مل یم او زهٔ به تا بچ
کړم. او زهٔ به هغه ټول قومونه مکمل تباه کړم چرته چې ما
تاسو خوارهٔ وارهٔ کړی وئ، خو زهٔ به تاسو په مکمل توګه نهٔ
تباه کوم. زهٔ به تاسو په اِنصاف سره تنبیه کړم، او زهٔ به
تاسو هم داسې بېسزا نهٔ پرېږدم. ۱۲ مالِک خُدائ داسې
فرمائی چې، ستاسو زخمونه خطرناک دی، او ستاسو
زخمونه لاعلاجه دی. ۱۳ داسې څوک نشته چې ستا خیال
وساتی، ستا د زخمونو دپاره دارو نشته، ستا دپاره علاج نشته
دے. ۱۴ ستا ټولو ملګرو تهٔ هېر کړے یې، هغوئ ستا پرواه
نهٔ کوی. ما په تا باندې داسې حمله وکړه لکه څنګه چې په
دشمن کوم، او د یو ظالم په شان مې سزا درکړه، ځکه چې
ستا شرارتونه ډېر غټ دی، او ستا ګناهونه ډېر زیات دی.
۱۵ نو بیا ولې تاسو په خپلو زخمونو او درد ژړا فریاد کوئ،
او تاسو وایئ چې د دې خو هیڅ علاج نشته؟ خو دا ما
ستاسو د لویو شرارتونو او ډېرو ګناهونو په وجه درسره
وکړل. ۱۶ خو هر هغه څوک چې تاسو روغ تېروی هغوئ به
روغ تېر کړے شی، او ستاسو ټول دشمنان به جلاوطن
کړے شی. هر هغه څوک چې تاسو لوټ کوی هغوئ به لوټ
کړے شی، او څوک چې په تاسو باندې حمله کوی په هغوئ
باندې به حمله وکړے شی. ۱۷ مالِک خُدائ فرمائی چې، زهٔ
به ستاسو صحت دوباره ښهٔ کړم، او ستاسو زخمونو ته به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شفا ورکړم. زهٔ به دا کار وکړم ځکه چې ما اورېدلی دی چې
خلق تا ته ”جلاوطن شوے“ وائی، ”صيون د چا چې څوک
هم خيال نهٔ ساتی.“ ١٨ مالِک خُدائ فرمائی چې، زهٔ به د
يعقوب اولاد د غلامۍ نه واپس راولم او په هغوئ به رحم
وکړم، د يروشلم تباه شوے ښار به هم هغه ځائ کښې
دوباره آباد کړم، او زوړ محل به يې په خپل اصلی ځائ کښې
ودروم. ١٩ نو په هغه وخت کښې به د هغه خلقو نه د شُکر
ګزارۍ حمدونه او د خوشحالۍ آوازونه واورېدلے شی. زهٔ به
د هغوئ شمېر زيات کړم، او هغوئ به کمولے نهٔ شی. زهٔ به
خلق مجبور کړم چې د هغوئ عزت وکړی، او هغوئ به
سپک نهٔ شمېرلے کيږی. ٢٠ د هغوئ ماشومان به لکه د
پخوا په شان ژوند کوی، او د هغوئ جماعت به زما په
مخکښې قائم شی، او زهٔ به هغه ټولو خلقو له سزا ورکړم
څوک چې په دوئ باندې ظلم کوی. ٢١ د هغوئ مشر به د
هغوئ د خپل قوم نه وی، او د هغوئ مشر به د هغوئ د خپلو
خلقو نه وی. زهٔ به هغه خپل ځان ته نزدې کړم او هغه به ما
له راشی، ځکه چې څوک دا جرأت کولے شی چې نابللے
راشی؟ دا د مالِک خُدائ فرمان دے. ٢٢ نو هغه وخت به
تاسو زما خلق يئ او زهٔ به ستاسو خُدائ پاک يم.“ ٢٣
ګورئ د مالِک خُدائ غصه لکه د طوفان په شان رانازليږی،
او د تيزو هواګانو په شان د بدعمله خلقو په سر په غضب
سره لګيږی. ٢٤ او د مالِک خُدائ سخت قهر او غضب به
تر هغې پورې وی او واپس به نهٔ شی ترڅو چې د هغهٔ مقصد
پوره شوے نهٔ وی. په راتلونکو ورځو کښې به تاسو په دې هر
څهٔ باندې پوهه شئ.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بنی اِسرائیلو خپلو کورونو ته راواپس کېدل

٣١ ١ مالِک خُدائ فرمائی چې، "په هغه وخت کښې به
زهٔ د بنی اِسرائیلو د ټولو قبیلو خُدائ یم، او هغوئ به زما
خلق وی." ٢ مالِک خُدائ داسې فرمائی چې، "د بنی
اِسرائیلو کوم خلق چې د مرګ نه بچ پاتې شوی وُو ما په
هغوئ په بیابان کښې فضل وکړو، کله چې هغوئ د آرام په
تلاش کښې روان وُو ما د هغوئ ساتنه وکړه. ٣ ډېر پخوا
مالِک خُدائ بنی اِسرائیلو ته راڅرګند شو، او ورته یې
وفرمائیل چې، ما تاسو سره نهٔ ختمېدونکې مینه کړې ده، ما
تاسو په خپله مینه او رحم سره خپل ځان ته رانزدې کړئ.
٤ زهٔ به تا بیا آباد کړم، او تهٔ به بیا آباد شې، اے پېغلې
اِسرائیله. تهٔ به بیا تمبل راواخلې او بهر به د ګډا دپاره په
خوشحالۍ سره راووځې. ٥ تاسو به دوباره د سامریه په
غونډو باندې د انګورو باغونه وکَرئ، او څوک چې دا باغونه
کَری هغوئ به یې په مېوه خوشحاله شی. ٦ نو هغه ورځ
راروانه ده چې د اِفرائیم د غونډو نه به چوکیداران آوازونه
وکړی او وائی به چې، راځئ چې صیون ته د عبادت دپاره او
مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته لاړ شو." ٧ مالِک خُدائ
فرمائی چې، "د یعقوب دپاره د خوشحالۍ سندرې ووایئ او
چغې ووهئ چې بنی اِسرائیل د ټولو نه لوئ قوم دے. مالِک
خُدائ ته د حمد و ثناء چغې ووهئ او ووایئ چې، اے مالِکه
خُدایه، په بنی اِسرائیلو کښې پاتې شوے خپل قوم دې بچ
کړه. ٨ نو زهٔ به هغوئ د شمالی مُلک نه واپس راولم او د
زمکې د لرو ځایونو نه به یې راغونډ کړم. تر دې چې ړاندهٔ،
ګوډیان، اُمیدوارې ښځې او د ماشوم د پېدا کېدو په حالت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې ښځې، نو هغوئ ټول به د لوئ قبيلې په شکل کښې دلته
بيا راواپس شی. ۹ کله چې هغوئ واپس راشی نو د
پښېمانئ نه به اوښکې د هغوئ په مخ روانې وی او زۀ به
هغوئ په ډېره مينه خپلو کورونو ته واپس بوځم، نو زۀ به
هغوئ د روانو اوبو په خوا کښې او په هواره لاره بوځم هسې
نه چې چرته تيندک وخوری، ځکه چې زۀ د بنی اِسرائيلو پلار
يم، او اِفرائيم زما مشر زوئ دے.“ ۱۰ مالِک خُدائ فرمائی،
”اے قومونو، د مالِک خُدائ کلام واورئ، او هغه لرې
ساحلی وطنونو ته يې بيان کړئ. هغه چا چې بنی اِسرائيل
خوارۀ کړی دی هم هغه به يې راغونډ کړی. لکه څنګه چې
شپونکے د خپلې رمې ساتنه کوی هم داسې به هغه د هغوئ
خيال ساتی. ۱۱ مالِک خُدائ به د بنی اِسرائيلو فديه ورکړی
او هغوئ به د هغه کسانو نه آزاد کړی چې د دوئ نه زورَور
دی. ۱۲ هغوئ به راشی او پاس د صيون په غرۀ به د
خوشحالئ چغې ووهی، او هغوئ به د مالِک خُدائ په
برکتونو لکه غله دانه، مے، تيل، او د رمو په زياتولو
خوشحاله شی. د هغوئ ژوند به لکه د سيرابه باغ په شان
وی، او هغوئ به نور غمژن نۀ شی. ۱۳ نو پېغلې به د
خوشحالئ نه ګډېږی، ځوانان او بوډاګان به هم خوشحالی
کوی. زۀ به د هغوئ غم په خوشحالئ باندې بدل کړم، او زۀ
به هغوئ له تسلی ورکړم، او زۀ به د هغوئ خفګان په
خوشحالئ بدل کړم. ۱۴ زۀ به د هغوئ اِمامان په غوړو
زيړو خوراکونو ماړۀ کړم، او زما خلق به زما په نعمتونو
باندې ماړۀ پټ شی. مالِک خُدائ دا فرمائی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# په بنی اِسرائيلو د مالِک خُدائ رحم

۱۵ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”په راما کښې د چغو آواز
واورېدلے شو، د ماتم او لوئ ژړا آواز. راحيل په خپلو بچو
باندې ژړا کوی، هيڅ قسم تسلی نۀ قبلوی ځکه چې د هغې
ماشومان غيب کړے شوی دی.“ ۱۶ خو مالِک خُدائ
فرمائی چې، ”ژړا او اوښکې توېدل بس کړئ، تاسو ته به د
خپلو کارونو اجر مِلاو شی.“ مالِک خُدائ داسې فرمائی چې،
”ستاسو ماشومان به د دشمن د مُلک نه راواپس شی.“ ۱۷
مالِک خُدائ داسې فرمائی چې، ”ستا د راتلونکی ژوند دپاره
اُميد شته دے، ستاسو ماشومان به خپل مُلک ته بيا واپس
راشی. ۱۸ د اِفرائيم ژړا او فرياد ما ته رارسېدلے دے، تا ما
ته تربيت راکړو چې په لاره شم، لکه د ناجوته سخی په شان
دې تربيت راکړو او زۀ اوس په لاره شوے يم. ما دې خپل
حضور ته واپس راوله، نو زۀ به واپس راشم، ځکه چې تۀ زما
مالِک خُدائ او خُدائ پاک يې. ۱۹ ستا نه د اوړېدو نه پس
مونږ توبه وکړه، د پوهېدو نه وروستو مونږ خپله سينه ووهله.
مونږ چې کوم کم عقل کارونه په ځوانئ کښې کړی وُو د هغې
په وجه سپک او شرمنده شُو.“ ۲۰ مالِک خُدائ فرمائی
چې، ”ولې اِسرائيل تر اوسه زما محبوب زوئ نۀ دے څۀ په
چا کښې چې زۀ خوشحالېږم؟ کۀ څۀ هم چې زۀ د دۀ خلاف
بار بار خبرې کوم، نو بيا هم هغه يادوم. نو په دې وجه زما
زړۀ ورپسې زهيرېږی، زما په زړۀ کښې د دۀ دپاره ډېر رحم
دے. ۲۱ اے زما قومه، تاسو د تلو په وخت په خپله لار
داسې نښې ودروئ چې د هغې نه په واپسئ کښې خلقو ته د
صحيح لارې پته ولګی. اے پيغلې اِسرائيله راوګرځه، خپلو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښارونو ته راوګرځه. ۲۲ اے زما بې‌وفا لورې، ته به ترڅو
پورې سرګردانه ګرځې؟ مالِک خُدائ به يو نوے کار وکړی
او هغه دا دے چې بنی اِسرائيل به خپل مالِک خُدائ ته غاړه
ورکړی.“

## د مالِک خُدائ د خلقو بيا آباديدل

۲۳ مالِک خُدائ ربُ الافواج، د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک
فرمائی، ”کله چې زۀ هغوئ د غلامۍ نه واپس راولم، په يهوداه
او د هغې په ښارونو کښې به هغوئ بيا داسې وائی چې، اے
د صداقت ځايه، اے مقدس غره، مالِک خُدائ دې تا له
برکت درکړی. ۲۴ ښاريان او زمينداران او شپونکی به د
خپلو رمو سره په شريکه د يهوداه په مُلک کښې اوسيږی.
۲۵ زۀ به ستړو ستومانو ته طاقت ورکړم او مړاوی شوی به
تازه کړم. ۲۶ نو کله چې زۀ راپاڅيدم او خپلې سترګې مې
پرانستلې، نو زۀ پوهه شوم چې په خوب اودۀ وم.“ ۲۷
مالِک خُدائ فرمائی چې، ”هغه ورځ راروانه ده چې زۀ به د
اِسرائيل او يهوداه او د هغوئ د ځناورو نسلونه زيات کړم.
۲۸ او لکه څنګه چې ما هغوئ د بېخ نه راويستل، او ټوکړې
ټوکړې مې کړل، او راومې غورزول، او تباه مې کړل او افتونه
مې پرې نازل کړل، نو دغه شان به زۀ هغوئ دوباره آباد او
قائم کړم. ۲۹ په هغه ورځو کښې به نور خلق داسې نۀ وائی
چې، تراوۀ انګور يې پلارانو وخوړل، او غاښونه يې د بچو
وېرېښېدل. ۳۰ خو هر سړے به د خپلې ګناه په وجه مړ
کيږی، هر څوک چې تراوۀ انګور وخوری هم د هغۀ غاښونه
به بريښيږی.“ ۳۱ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”هغه وخت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راروان دے چې کله زۀ د اِسرائيل او د يهوداه د خلقو سره يو
نوے لوظ وکړم. ۳۲ دا به د هغه لوظ په شان نۀ وى کوم
چې ما د هغوئ د پلار نيکۀ سره کړے وو کله چې ما هغوئ
د لاس نه ونيول او د مِصر نه مې بهر وويستل، ځکه چې
هغوئ ما سره کړے لوظ مات کړو، کۀ څۀ هم چې زما مثال
هغوئ ته د وفادار خاوند په شان وو. مالِک خُدائ داسې
فرمائى. ۳۳ خو دا هغه نوے لوظ دے کوم به چې زۀ پس د
دې نه د بنى اِسرائيلو د قبيلې سره وکړم، زۀ به خپل شريعت
د هغوئ په مازغو کښې واچوم او د هغوئ په زړونو به يې
وليکم. زۀ به د هغوئ خُدائ پاک يم او هغوئ به زما بنده ګان
وى. ۳۴ نور به د هغوئ نه يو کس هم خپل ګاونډى ته، او يا
خپل ورور ته دا تعليم نۀ ورکوى چې مالِک خُدائ وپېژنه،
ځکه چې د وړو نه واخله تر لويو پورې به هغوئ ټول ما
پېژنى، مالِک خُدائ داسې فرمائى. زۀ به د هغوئ شرارتونه
معاف کړم او د هغوئ ګناهونه به نور نۀ يادوم.“ ۳۵ مالِک
خُدائ داسې فرمائى، هغه څوک چې نمر په دې مقرروى چې
د ورځې وځليږى، او هغه چا چې سپوږمۍ او ستورى مقرر
کړل چې د شپې وځليږى، څوک چې سمندر راپاڅوى چې د
هغې چپې شور وکړى نو د هغۀ نوم مالِک خُدائ ربُ الافواج
دے. ۳۶ مالِک خُدائ داسې فرمائى چې، ”ترڅو پورې د
کائنات دا نظام موجود وى، نو تر هغه وخته پورې به د بنى
اِسرائيلو قوم زما د وړاندې قائم وى.“ ۳۷ مالِک خُدائ
داسې فرمائى چې، ”لکه څنګه چې د آسمان د ناپ تول اندازه
نۀ شى لګولے او د زمکې د بنياد اندازه نۀ شى معلومولے نو
زۀ به هم د اِسرائيل د ګناهونو په وجه د هغوئ نه اِنکار ونۀ
کړم.“ دا د مالِک خُدائ فرمان دے. ۳۸ ”هغه ورځ راتلونکى

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده،“ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”کله چې دا ښار د حننایل د
برج نه واخله تر د ګوټ د دروازې پورې به دوباره زما دپاره
آباد شی. ۳۹ او د هغه ځائ نه به سیدها د ښار حدود
جارب غونډۍ پورې ورسیږی او بیا به د جوعه طرف ته راتاو
شی. ۴۰ نو بیا به ټوله دره چرته چې د مړو لاشونه او ایرې
غورزولے شی او هغه ټوله زمکه د کومې مېدانونه چې د
قِدرون د درې د نمرخاتهٔ پورې پراتهٔ دی، او د آسونو د
دروازې پورې، ټوله به مالِک خُدائ ته مقدسه وی. دا ښار به
هیڅکله بیا د بېخ نه راونهٔ ویستلے شی او نهٔ به تباه شی.“

## د یرمیاه زمکه اخستل

۳۲ ۱ د یهوداه د مُلک د صدقیاه بادشاه د بادشاهۍ په
لسم کال کوم چې اتلسم کال د نبوکدنضر د بادشاهۍ وو، د
مالِک خُدائ کلام یرمیاه ته ورکړے شو. ۲ په هغه وخت
کښې چې د بابل د بادشاه لښکرو د یروشلم نه ګېره اچولې وه
نو یرمیاه په دې ورځو کښې د یهوداه د شاهی محل دننه په
فوجی چاونۍ کښې بند وو. ۳ نو صدقیاه بادشاه هغه هلته
قېد کړو او ورته یې ووئیل چې، ”تهٔ ولې دا پېشګوئي کوې؟
چې مالِک خُدائ فرمائی چې زهٔ دا ښار د بابل بادشاه ته
حواله کوم نو بیا به هغه په دې ښار قبضه وکړی. ۴
صدقیاه بادشاه به د بابلیانو د لاس نه ونهٔ تښتی، او هغه به په
یقین سره د بابل بادشاه ته حواله کړے شی، او هغه به دهٔ
سره مخامخ خبرې وکړی او دے به یې په خپلو سترګو سره
وګوری. ۵ هغه به صدقیاه بابل ته بوځی او هغه به تر هغې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پورې هلته پاتې وى چې ترڅو مې ورسره خپل عمل نۀ وى
کړے، مالِک خُدائ فرمائى. کۀ چرې تۀ د بابليانو خلاف
جنګ وکړې، نو تۀ به کامياب نۀ شې.“ ٦ يرمياه وفرمائيل
چې، ”نو په دغه وخت کښې د مالِک خُدائ کلام په ما نازل
شو چې ٧ ستا د ترۀ زوئ حنمايل د سلوم زوئ به تا له
راشى او درته به وائى چې په عنتوت کښې زما زمکه واخله،
ځکه چې تۀ زما نزدې خپلوان يې نو اول د اخستو حق ستا
دے او دا ستا فرض هم جوړيږى چې تۀ يې واخلې. ٨ نو
بيا لکه څنګه چې مالِک خُدائ فرمائيلى وُو، زما د ترۀ زوئ
حنمايل فوجى چاونړۍ ته راغلو او هغۀ ووئيل چې په عنتوت
کښې زما زمکه واخله کومه چې د بنيامين په علاقه کښې ده.
ځکه چې دا ستا حق دے چې تۀ يې خلاصه کړې او د خپل
ځان دپاره يې واخلې. نو زۀ په دې پوهه شوم چې مالِک
خُدائ ما سره په هم دې حقله خبره کړې وه. ٩ نو بيا ما
هغه زمکه د ترۀ زوئ حنمايل نه د اوولسو سپينو زرو سيکو
په بيعه واخستله. ١٠ ما د ګواهانو په وړاندې د هغه زمکې
انتقال نامه وليکله او په هغې مې دستخط وکړو او مهر مې
پرې ولګولو او هغه سپين زر مې په تله کښې وتلل. ١١ بيا ما
د مهر شوې انتقال نامې چې د خرڅولو ټول اصُول او شرائط
په کښې درج شوى وُو او هم يوه غېر مهر شوې کاپى
راواخسته. ١٢ او دواړه مې باروک د نيرياه زوئ او د
محسياه نمسى ته د حنمايل او د هغه ګواهانو چا چې په
انتقال دستخط کړے وو او د هغه ټولو خلقو په موجودګۍ
کښې چې په فوجى چاونړۍ کښې ناست وُو حواله کړل. ١٣
د هغه ټولو کسانو په مخکښې ما باروک ته هدايت ورکړو
چې، ١٤ مالِک خُدائ ربُ الافواج د بنى اِسرائيلو خُدائ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاک فرمائی چې، د سودا دا دواړه کاغذونه واخله چې په یو
باندې مهر شته او په بل نشته او دواړه په خاورين منګی کښې
واچوه ترڅو چې د ډېر وخت دپاره محفوظ پاتې شی. ۱۵ نو
مالِک خُدائ ربُ الافواج د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک فرمائی
چې، په دې مُلک کښې به بيا کورونه، پټې او د انګورو باغونه
اخستل کيږی.“

## د يرمياه دُعا

۱۶ ”د هغې نه وروستو کله چې ما د زمکې کاغذونه باروک
د نيرياه زوئ له ورکړل نو بيا ما دُعا وکړه، ۱۷ اے مالِکه
قادر مطلق خُدايه، تا په خپل لوئ طاقت او قُدرت سره او په
خپل زورَور لاس سره آسمان او زمکه جوړ کړل. ستا دپاره
يو کار هم ناممکن نۀ دے. ۱۸ تۀ زرګونو خلقو سره مينه
کوې، خو د مور پلار د ګناهونو په وجه تۀ د هغوئ بچو له
سزا ورکوې. اے عظيم او طاقتور خُدايه، د چا نوم چې
مالِک خُدائ ربُ الافواج دے، ۱۹ ستا مقصد عظيم او ستا
کارونه زورَور دی. ستا سترګې د انسان ټولې لارې وينی، او
تۀ هر يو ته د خپل چال چلن او عمل په مطابق اجر ورکوې.
۲۰ تا په مِصر کښې معجزې او حيرانونکی کارونه کړی
دی، او ستا دا سلسله په بنی اِسرائيلو او په ټولو انسانانو
کښې تر ننه پورې راروانه ده، او تر نن ورځ پورې تا خپل نوم
ته جلال ورکړو. ۲۱ تا په خپل زورَور لاس، لوئ دهشت،
عجيبه کارونو او معجزو سره خپل خلق بنی اِسرائيل د مِصر
نه راوويستل. ۲۲ تا هغوئ ته هغه زرخيزه زمکه ورکړه د
کومې دې چې د هغوئ د پلار نيکۀ سره وړاندې وعده کړې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وه. ۲۳ خو چې کله زمونږ پلار نيکهٔ په دې مُلک کښې داخل
شول او په دې يې قبضه وکړه نو هغوئ نۀ ستا واوريدل او نۀ
يې ستا د شريعت پيروی وکړه. او هغوئ په هغه څۀ باندې
عمل ونۀ کړو د کوم چې ورله تا حکم کړے وو. نو بيا ځکه
تا دا ټول افتونه په هغوئ رانازل کړل. ۲۴ وګورئ چې
بابليانو د ښار د نيولو دپاره ګېرچاپېره څنګه د خاورو ډېرى
جوړ کړل. د جنګ، قحط او وبا په وجه به دا ښار بابليانو ته
ځوک چې پرې حمله کوی حواله شی. تا چې څۀ وئيلى وُو
نو هغه کارونه وشول، اوس يې په خپله وګوره. ۲۵ خو اے
مالِکه خُدايه زما ربه تۀ هغه ذات يې چې ما ته دې حُکم
راکړو چې د ګواهانو په مخکښې هغه زمکه واخله، سره د دې
چې د ښار حالت داسې خراب وو چې بابليانو نيولو.“ ۲۶
نو بيا د مالِک خُدائ له طرفه دا پېغام يرمياه ته راغلو چې،
۲۷ ”زۀ مالِک قادر مطلق خُدائ يم، او د ټولو مخلوقاتو رب
العالمين يم. آيا داسې کار شته چې د هغې کول زما دپاره
ناممکن وی؟ ۲۸ نو ځکه زۀ دا ښار د بابل بادشاه
نبوکدنضر او د هغۀ لښکر ته حواله کوم، نو هغوئ به دا
قبضه کړی ۲۹ او د ديوال نه اخوا بابليان به راشی او په دې
ښار به اور بل کړی. هغوئ به ټول کورونه وسوزوی، چرته
چې خلقو زۀ په دې غصه کړم چې د کوټو په چتونو يې بعل
ته خوشبويۍ وسوزولې او نورو معبودانو ته يې د څښلو
نذرانې پېش کړې. ۳۰ نو د اِسرائيل او د يهوداه خلقو د
ځوانۍ نه واخله تر اوسه پورې د شرارت نه بغېر بل کوم کار
نۀ دے کړے او هر وخت يې زۀ په خپل کردار سره غصه
کړے يم. ۳۱ د کومې ورځې نه چې دا ښار جوړ شوے دے
نو د هغې ورځې نه تر ننه پورې زۀ دې خلقو غصه کړے او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په قهر کړے يم. نو ځکه زۀ دا ښار د خپل مخ نه اخوا کوم.
٣٢ د اِسرائيل او د يهوداه خلقو زۀ په هغه ټولو شرارتونو
کوم چې دوئ وکړل غصه کړم کۀ هغه بادشاهانو، آفسرانو،
مشرانو، اِمامانو او کۀ نبيانو هم کړی وی. ٣٣ زما خلقو ما
ته شا کړې ده، او ما ته د کتلو نه يې اِنکار کړے دے، سره د
دې چې ما بار بار په نرمئ سره هغوئ ته تعليم ورکړے دے،
خو هغوئ زما خبرو ته غوږ نۀ دے نيولے او نۀ يې زما
اصلاح قبوله کړې ده. ٣٤ هغوئ خپل حرام بُتان زما په کور
کښې ايښی دی، کوم کور چې زما د عبادت دپاره جوړ
شوے وو او هغوئ په دې زما کور پليت کړے دے. ٣٥
هغوئ د هنوم په وادئ کښې بعل ته علاقائی عبادتخانې د دې
دپاره جوړې کړې چې مولک بُت ته خپل زامن او لوڼه
قربانی کړی. نۀ خو ما هغوئ له د داسې کولو حُکم ورکړو او
نۀ زما ذهن ته داسې خرابه خبره راغلې ده چې هغوئ به
داسې په بد او پليت کار کولو سره يهوداه ګناه ګار کړی.“

## د اُميد وعده

٣٦ ”تاسو وايئ چې، دا ښار به د جنګ، قحط، او وبا په
وجه د بابل بادشاه قبضه کړی، خو مالِک خُدائ د بنی
اِسرائيلو خُدائ پاک د دې ښار په حقله فرمائی چې، ٣٧ زۀ
به په يقين سره خپل غوره شوی خلق د ټولو مُلکونو نه واپس
دې ځائ ته راولم کوم چې ما د خپلې غصې او لوئ غضب
په وخت کښې خوارۀ وارۀ کړی وُو. او هغوئ به واپس راولم
او په دې ځائ کښې به نور په امن او سکون سره اوسيږی.
٣٨ بيا به هغوئ زما خلق وی او زۀ به د هغوئ خُدائ پاک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یم. ۳۹ زۀ به هغوئ ته د زړۀ او د سوچ یووالے ورکړم چې
د خپل ځان د خوشحالئ او د خپل نسل د آبادئ او سکون
دپاره به زما نه همېشه یرېږی. ۴۰ زۀ به د هغوئ سره ابدی
لوظ وکړم، چې زۀ به د هغوئ سره ښېګړه کول هیڅکله نۀ
پرېږدم. او زۀ به خپله یره د هغوئ په زړُونو کښې واچوم،
ترڅو چې نور هغوئ ما نه لرې لاړ نۀ شی. ۴۱ هغوئ ته په
برکت ورکولو سره ما ته خوشحالی ملاوېږی، او زۀ به په
وفادارئ او پوره زړۀ سره هغوئ په دې مُلک کښې دوباره
آباد کړم. ۴۲ لکه څنګه چې ما په دې خلقو دا لوئ افت
راوستو، نو دغه شان به زۀ دوئ ته هغه ټولې سوکالئ هم
ورکړم د کومې چې ما هغوئ سره وعده کړې ده. ۴۳ نو یو
ځل به بیا په دې مُلک کښې زمکې واخستلے شی، د کوم
چې تاسو وایئ چې دا خو صحرا او بېکاره زمکه ده، بغېر د
انسانانو او ځناورو، ځکه چې دا خو بابلیانو ته په قبضه
کښې ورکړے شوې وه. ۴۴ آو، د بنیامین په علاقه، د
یروشلم په خوا او شا، د یهوداه په ښارونو، غرېزه علاقو، د
غرونو په کلو، مغربی صحراګانو او په نجب کښې به زمکې د
سپینو زرو سیکو باندې اخستلے کیږی او مهر شوی
انتقالونه او ګواهان به په کښې نیولے کیږی، ځکه چې زۀ به
دا قوم د غلامئ نه واپس راولم. دا د مالِک خُدائ فرمان
دے.“

## د آبادئ او سکون وعده

۳۳ ۱ یرمیاه چې لا د فوجیانو په چاونئ کښې بند وو نو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د مالِک خُدائ پېغام په دوېم ځل هغهٔ ته راغلو، ٢ "مالِک
خُدائ چا چې، زمکه جوړه کړه، او هغې ته يې شکل ورکړو
او قائمه يې کړه او د چا نوم چې مالِک خُدائ دے هغه
فرمائی، ٣ د مدد دپاره ما ته وواېه او زهٔ به جواب درکړم
او زهٔ به تا ته هغه لوئ او پټ رازونه او خبرې څرګندې کړم
چې تهٔ پرې نهٔ پوهېږې. ٤ نو مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو
خُدائ پاک داسې فرمائی چې، تاسو د ښار کورونه او تر دې
چې شاهی محل هم راوغورزولو د دې دپاره چې د دشمن د
محاصرې او حملې په وخت کښې تاسو د هغې په ملبې خپل
د خاورو ډېرو دېوالونه مضبوط کړئ. ٥ د بابليانو سره په
جنګ کولو کښې به دا ښار او د دې کورونه د خلقو د مړو د
لاشونو نه ډک کړم. زهٔ به دوئ په خپل قهر او غضب کښې
تباه کړم. زهٔ به د دې ښار نه د دوئ د ګناهونو په وجه خپل
مخ پټ کړم. ٦ خو باوجود د دې به هغه وخت راشی چې
زهٔ به د يروشلم زخمونو ته شفا ورکړم او هغې ته به حقيقی
امن او سکون ورکړم. ٧ زهٔ به يهوداه او اِسرائيل د غلامۍ
نه واپس راولم او هغوئ به بيا هغه شان آباد کړم لکه څنګه
چې هغوئ وړاندې وُو. ٨ زهٔ به هغوئ د هغه ټولو ګناهونو
نه پاک کړم کوم چې هغوئ زما خِلاف کړی دی، او زهٔ به د
هغوئ هغه سرکشی معاف کړم کومه چې هغوئ زما خلاف
کړې ده. ٩ نو بيا به دا ښار ما ته د ټولې دُنيا د خلقو په
وړاندې خوشحالی، شُهرت، او عزت راکړی، کله چې دوئ د
هغه ټولو ښهٔ څيزونو په حقله واوری کوم چې زهٔ د يروشلم
سره کوم. او خلق به د دې ټول امن او آبادۍ نه متاثره شی
او د يرې نه به په لړزان شی. ١٠ مالِک خُدائ فرمائی چې،
تاسو د دې ځائ په حقله وايئ چې، دا ځائ خو د صحرا په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شان دے چې په کښې نه انسان او نه څناور شته. خو د
یهوداه ښارونه او د یروشلم کوڅې خالی دی کومې چې په
میرو بدلې شوې چې نۀ په کښې انسان او نۀ په کښې څناور
شته، نو یو ځل بیا به هلته، ۱۱ د خوشحالئ او د خندا
آوازونه واورېدلے شی او په کښې به د ناوې او د زلمی
آوازونه واورېدلے شی، او د هغوئ آوازونه چې د مالِک
خُدائ په کور کښې د شکرانې نذرانې پېش کوی، واورېدلے
شی. او هغوئ به داسې وائی چې، د مالِک خُدائ ربُ الافواج
شُکر گزاری وکړئ، ځکه چې هغه ښۀ دے، د هغۀ مینه نۀ
ختمېدونکې ده. مالِک خُدائ دا فرمائی چې، زۀ به دا مُلک د
غلامئ نه واپس راولم لکه څنګه چې وړاندې وو. ۱۲ مالِک
خُدائ ربُ الافواج فرمائی، کۀ څۀ هم چې دا مُلک اوس د
صحرا په شان دے او د انسانانو او څناورو نه خالی دے خو
په دې کښې به بیا د څرن زمکه راپېدا شی چې شپونکی به
ورته خپلې رمې څرولو دپاره راولی. ۱۳ مالِک خُدائ
فرمائی چې، د غریزه مُلک په ښارونو، او د غونډو په شا او
خوا، او د نجب په صحرا، د بنیامین په علاقه کښې، د
یروشلم په شا او خوا، او د یهوداه په ښارونو کښې به
شپونکی یو ځل بیا خپل ګډوری وشماری. ۱۴ مالِک خُدائ
فرمائی چې، هغه وخت راتلونکے دے چې زۀ به خپله هغه
مهربانه وعده پوره کړم چې کومه ما د یهوداه او د اِسرائیل
سره کړې وه. ۱۵ په هغه وخت کښې به زۀ د داؤد د اولاد نه
یوه صادقه څانګه راوټوکوم، هغه به په ټول مُلک کښې هغه
کارونه کوی کوم چې د اِنصاف او صداقت وی. ۱۶ په هغه
ورځو کښې به یهوداه بچ کړے شی او یروشلم به د سلامتئ
سره ژوند کوی. او دا هغه نوم دے چې په کوم سره به هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یادیږی، مالِک خُدائ زمونږ خلاصونکے دے. ۱۷ مالِک
خُدائ داسې فرمائی چې، د داؤد په اولاد کښې به همېشه یو
کس د بنی اِسرائیلو په تخت ناست وی. ۱۸ او هم داسې به
اِمامان همېشه د لیوی قبیلې نه وی څوک به چې تل زما
خِدمت کوی او ما ته به سوزېدونکې نذرانې، او د غلو نذرانې
او قربانۍ پېش کوی.“ ۱۹ نو بیا د مالِک خُدائ پیغام یرمیاه
ته راغلو چې، ۲۰ ”مالِک خُدائ فرمائی چې، کهٔ چرې تاسو
زما لوظ د ورځې او د شپې د مقرر شوی نظام په حقله
ماتولے شئ، چې شپه او ورځ په خپل مقرر شوی وخت رانهٔ
شی ۲۱ نو بیا به هغه وخت زما لوظ زما د خِدمتګار داؤد
سره او زما لوظ د لیویانو سره چې زما اِمامان دی او زما په
حضور کښې خِدمت کوی به هم ماتېدے شی، نو بیا به د
داؤد اولاد کښې نور څوک نهٔ وی چې د هغهٔ په تخت
بادشاهی وکړی. ۲۲ زهٔ به د خپل خِدمتګار داؤد نسل او
لیویان کوم چې زما اِمامان دی او زما په وړاندې خِدمت
کوی د آسمان د ستورو او د سمندر د شګو په شان بېشمېره
زیات کړم.“ ۲۳ مالِک خُدائ بل پیغام یرمیاه ته ورکړو،
۲۴ ”آیا تا د خلقو خبرو ته غوږ نهٔ دے نیولے چې هغوئ
وائی، مالِک خُدائ اوس هغه دوه قومونه رد کړی دی کوم
چې اول هغهٔ غوره کړی وُو؟ نو هغوئ زما د قوم سپکوالے
کوی او د یو قوم په حیثیت یې نهٔ منی. ۲۵ خو مالِک خُدائ
داسې فرمائی چې، کهٔ چرې ما د ورځې او د شپې سره لوظ
نهٔ وو کړے او د زمکې او آسمان نظام مې نهٔ وو جوړ کړے،
۲۶ نو بیا به زهٔ د یعقوب او د خپل خِدمتګار داؤد اولاد
نامنظور کړم، او نهٔ به د یعقوب او د داؤد د اولاد نه څوک
خوښ کړم چې د اِبراهیم، اِسحاق او یعقوب په اولاد حکومت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړی. ځکه چې زهٔ به هغوئ د غلامئ نه واپس راولم او په
هغوئ به رحم وکړم.“

## د صدقیاه د مرګ پیغام

۳۴ ۱ کله چې د بابل بادشاه نبوکدنضر او د هغهٔ ټولو
لښکرو او د هغهٔ د بادشاهت د لاندې ټولو مُلکونو چې په
یروشلم او د هغهٔ په خوا او شا ښارونو باندې حمله کوله نو د
مالِک خُدائ پیغام یرمیاه ته ورکړے شو. ۲ مالِک خُدائ
د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک یرمیاه ته وفرمائیل چې، ”لاړ شه
او د یهوداه بادشاه صدقیاه ته ووایه چې، مالِک خُدائ
فرمائی چې زهٔ دا ښار د بابل بادشاه ته حواله کړم، او هغه به
اوس دې ښار ته اور واچوی. ۳ تهٔ به د هغهٔ د ګرفتاری نه
ونهٔ تښتې بلکې په یقین سره به تهٔ ګرفتار شې او هغهٔ ته به
حواله کړے شې. تهٔ به د بابل بادشاه په خپلو سترګو ووینې،
او هغه به تا سره مخامخ خبرې وکړی. او هغه به تا بابل ته
جلاوطن کړی. ۴ نو بیا اے صدقیاه د یهوداه بادشاه، ما
ته غوږ شه. مالِک خُدائ ستا په حقله فرمائی چې، تهٔ به په
جنګ کښې قتل نهٔ شې، ۵ بلکې تهٔ به په خپل عام مرګ
باندې مړ شې. څنګه چې خلقو ستا د پلار نیکهٔ د جنازې د
عزت دپاره خوشبو سوزوله څوک چې ستا نه وړاندې
بادشاهان وُو، نو دغه شان به خلق ستا د جنازې د عزت
دپاره خوشبو وسوزوی. او هغوئ به ماتم کوی او وائی به
چې، افسوس، اے زمونږه بادشاه، تهٔ مړ شوې. دا د مالِک
خُدائ فرمان دے.“ ۶ نو بیا یرمیاه پیغمبر دا پیغام د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یهوداه بادشاه صدقیاه ته په یروشلم کښې ورکړو. ۷ په
هغه وخت کښې د بابل بادشاه لښکرو د یروشلم او د یهوداه د
نورو ښارونو په خلاف جنګ کولو کوم چې لکیس او عزیقه
ؤو. صرف دا مضبوط ښارونه ؤو چې د قبضې نه پاتې شوی
ؤو.

## د نوکرانو دپاره آزادی

۸ د مالِک خُدائ دا پیغام یرمیاه ته ورکړے شو پس د دې
نه چې صدقیاه بادشاه او د یروشلم ټولو خلقو د غلامانو د
آزادولو دپاره لوظ وکړو ۹ او ټولو په دې اتفاق وکړو چې
هر څوک به خپل عبرانی غلامان او وینځې آزادوی، او هیڅ
څوک به خپل د مُلک سړے یا ښځه بند نۀ ساتی. ۱۰ ټولو
مشرانو او خلقو چا چې هم دا لوظ کړے وو هغوئ دا خبره
ومنله چې هغوئ به خپل غلامان او وینځې آزادوی او نور به
هغوئ په خپله قبضه کښې نۀ ساتی او هغوئ یې آزاد کړل.
۱۱ خو وروستو هغوئ خپله فیصله بدله کړه، هغوئ آزاد
شوی غلامان واپس راوستل او هغوئ یې بیا په زور سره
دوباره خپل غلامان او وینځې جوړ کړل. ۱۲ نو بیا د مالِک
خُدائ کلام په یرمیاه نازل شو، ۱۳ ”ما ستاسو د پلار نیکۀ
سره لوظ وکړو کله چې ما هغوئ د مِصر نه د غلامۍ د مُلک
نه رابهر او آزاد کړل. نو ما وفرمائیل چې، ۱۴ په هر یو اوؤم
کال تاسو هر هغه عبرانی چې خپل ځان یې په تاسو خرڅ
کړے دے آزاد کړئ. د شپږ کاله د خِدمت کولو نه وروستو،
نو په کار دے چې تاسو هغه آزاد کړئ او رُخصت یې کړئ.
خو ستاسو پلار نیکۀ زما خبرو ته نۀ غوږ ونیولو او نۀ یې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورته توجو ورکړه. ۱۵ خو اوس تاسو پښېمانه شوئ او توبه
مو وویستله او خپله فېصله مو بدله کړه او هغه کار مو وکړو
چې څۀ زما په نظر کښې صحيح وو، او تاسو هر يو د خپلو
غلامانو د آزادولو اعلان وکړو. او دا چې تاسو زما په کور
کښې چې زما د نوم مهر پرې لګولے شوے دے ما سره لوظ
وکړو. ۱۶ خو تاسو بيا خپله فېصله بدله کړه او زما د نوم
بې‌حرمتی مو وکړه، او تاسو بيا هر يو سړے غلام او ښځه
مو واپس وينځه کړه څوک چې تاسو آزاد کړی وُو. نو بيا
تاسو هغوئ په زور سره دوباره غلامان او وينځې کړل. ۱۷
نو ځکه مالِک خُدائ فرمائی چې، تاسو زما پيروی ونۀ کړه،
تاسو د خپل مُلک خلقو ته د آزادئ اعلان ونۀ کړو. نو زۀ
اوس بيا تاسو ته دغه شان د آزادئ اعلان کوم. مالِک خُدائ
فرمائی چې ستاسو آزادی به داسې وی چې زۀ به تاسو په
تُورې، وبا او قحط باندې مړۀ کړم. زۀ به تاسو ټولې دُنيا ته د
عبرت او د يرې سبب وګرځوم. ۱۸ ځکه چې تاسو ما سره
د لوظ شرائط مات کړل نو زۀ به تاسو هم دوه ځايه کړم لکه
څنګه چې تاسو سخی دوه ځايه کړی وُو او د هغې په مينځ
کښې تېر شوئ. ۱۹ آو، زۀ به تاسو په مينځ وشلوم، هغه کۀ
تاسو د يهوداه او يروشلم آفسران، د دربار خصيان آفسران،
اِمامان او يا عام خلق هم يئ، ځکه چې تاسو ما سره خپل
لوظ مات کړو. ۲۰ نو زۀ به مو خپلو دشمنانو ته حواله کړم
څوک چې ستاسو مرګ پسې ګرځی. ستاسو د مړو لاشونه به
د هوا د مارغانو او د ګيدړانو خوراک کړم. ۲۱ زۀ به د
يهوداه بادشاه صدقياه او د هغۀ آفسران هم د هغوئ دشمنانو
ته حواله کړم څوک چې د هغوئ مرګ پسې ګرځی. کۀ څۀ
هم چې د بابليانو د بادشاه لښکرو خپلې حملې ستاسو خلاف

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بندی کړی دی، ۲۲ مالِک خُدائ فرمائی چې، زۀ به هغوئ ته
حُکم ورکړم او بیا به زۀ هغوئ واپس دې ښار ته راولم.
هغوئ به ستاسو خلاف جنګ وکړی او هغوئ به دا ښار
قبضه کړی او ويه يې سوزوی. او زۀ به د يهوداه ښارونه
وران او تباه کړم نو بیا به څوک هم هلته نۀ اوسيږی."

## حضرت يرمياه او ريکابيان

۳۵ ۱ د مالِک خُدائ پيغام يرمياه ته د يهويقيم د يوسياه
د زوئ د حکومت په دوران کښې ورکړے شو او هغۀ ته يې
وفرمائيل چې، ۲ "د ريکاب خاندان ته لاړ شه او هغوئ ته
دعوت ورکړه چې د مالِک خُدائ کور ته راشی نو بيا هغوئ
هلته يوې کوټې ته بوځه او د څښلو دپاره ورله مے ورکړه."
۳ نو بيا زۀ يازنياه د يرمياه زوئ او د حبصنيا نمسی ته او
د هغۀ زامنو او وروڼو او د ريکاب مکمل خاندان ته ورغلم.
۴ ما هغوئ ټول د مالِک خُدائ کور ته او د يجدليا د زوئ
حنان پيغمبر او د هغۀ د زامنو کوټې ته راوستل چې د خُدائ
پاک خادِم وو. دا کوټه د آفسرانو د کوټې سره خوا کښې او
د معسياه د سلوم زوئ چې چوکيدار وو د هغۀ د کوټې دپاسه
وه. ۵ نو بيا ما جامونه سره د پيالو راواخستل او د ميو نه
مې ډک کړل او هغه مې د ريکاب خاندان ته پيش کړل او
ورته مې ووئيل چې، "راشئ او مے وڅښئ." ۶ خو هغوئ
راته په جواب کښې ووئيل چې، "مونږ مے نۀ څښو، ځکه
چې زمونږ نيکۀ يوندب د ريکاب زوئ مونږ ته دا حکم
راکړے دے چې تاسو او ستاسو اولاد دې کله هم مے نۀ
څښی. ۷ او تاسو کورونه مۀ جوړَوئ، او تخم مۀ کَرئ، او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مهٔ د انګورو باغونه کَرئ او تاسو چې هيڅکله دا کارونه ونهٔ
کړئ، او ضروری ده چې په خپلو خيمو کښې اوسيږئ. نو
بيا به تاسو په هغه زمکه تر ډېره وخته پورې ژوندی پاتې شئ
چرته چې تاسو د مسافرو په شان ژوند کوئ. ٨ مونږ د
هغه هر څهٔ تابع يُو د څهٔ چې مونږ ته زمونږ نيکهٔ يوندب د
ريکاب زوئ تعليم راکړے دے. نهٔ خو مونږ او نهٔ زمونږ
ښځُو او نهٔ زمونږ زامنو لوڼو کله مے څښلی دی. ٩ او نهٔ
مونږ د اوسېدو دپاره کورونه جوړ کړی او نهٔ مو د انګور باغ،
پټی يا فصلونه کَرلی دی. ١٠ مونږ په خيمو کښې اوسېدلو
او په هر هغه څهٔ مو پوره عمل کړے دے څهٔ چې مونږ ته
زمونږ نيکهٔ يوندب حکم کړے وو. ١١ خو کله چې
نبوکدنضر بادشاه په دې مُلک باندې قبضه وکړه، مونږ
ووئيل، راځئ چې، مونږ يروشلم ته د بابليانو او د شام د
لښکرو نه وتښتُو. نو بيا ځکه مونږ په يروشلم کښې پاتې شُو.“
١٢ نو بيا د مالِک خُدائ کلام په يرمياه نازل شو، او وې
فرمائيل چې، ١٣ ”دا هغه کلام دے چې مالِک خُدائ ربُ
الافواج د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک فرمائی چې، لاړ شه او د
يهوداه سړو او د يروشلم خلقو ته ووايه چې، آيا تاسو د دې
نه سبق نهٔ زده کوئ او زما د کلام پيروی نهٔ کوئ؟ ١٤
يوندب د ريکاب زوئ خپلو بچو ته حکم وکړو چې مے مهٔ
څښئ نو هغوئ د هغهٔ دا حکم ومنلو. تر نن ورځ پورې چا هم
په هغوئ کښې مے ونهٔ څښل، ځکه چې هغوئ د خپل پلار
نيکهٔ د حکم پيروی کوی. خو ما تاسو سره په څو څو ځله
خبرې وکړې خو تاسو زما د خبرو پيروی ونهٔ کړه. ١٥ ما
تاسو ته بار بار خپل نبيان درولېږل. هغوئ تاسو ته وفرمائيل
چې، په تاسو کښې دې هر يو د خپلو بدو کارونو نه واوړی او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بِشۀ کارونه دېِ کوی، او مۀ تاسو د نورو معبودانو پیروی
کوئ او مۀ یې خِدمت کوئ. نو بیا به تاسو په هغه زمکه کښې
اوسېږئ کومه چې ما ستاسو پلار نیکۀ ته ورکړې ده. خو
تاسو زما خبرو ته توجو ورنۀ کړه او نۀ مو غوږ ونیولو. ۱۶
یوندب چې د ریکاب زوئ د هغۀ اولاد د خپل پلار حُکم ومنلو
او د هغې پیروی یې وکړه، خو تاسو خلقو زما خبره ونۀ منله.
۱۷ نو د دې په وجه مالِک خُدائ ربُ الافواج د بنی اِسرائیلو
خُدائ پاک فرمائی چې، ما ته غوږ شئ. زۀ اوس د یهوداه او
د یروشلم په ټولو خلقو باندې هغه ټول افتونه راولم د کومو
چې ما د هغوئ خلاف اعلان کړے دے. ما هغوئ ته ووئیل،
خو هغوئ غوږ ونۀ نیولو. ما هغوئ ته آواز وکړو، خو هغوئ
ما ته جواب رانۀ کړو.“ ۱۸ نو یرمیاه د ریکاب خاندان ته
وفرمائیل، ”مالِک خُدائ، ربُ الافواج د بنی اِسرائیلو خُدائ
پاک فرمائی چې، تاسو خو د خپل پلار نیکۀ یوندب حکم
ومنلو او د هغۀ د ټولو هدایاتو مو تابعداری وکړه او په هر هغه
څۀ باندې مو عمل وکړو چې هغۀ درته وئیلی وُو. ۱۹ نو په
دې وجه مالِک خُدائ ربُ الافواج د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک
فرمائی چې، د یوندب د ریکاب د زوئ په خاندان کښې به
همېشه یو سړے داسې وی چې زما خِدمت به کوی.“

## د باروک د خُدائ پاک په کور کښې د حضرت یرمیاه طومار لوستل

۳۶ ۱ په یهوداه کښې د یهویقیم د یوسیاه د زوئ د
بادشاهۍ په څلورم کال، مالِک خُدائ یرمیاه ته پېغام ورکړو
چې، ۲ ”یو طومار راواخله او په هغې زما ټول کلام کوم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ما درته د یهوداه، د اِسرائیل او د ټولو قومونو په خلاف د
یوسیاه د بادشاهۍ د وخت نه تر اوسه پورې نازل کړے دے
ولیکه. ٣ شاید چې د یهوداه خلق د هغه ټولو افتونو په
حقله واورى کوم چې زما په هغوئ د راوستلو نیت دے، نو
کۀ هر یو د خپلې بدعملۍ نه راوګرځى نو بیا به زۀ د هغوئ
ګناهونه او بدعملونه معاف کړم.“ ٤ نو بیا یرمیاه باروک د
نیریاه زوئ راوغوښتلو، او کله چې یرمیاه هغۀ ته هغه هر څۀ
ووئیل کوم چې مالِک خُدائ هغۀ ته فرمائیلى وُو، نو باروک
هغه په یو طومار کښې ولیکل. ٥ نو بیا یرمیاه باروک ته
وفرمائیل چې، ”زۀ دلته نظر بند یم نو د مالِک خُدائ کور ته
دننه تلے نۀ شم. ٦ نو بیا تاسو د مالِک خُدائ کور ته کله
چې روژه وى لاړ شئ او خلقو ته هغه څۀ ولولئ کوم چې ما
تاسو ته وفرمائیل او تاسو هغه په یو طومار کښې ولیکل. دا د
یهوداه ټولو هغه خلقو ته ولوله کوم چې د خپلو ښارونو نه د
عبادت دپاره دلته راغلى وى. ٧ شاید چې هغوئ مالِک
خُدائ ته عرض او مِنت زارى وکړى او ټول د خپلو بدو لارو
نه راوګرځى، ځکه چې د مالِک خُدائ قهر او غضب ډېر لوئ
دے کوم چې یې د دې خلقو خلاف اعلان کړے دے.“ ٨
باروک د نیریاه زوئ هم هغه شان وکړل څنګه چې ورته
یرمیاه نبى حکم کړے وو، نو د هغه طومار نه یې د مالِک
خُدائ کلام د مالِک خُدائ په کور کښې ولوستلو. ٩
یهویقیم د یوسیاه زوئ د یهوداه بادشاه د بادشاهۍ د پینځم
کال په نهمه میاشت د یروشلم ټولو خلقو ته او د هغوئ دپاره
څوک چې د یهوداه د ښارونو نه راغلى وُو، د روژې اعلان
وکړو او هغوئ د مالِک خُدائ دپاره روژه ونیوله. ١٠ د
مالِک خُدائ په کور کښې د ګمریاه د سافن زوئ منشى د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوټې نه، کومه چې د دربار په بره حِصه کښې وه او د مالِک
خُدائ د کور د داخلېدو د نوې دروازې سره نزدې وه،
باروک ټولو خلقو ته چې هلته موجود وُو د يرمياه کلامِ د
طومار نه تلاوت کړو.

## په شاهی محل کښې د طومار تلاوت

١١ کله چې ميکاياه د گمرياه زوئ او د سافن نمسی د
مالِک خُدائ کلامِ د طومار نه واورېدو، ١٢ نو هغه په شاهی
محل کښې لاندې د منشی کوټې ته لاړو، چرته چې ټول
آفسران ناست وُو. اليسمع، د دربار منشی، د سمعياه زوئ
دلاياه، د عکبور زوئ الناتن، د سافن زوئ گمرياه، د حننياه
زوئ صدقياه او نور ټول آفسران هلته موجود وُو. ١٣ نو
ميکاياه هغوئ ته هغه هر څۀ ووئيل څۀ چې باروک خلقو ته د
طومار نه بيانول او هغۀ ترې اورېدلی وُو. ١٤ نو ټولو
آفسرانو په مشورې سره يهودی د نتنياه زوئ، د شلمياه
نمسی او د کوشی کړوسے باروک ته ورولېږلو چې ورته دا
ووائی، ”آفسران وائی چې راشه، او ځان سره هغه طومار هم
راوړه کوم چې تا ټولو خلقو ته ولوستلو.“ نو باروک د نيرياه
زوئ د هغه طومار سره چې کوم يې په لاس کښې وو هغوئ
له ورغلو. ١٥ نو هغوئ هغۀ ته ووئيل چې، ”مهربانی وکړه
دلته کښېنه او مونږ ته دا طومار ولوله.“ نو باروک ورته هغه
طومار ولوستلو. ١٦ نو کله چې هغوئ دا کلام واورېدو، نو
بيا هغوئ يو بل ته يرې سره کتل او باروک ته يې ووئيل چې،
”مونږ به ضرور بادشاه د دې ټول کلام نه خبر کړُو.“ ١٧ نو
بيا هغوئ د باروک نه تپوس وکړو چې، ”تۀ مونږ ته دا ووايه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې دا هر څۀ تا څنګه ولیکل؟ آیا یرمیاه نبی تا ته وفرمائیل او
تا ولیکل؟“ ۱۸ باروک ورته جواب ورکړو چې، ”آو، هغۀ دا
هر څۀ ما ته وفرمائیل او ما هغه په دې طومار کښې په
سیاهۍ باندې ولیکل.“ ۱۹ نو آفسرانو باروک ته ووئیل چې،
”تۀ او یرمیاه لاړ شئ او خپل ځان پټ کړئ. او هیچا ته مۀ
وایئ چې تاسو چرته یئ.“

## یهویقیم طومار سوزوی

۲۰ نو بیا آفسرانو هغه طومار د دربار د منشی الیسمع په
کوټه کښې کېښودو، نو بیا هغوئ د بادشاه دربار ته لاړل او د
دې ټول کلام نه یې بادشاه خبر کړو. ۲۱ نو بادشاه یهودی
نومې سړے ورولېږلو چې هغه طومار راوړی، نو یهودی هغه
د الیسمع منشی د کوټې نه راوړو او بادشاه او هغه ټولو
آفسرانو ته چې ورسره په خوا کښې ولاړ وُو ولوستلو. ۲۲ نو
د کال نهمه میاشت وه، د یخنۍ موسم وو نو بادشاه په شاهی
محل کښې د ژمی دپاره په جوړه شوې کوټه کښې نغری ته
ناست وو. ۲۳ هرکله چې یهودی درې څلور عنوانونه
ولوستل، نو بادشاه دا طومار په چاقو وشلولو او هغه یې په
نغری کښې اور ته واچولو، تر دې چې هغه طومار ټول په اور
کښې وسوزېدو. ۲۴ بادشاه او د هغۀ ټولو خِدمتګارانو چا
چې دا کلام واورېدو هغوئ ونۀ یرېدل او نۀ یې د غم نه جامې
وشلولې. ۲۵ کۀ څۀ هم چې الناتن، دلایاه او ګمریاه بادشاه
ته مِنتُونه کول چې طومار مۀ سوزوه خو هغۀ د هغوئ خبرې
ته غوږ ونۀ نیولو. ۲۶ نو بیا د دې په ځائ بادشاه یرحمئیل
شهزاده او ورسره سرایاه د عزرائیل زوئ او شلمیاه د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عبدائيل زوئ ته حکم وکړو چې باروک منشی او يرمياه نبی
گرفتار کړی. خو مالِک خُدائ هغوئ پټ کړل.

## د يرمياه يو بل طومار ليکل

۲۷ کله چې يهويقيم هغه طومار وسوزولو چې په کښې هغه
الفاظ وُو کوم چې باروک ته يرمياه فرمائيلی وُو او هغهٔ ليکلی
وُو، نو د مالِک خُدائ کلام په يرمياه نازل شو او ورته يې
وفرمائيل چې، ۲۸ "يو بل طومار راواخله او په هغې کښې
هغه هر څهٔ وليکه څهٔ چې په اول طومار کښې ليکلے شوی
وُو کوم چې يهويقيم د يهوداه بادشاه وسوزولو. ۲۹ نو
همدارنګه يهويقيم د يهوداه بادشاه ته ووايه، مالِک خُدائ
داسې فرمائی چې، تا دا طومار وسوزولو او يرمياه ته دې
وئيل چې، تا ولې په دې کښې دا ليکلی دی چې په يقين سره
به د بابل بادشاه راشی او په حقيقت کښې به دا مُلک تباه
کړی او انسان او څناور داوړه به په کښې جارُو کړی؟ ۳۰
نو په دې وجه مالِک خُدائ د يهويقيم د يهوداه بادشاه په
حقله فرمائی چې، د هغهٔ په اولاد کښې به څوک هم د داؤد په
تخت بادشاهی ونهٔ کړی، او د هغهٔ لاش به په خوشی ميدان
وغورزولے شی چرته چې په ورځ کښې به نمر او په شپه
کښې به سختې يخنئ او پرخې ته پروت وی. ۳۱ زهٔ به هغهٔ
ته او د هغهٔ اولاد او د هغهٔ نوکرانو ته د هغوئ د غلطو کارونو
په وجه سزا ورکړم، زهٔ به په دوئ او په هغه چا باندې چې په
يروشلم کښې اوسيږی او د يهوداه په ټولو خلقو به هغه افتونه
راولم کوم چې ما د هغوئ خلاف اعلان کړی دی، ځکه چې
هغوئ ما ته غوږ ونهٔ نيولو." ۳۲ بيا يرمياه يو بل تش طومار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راواخستلو او باروک ليکوال د نيرياه زوئ له يې ورکړو، نو
څنګه به چې يرمياه فرمائيل نو هغه ټول الفاظ يې په کښې
دوباره وليکل کوم چې په هغه طومار کښې ليکلے شوى وُو
چې يهويقيم د يهوداه بادشاه په اور کښې اچولے او
سوزولے وو. او د هغې نه علاوه يې نوره هم په دې موضوع
رښا واچوله.

## د صدقياه حضرت يرمياه ته درخواست کول

٣٧ ١ د يهوداه بادشاه يهوياکين د يهويقيم زوئ د تخت
نه د راکوزولو نه وروستو د بابل بادشاه نبوکدنضر د هغۀ په
ځائ صدقياه د يوسياه زوئ د يهوداه بادشاه مقرر کړو. ٢
نۀ خو صدقياه او نۀ د هغۀ خِدمتګارانو او نۀ په يهوداه کښې
پاتې شوى خلقو د مالِک خُدائ په کلام عمل کولو کوم چې د
يرمياه په وسيله اورولے شوے وو. ٣ خو بيا هم صدقياه
بادشاه يهوکل د شلمياه زوئ او صفنياه اِمام د معسياه زوئ
يوه ورځ دواړه يرمياه نبى ته ورولېږل او د هغۀ ته يې خواست
وکړو چې، ”مونږ ته زمونږ د مالِک خُدائ نه دُعا وغواړه.“
٤ تر اوسه يرمياه په قېدخانه کښې نۀ وو اچولے شوے او
هر چرته چې يې زړۀ غوښتل هلته په خلقو کښې آزاد
ګرځېدلو. ٥ په هم هغه وخت کښې د فِرعون فوجيانو
مِصر پرېښودو او د يهوداه خوا ته روان شول، نو کله چې د
بابليانو فوجيانو چا چې يروشلم محاصره کړے وو د هغوئ
د راتلو په حقله واورېدل نو هغوئ د يروشلم نه وروستو
شول. ٦ نو بيا په هغه وخت کښې مالِک خُدائ يرمياه نبى
ته پيغام ورکړو ٧ او وې فرمائيل چې، ”صدقياه د يهوداه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاه چا چې تهٔ رالېږلے يې چې زما نه تپوس وکړى هغهٔ ته
ووايه، د مِصر فوجيان کوم چې په دې تکل راروان وُو چې
ستاسو مدد وکړى هغوئ به زر خپل مُلک مِصر ته واپس لاړ
شى. ٨ نو بابليان به واپس راوګرځى او په دې ښار باندې
به حمله وکړى، هغوئ به دا ښار قبضه کړى او اور به ورته
واچوى. ٩ مالِک خُدائ داسې فرمائى چې، خپل ځان ته دا
دوکه مهٔ ورکوئ چې ګنې د بابليانو فوج ستاسو نه لاړو او بيا
به نهٔ راځى، ځکه چې هغوئ به بيا واپس راځى. ١٠ تر دې
چې کهٔ تاسو د بابليانو ټولو لښکرو ته په جنګ کښې شکست
هم ورکړئ او د هغوئ په خېمو کښې صرف هغه زخميان
سړى وُو چې د جنګ نه ژوندى پاتې شوى وُو، نو هغوئ به
راپاڅى او دا ښار به ټول وسوزوى.“

## د حضرت يرمياه ګرفتارول

١١ کله چې د بابليانو فوجيان د مِصريانو د فوجيانو د
رارسېدو په وجه د يروشلم د محاصرې نه راواپس او په شا
شُو، ١٢ نو يرمياه د دې دپاره د يروشلم د ښار نه د بنيامين
قبائيلى علاقې ته په سفر روان شو ترڅو چې هلته کښې د
خپلو خپلوانو نه زمکه کښې خپله برخه جائيداد جدا کړى.
١٣ خو کله چې هغه د بنيامين دروازې ته ورسېدو، نو هلته
د چوکيدارانو آفسر د اِرياه په نوم چې د شلمياه زوئ او د
حننياه نمسے وو هغه ونيولو. او ورته يې ووئيل، ”تهٔ بګوره
شوے يې او د بابليانو سره ملګرے کېږې.“ ١٤ خو يرمياه
ورته وفرمائيل چې، ”دا رښتيا نهٔ دى. زهٔ بګوره نهٔ يم او
بابليانو سره نه ملګرے کېږم.“ خو اِرياه هغهٔ ته غوږ ونهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نيولو، او يرمياه يې ونيولو او آفسرانو ته يې پېش کړو. ۱۵
هغوئ يرمياه ته سخت غصه شول او وې وهلو او د يونتن
منشی په کور کښې يې بند کړو، د کوم نه چې هغوئ جيل
جوړ کړے وو. ۱۶ يرمياه يې په يوه تاخانه کښې بند کړو او
تر ډېره وخته پورې هلته په کښې وو. ۱۷ نو څۀ موده پس
صدقياه بادشاه څوک ورولېږلو او يرمياه يې خپل محل ته
راوغوښتلو، او هغۀ نه يې په راز کښې تپوس وکړو چې، "د
مالِک خُدائ د طرف نه څۀ پېغام شته څۀ؟" يرمياه جواب
ورکړو چې، "آو، تۀ به د بابل بادشاه ته په حواله کړے شې."
۱۸ نو بيا يرمياه د صدقياه بادشاه ته وفرمائيل چې، "ما ستا
يا ستا د آفسرانو او يا د دې خلقو خلاف څۀ داسې بد کړی
دی چې د هغې په وجه تاسو زۀ په دې قېد کښې اچولے يم؟
۱۹ ستاسو په هغه نبيانو باندې څۀ چل وشو چې تاسو ته به
يې وئيل چې، د بابل بادشاه به نۀ په تاسو او نۀ په دې مُلک
باندې حمله وکړی؟ ۲۰ نو اوس، بادشاه سلامته، زۀ تا ته
سوال او مِنت کوم چې زما خبره واوره. ما د يونتن منشی
کور ته واپس مۀ لېږه، ګنې زۀ به هلته مړ شم." ۲۱ نو
صدقياه بادشاه حُکم وکړو چې يرمياه د يونتن منشی کور ته
مۀ استوئ بلکې د هغې په ځائ يې د فوجيانو په چاونۍ کښې
بند کړئ. او بيا بادشاه دا حکم هم وکړو چې هره ورځ ورته د
تنور يوه روټۍ تر هغه وخته پورې ورکوئ ترڅو چې په ټول
ښار کښې يوه روټۍ هم وی. نو يرمياه بيا د فوجيانو چاونۍ
کښې بند کړے شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت يرمياه د اوبو په ډيګۍ کښې بندول

۳۸ ۱ سفطياه د متان زوئ، جدلياه د فشحور زوئ،
يهوکل د شلمياه زوئ او فشحور د مُلکياه زوئ هغه څۀ
واوريدل چې يرمياه ټولو خلقو ته وفرمائيل چې، ۲ ”مالِک
خُدائ فرمائى چې، هر څوک چې په دې ښار کښې ايسار شى
نو هغوئ به په جنګ، قحط او د وبا په وجه مړۀ شى. خو هر
څوک چې خپل ځان بابليانو ته حواله کړى، نو هغوئ به
ژوندى پاتې شى. ۳ مالِک خُدائ داسې هم فرمائى چې، دا
ښار به په يقين سره د بابل د بادشاه فوجيانو ته حواله کړے
شى او هغوئ به يې قبضه کړى.“ ۴ نو بيا آفسران بادشاه
له ورغلل او ورته يې ووئيل چې، ”دا سړے دې خامخا قتل
کړے شى، ځکه چې هغه په ښار کښې زمونږ خلق او په
جنګ کښې بچ شوى فوجيان په خپلو دې خبرو باندې بې‌زړۀ
کوى. هغه د خلقو ښېګړه نۀ لټوى بلکې په دې خبرو سره
ورته نقصان ورکوى.“ ۵ صدقياه بادشاه ورته په جواب
کښې ووئيل چې، ”صحيح ده، هغه اوس ستاسو په لاس کښې
دے. زۀ تاسو نۀ شم منع کولے.“ ۶ نو بيا هغوئ يرمياه
ونيولو او په پړو يې د قېدخانې په دربار کښې ډيګۍ ته ورکوز
کړو کوم چې د مُلکياه شهزاده ملکيت وو. نو په هغه ډيګۍ
کښې اوبۀ نۀ وې، خو لاندې په ښخ کښې ډيرې بوختې وې او
يرمياه په هغې کښې ډوب شو. ۷ خو د ايتهوپيا خصى
عبيدمَلِک د دربار يو اهم شخصيت د دې نه خبر شو چې
هغوئ يرمياه په ډيګۍ کښې اچولے شوے دے. په دغه وخت
کښې بادشاه د بنيامين په دروازه کښې ناست وو او عدالت
يې شروع کړے وو. ۸ نو عبيدمَلِک هلته لاړو او بادشاه ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې ووئيل چې، ۹ ”بادشاه سلامت، دې سړو ډېر زيات بد
کار وکړو په دې چې هغوئ يرمياه نبى د اوبو په ډيګئ کښې
واچولو. هغه به ډېر زر د لوږې نه مړ شى، ځکه چې په ښار
کښې روټئ ختمه شوه.“ ۱۰ نو بادشاه عبيدمَلِک له حُکم
ورکړو چې، ”د دې ځائ نه ځان سره دېرش سړى بوځه او
يرمياه د مړ کېدو نه وړاندې د هغه ډيګئ نه راوباسه.“ ۱۱ نو
عبيدمَلِک د ځان سره کسان واخستل او په شاهى محل کښې
د خزانې نه لاندې کمرې ته لاړو او د خپل ځان سره يې څۀ
زړې جامې چړې راواخستلې. او هغه يې يرمياه ته د پړى په
ذريعه ډيګئ ته ښکته کړې. ۱۲ عبيدمَلِک يرمياه ته آواز
ورکړو او ورته يې ووئيل چې، ”دا زړې کپړې او جامې په
خپلو ترخونو کښې کېږده چې د راختو په وخت کښې دې
پړے زخمى نۀ کړى.“ يرمياه هم هغه شان وکړل، ۱۳ او
هغوئ هغه د ډيګئ نه په پړو راوويستلو. او بيا يرمياه د
فوجيانو په چاونئ کښې بندى پاتې شو.

## د صدقياه د حضرت يرمياه نه تپوس کول

۱۴ يوه ورځ صدقياه بادشاه، يرمياه پسې کسان ورولېږل او
هغه يې خپل ځان ته د مالِک خُدائ د کور درېمې دروازې ته
راوستو. بادشاه ورته ووئيل چې، ”زۀ غواړم چې تا نه يو څو
تپوسونه وکړم. نو د هيڅ قسمه حقيقت او رښتيا پټولو
کوشش مۀ کوه.“ ۱۵ يرمياه ورته وفرمائيل، ”کۀ چرې زۀ
تاسو ته رښتيا ووايم، نو تاسو به ما مړ کړئ. او کۀ چرې زۀ
تاسو ته نصيحت وکړم، نو تاسو به ما ته غوږ ونۀ نيسئ.“
۱۶ نو بيا صدقياه بادشاه د هغۀ سره په پټه وعده وکړه او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورته يې ووئيل چې، ”زۀ په مالِک خُدائ درته قسم خورم
څوک چې ژوندے دے، او څوک چې مونږ ته ژوند راکوى،
نۀ به زۀ تا مړ کړم او نۀ به دې هغه کسانو ته حواله کړم
څوک چې تا وژل غواړى.“ ۱۷ نو په هغه وخت کښې بيا
يرمياه صدقياه د يهوداه بادشاه ته وفرمائيل چې، ”مالِک
خُدائ ربُ الافواج د بنى اِسرائيلو خُدائ پاک داسې فرمائى
چې، کۀ چرې تاسو خپل ځان د بابل آفسرانو ته حواله کړئ،
تاسو او ستاسو خاندان به ژوندى پاتې شئ، او دا ښار به د
سوزېدو نه بچ شى. ۱۸ خو کۀ تاسو د خپل ځان د حواله
کېدو نه اِنکار وکړئ، نو دا ښار به بابليانو ته حواله کړے
شى، او هغوئ به دا ښار د سر نه تر آخره پورې وسوزوى. او
تاسو به ترې نۀ شئ تښتېدلے.“ ۱۹ خو صدقياه بادشاه
يرمياه ته ووئيل چې، ”زۀ د خپل مُلک د هغه خلقو نه يرېږم
چا چې غدارى وکړه او بابليانو له ورغلل، کېدے شى چې د
بابل فوجيان ما هغوئ ته حواله کړى او بيا به هغوئ ما سره
بد سلوک وکړى.“ ۲۰ يرمياه ورته وفرمائيل چې، ”هغوئ به
تاسو چا ته نۀ حواله کوى کۀ چرې تۀ د مالِک خُدائ
تابعدارى غوره کړې. هغه به ستا ژوند بچ کړى او تا ته به
خير شى. ۲۱ خو کۀ چرې تاسو نۀ غواړئ چې خپل ځان
هغوئ ته حواله کړئ نو بيا مالِک خُدائ ما ته دا موضوع په
رويا کښې ښکاره کړې ده چې ۲۲ څومره ښځې چې په دې
شاهى محل کښې ژوندۍ پاتې وى نو هغوئ به فوجيان د
بابليانو آفسرانو ته ستاسو نه بوځى. نو بيا به د تلو په وخت دا
ښځې تاسو ته داسې پېغور درکوى او درته به وائى چې،
”ستاسو څومره ښۀ دوستان وُو، ټولو تاسو سره دوکه وکړه
او بې‌لارې يې کړئ. او کله چې ستا پښه په دلدل کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېښودے شوه نو بيا يې تهٔ خپل نصيب ته پرېښودلې.“ ۲۳
ستاسو ټولې ښځې او ماشومان به بابليانو ته بهر راوويستلے
شى، او تهٔ به هم د هغوئ د نيولو نه بچ نهٔ شې. تاسو به د بابل
د بادشاه له خوا گرفتار شئ، او دا ښار به وسوزيږى.“ ۲۴
نو بيا صدقياه يرمياه ته ووئيل چې، ”چا ته داسې ونهٔ وائې
چې تا ما ته دا خبره وکړه، گنې تهٔ به مړ شې. ۲۵ کهٔ
آفسرانو ته زما او ستا د ملاقات پته ولگى او راشى او ستا نه
تپوس وکړى چې تاسو يو بل ته څهٔ ووئيل نو مونږ ته سمه
خبره وکړه او دروغ مهٔ وايه گنې مړ به دې کړُو، ۲۶ نو بيا
هغوئ ته ووايه چې ما بادشاه ته مِنت او زارى وکړه چې بيا
مې د يونتن د کور تاخانې ته مهٔ لېږه گنې زهٔ به هلته مړ شم.“
۲۷ هم هغه شان وشول، لږ وخت تېر شوے نهٔ وو چې د
بادشاه ټول آفسران راغلل او د يرمياه نه يې تپوسونه شروع
کړل چې بادشاه د څهٔ دپاره راغوښتے وې. خو يرمياه د
بادشاه په هداياتو عمل وکړو. خو د بادشاه او د يرمياه په
مينځ کښې شوې خبرې هيچا هم نهٔ وې اورېدلې. ۲۸ نو بيا
يرمياه د دې نه وروستو د يروشلم د شکست پورې د فوجيانو
په چاوڼۍ کښې بندى پاتې شو.

## د يروشلم زوال

۳۹ ۱ د صدقياه د بادشاهۍ د نهم کال په لسمه مياشت
د بابل نبوکدنضر بادشاه د خپل ټول لښکر سره راغلو او د
يروشلم نه يې گېره واچوله. ۲ د صدقياه د بادشاهۍ په
يوولسم کال د څلورمې مياشتې په نهمه ورځ هغوئ د ښار
ديوالونه مات کړل او ښار ته ورننوتل. ۳ د يروشلم د نيولو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه وروستو، د بابل د بادشاه ټول فوجي آفسران د ښار د
مينځنۍ دروازې سره خپله ډېره واچوله چې په هغوئ کښې
نرګلشراضر د سمګر، او نيبوسرسکيم سر لښکر، او
نرګلشراضر د بادشاه مشاور، او نور ټول آفسران شامل وُو.
۴ کله چې صدقياه بادشاه او د هغهٔ ټولو فوجيانو چې دا
هر څهٔ وليدل چې بابليان ښار ته راننوتل، نو هغوئ وتښتېدل.
هغوئ شپه په شپه ښار پرېښودو او د شاهی باغ شا ته د دوه
دېوالونو تر مينځه د دروازې د لارې نه بهر ووتل او د اُردن
خوا ته روان شول. ۵ خو د بابليانو لښکر ورپسې وو او د
يريحو سره نزدې يې په هوار مېدان صدقياه ونيولو. هغوئ
هغه د بابل نبوکدنضر بادشاه له بوتلو، څوک چې په رِبله
کښې د حمات په علاقه کښې وو. هلته د بابل بادشاه په
صدقياه د سزا فېصله واوروله. ۶ هغهٔ په رِبله کښې د
صدقياه په وړاندې د صدقياه زامن او د يهوداه ټول مشران
حلال کړل. ۷ بيا هغوئ د صدقياه سترګې راوويستلې او
هغه يې د پيتلو په زنځيرونو وتړلو او بابل ته يې بندی بوتلو.
۸ په دې دوران کښې بابليانو يروشلم، شاهی محل او د
خلقو کورونه وسوزول او د ښار دېوالونه يې وران کړل. ۹
بيا نبوزردان، د فوجيانو کمانډر هغه کسان چې ژوندی پاتې
شوی وُو او کوم کسان چې بګوړه شوی وُو هغوئ يې بابل ته
بنديوان بوتلل. ۱۰ خو نبوزردان لږ څهٔ غريبانان خلق په
يهوداه کښې پرېښودل چا چې زمکه نهٔ لرله، او هغهٔ هغوئ ته
پټی او د انګورو باغونه په حواله کړل چې د هغې خيال ساتی.

## د حضرت يرمياه آزادېدل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ خو نبوکدنضر بادشاه فوجی آفسر نبوزردان ته دا حکم
وکړو چې، ١٢ ”لاړ شئ او يرمياه پيدا کړئ او د هغهٔ ښهٔ
خيال وساتئ. هغهٔ له تکليف مهٔ ورکوئ او هغه چې څهٔ
غواړی هغه ورله وکړئ.“ ١٣ نو نبوزردان فوجی کمانډر،
نبوشازبان مشر آفسر، نرګلشراضر د بادشاه مشاور، او د
بابل بادشاه نورو ټولو آفسرانو ١٤ حکم وکړو چې يرمياه د
فوجيانو چاونۍ نه رابهر کړئ. هغوئ هغه جدلياه د اخيقام
زوئ او د سافن نمسی ته وسپارلو، چا چې هغه خپل کور ته
واپس بوتلو. نو بيا هغه په يهوداه کښې د خپلو خلقو سره پاتې
شو.

## د عبيدمَلِک دپاره اُميد

١٥ په کوم وخت کښې چې يرمياه په فوجی چاونۍ کښې
بند وو، نو د مالِک خُدائ کلام په هغهٔ نازل شو چې، ١٦
”لاړ شئ او د ايتهوپيا عبيدمَلِک ته ووايئ چې مالِک خُدائ
ربُ الافواج د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک فرمائی چې، زهٔ به د
دې ښار سره هر هغه څهٔ وکړم لکه څنګه چې ما هغوئ ته
دهمکی ورکړې ده. زهٔ به په هغوئ باندې افتونه نازل کړم، نه
چې آبادی. تهٔ به د هغوئ تباهی وګورې، ١٧ خو په هغه ورځ
به زهٔ تا بچ کړم او تهٔ به هغه چا ته حواله نهٔ کړے شې د چا
نه چې ستا په زړهٔ کښې يره ده. ١٨ ځکه چې تا په ما باور
وکړو، زهٔ به ستا ژوند تا ته درکړم. زهٔ به تا بچ کړم او
محفوظ به دې وساتم. دا د مالِک خُدائ فرمان دے.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت یرمیاه آزادېدل

۴۰ ۱ د مالِک خُدائ پېغام یرمیاه ته پس د هغې نه
ورکړے شو کله چې د فوج کمانډر نبوزردان هغه په راما
کښې آزاد کړو. نو هغهٔ یرمیاه هم د یروشلم او یهوداه په هغه
کسانو کښې په زنځیرونو تړلے وموندلو څوک چې بابل ته
جلاوطن کېدلو. ۲ د فوج کمانډر یرمیاه ته آواز وکړو او
ورته یې ووئیل چې، "مالِک خُدائ ستا مقدس رب دا تباهی
په دې مُلک نازله کړې ده. ۳ لکه څنګه چې هغهٔ فرمائیلی
وُو هغه شان یې وکړل. ځکه چې دې خلقو د مالِک خُدائ
خلاف ګناه وکړه او د هغهٔ نافرمانی یې وکړه. ۴ خو زهٔ
اوس ستا د لاسونو نه زنځیرونه اخوا کوم او تا آزادوم. کهٔ تهٔ
ما سره بابل ته تلل غواړې، نو راځه چې ځُو. زهٔ به ګورم چې
ستا پوره خیال وساتلے شی. او کهٔ تهٔ ما سره هلته تلل نهٔ
غواړې، نو دلته ایسار شه. ټول مُلک ستا د وړاندې دے.
چرته چې تهٔ تلل غواړې نو هلته په آزاده توګه لاړ شه. ۵ کهٔ
چرې تا دا فېصله کړې وی چې دلته پاتې شې، نو بیا جدلیاه
د اخیقام زوئ او د سافن نمسی ته واپس لاړ شه. هغه د بابل
بادشاه له طرفه د یهوداه حکمران مقرر شوے دے. د هغه
خلقو سره پاتې شه په چا چې هغه حکومت کوی. خو دا ستا
خوښه ده، چرته دې چې زړهٔ غواړی هلته لاړ شه." نو بیا
نبوزردان یرمیاه ته څهٔ خوراک او پېسې ورکړې او هغهٔ ته یې
ووئیل چې لاړ شه. ۶ نو بیا یرمیاه جدلیاه د اخیقام زوئ له
په مصفاه کښې واپس لاړو، او هغه په یهوداه کښې د هغه
خلقو سره اوسېدلو کوم چې په هغه مُلک کښې پاتې شوی
وُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## په یهوداه کښې د جدلیاه حکمرانی

٧ د یهوداه څۀ فوجی آفسران چې په کلی والو علاقو کښې
پټ شوی وُو، هغوئ دا واورېدل چې په یهوداه کښې جدلیاه د
اخیقام زوئ په غریبانانو خلقو باندې د بابل بادشاه حکمران
مقرر کړے دے. په هغوئ کښې نارینه، زنانه، او ماشومان
شامل دی څوک چې بابل ته جلاوطن کړے شوی نۀ وُو او په
یهوداه کښې پاتې وُو. ٨ په هغوئ کښې دا آفسران شامل
دی، اِسمٰعیل د نتنیاه زوئ، یوحانان او یونتن د قریح زامن،
شرایاه د تنحومت زوئ، د عیفای نطوفاتی زامن، یزنیاه د
معکاتی زوئ او د هغوئ فوجیان. هغوئ د جدلیاه د لیدو
دپاره مصفاه ته لاړل. ٩ جدلیاه د اخیقام زوئ او د سافن
نمسی هغوئ سره په قسم خوړلو وعده وکړه چې، ”د خپل
ځان په حواله کېدو بابلیانو نه مۀ یرېږئ. د هغوئ د خِدمت
کولو نه مۀ یرېږئ. په دې مُلک کښې اوسېږئ، او د بابل د
بادشاه خِدمت کوئ او هر څۀ به ستاسو دپاره د خیر وی.
١٠ زۀ به په خپله په مصفاه کښې اوسېږم او کله چې د
بابلیانو وفد دلته راشی نو زۀ به ستاسو د طرف نه نمائنده یم.
خو په دې وخت کښې تاسو انګور، او د ګرمۍ مېوې، او د
زیتُونو تیل په چاټو کښې جمع کړئ، او په کومو ښارونو مو
چې قبضه کړې ده په هغوئ کښې اوسېږئ.“ ١١ په دې
دوران کښې چې کوم د یهودیانو خلق چې موآب، عمون،
ادوم او نورو مُلکونو ته مسافر شوی وُو نو هغوئ ټول په دې
خبر شول چې د بابل بادشاه د یهوداه پاتې شوی خلقو له په
یهوداه کښې د اوسېدو اجازت ورکړے دے او جدلیاه یې د
هغوئ حکمران جوړ کړے دے، ١٢ نو بیا هغوئ ټول د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یهوداه مُلک ته واپس راغلل، په مصفاه کښې جدلیاه ته، د
هغه ټولو مُلکونو نه کوم ته چې هغوئ خوارهٔ شوی وُو. او
هغوئ د اوړی ډیرې مېوې او انګور راټول کړل.

## د جدلیاه قتلول

۱۳ د هغې نه پس، د قریح زوئ یوحانان او هغه فوجی
آفسران څوک چې په کلی والو علاقو کښې وُو، په مصفاه
کښې جدلیاه له راغلل، ۱۴ هغوئ هغهٔ ته ووئیل چې، "تا ته
دا پته شته چې بعلیس د عمون بادشاه اِسمٰعیل د نتنیاه زوئ
ستا د قتلولو دپاره رالیږلے دے؟" خو جدلیاه په دې خبره
باندې یقین ونهٔ کړلو. ۱۵ نو د قریح زوئ یوحانان هغهٔ ته
پټ غوندې ووئیل، "ما پرېږده چې د نتنیاه زوئ اِسمٰعیل
ووژنم او هیچا ته به د دې پته ونهٔ لګی. ولې مونږ هغهٔ ته
اجازت ورکړُو چې هغه راشی او تا ووژنی؟ د یهوداه د هغه
خلقو به څهٔ حال وی څوک چې واپس خپل مُلک ته راغلل او
ستا په مشرئ کښې راټول شول؟ نو بیا ولې دې مونږ د یهوداه
دا لږ کسان کوم چې ژوندی یُو خوارهٔ وارهٔ او ورک شُو؟"
۱۶ خو جدلیاه یوحانان ته په جواب کښې ووئیل، "زهٔ تا په
سختئ سره منع کوم دا کار مهٔ کوه. تهٔ چې د اِسمٰعیل په
حقله څهٔ وائې نو هغه رښتیا نهٔ دی."

۴۱ ۱ هم د هغه کال په اوومه میاشت، اِسمٰعیل د نتنیاه
زوئ او د الیسمع نمسے چې د شاهی خاندان یو کس وو، او
د اوچتې عُهدې آفسر وو، هغه د لسو سړو سره مصفاه ته د
جدلیاه سره مِلاوېدو له لاړو. کله چې هغوئ په شریکه روټئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوړله، ٢ نو ناګهانه د نتنیاه زوئ اِسمٰعیل او د هغهٔ لسو
کسانو ټوپ کړو او خپلې تُورې يې راوويستلې او جدلیاه يې
قتل کړو، څوک چې د بابل بادشاه په یهوداه کښې ګورنر
مقرر کړے وو. ٣ اِسمٰعیل هم هغه ټول یهودیان ووژل
څوک چې په مصفاه کښې د جدلیاه سره وُو، او هغه بابلیان
فوجیان هم چې هلته وُو. ۴ د جدلیاه د قتلېدو نه یوه ورځ
وروستو چې لا څوک هم د هغهٔ په مرګ باندې خبر نهٔ وُو،
۵ اتیا کسان د شِکم، سیلا او سامریه نه د خُدائ کور ته
راغلل چې عبادت وکړی. هغوئ خپلې ږیرې د غم په وجه
خرئیلې وې، او د غم په وجه يې خپلې جامې هم شلولې وې
او خپل ځانونه يې هم زخمی کړی وُو. او خپل ځان سره يې
غله دانه او خوشبو مالِک خُدائ ته د نذرانې پېش کولو په
توګه راوړې وې. ۶ نو اِسمٰعیل د اوښکو نه په ډکو سترګو
سره د مصفاه نه بهر ووتو او د هغه کسانو سره د ملاقات
دپاره لاړو. کله چې هغه هغوئ ته ورسېدلو نو ورته يې ووئیل
چې، "راشئ، وګورئ چې د جدلیاه د اخیقام زوئ سره څهٔ
شوی دی." ٧ خو چې څنګه هغوئ ښار ته ورننوتل، نو
فوراً اِسمٰعیل او د هغهٔ ملګرو ټول ووژل او د هغوئ لاشونه
يې په یوه ډیګی کښې وروغورزول. ٨ خو په هغه ډله کښې
لس کسان وُو چې هغوئ اِسمٰعیل سره دا خبره وکړه او ورته
يې ووئیل چې، "کهٔ چرې تهٔ مونږ ونهٔ وژنې نو کوم غنم،
اوربشې، او د زیتون تېل او شات چې مونږ پټ ذخیره کړی
دی هغه به تا له راوړُو." نو په دې خبره هغهٔ هغوئ ژوندی
پرېښودل. ٩ هغه د اوبو ډیګی چې اِسمٰعیل په کښې د هغه
مړو لاشونه ورګزار کړل کوم چې هغهٔ وژلی وُو هم هغه لویه
ډیګی وه چې آسا بادشاه جوړه کړې وه چې کله هغهٔ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مصفاه دفاع مضبوطه کړه چې خپل ځان د اِسرائيلو د بعشا
بادشاه نه وساتى. اِسمٰعيل د نتنياه زوئ هغه د مړو نه ډکه
کړه. ۱۰ بيا اِسمٰعيل د بادشاه لوڼه او هغه ټول کسان چې
نبوزردان د فوج مشر په مصفاه کښې جدلياه ته پرېښى وُو
هغوئ ټول يې ګېر کړل او ځان سره يې د عمون د علاقې په
طرف روان کړل. ۱۱ خو کله چې يوحانان د قريح زوئ او
نور د فوج مشران د اِسمٰعيل د جرم نه خبر شول، ۱۲ نو
هغوئ خپل ټول سپاهيان راټول کړل او هغۀ پسې راووتل او په
جبعون کښې د لوئ تالاب سره نزدې هغوئ هغه پېدا کړو.
۱۳ کله چې د اِسمٰعيل سره قېديانو يوحانان او ورسره نور
فوجى مشران وليدل نو هغوئ ډېر خوشحاله شول. ۱۴ او د
مصفاه نه ټول قېديان وتښتېدل او د يوحانان مدد يې شروع
کړو. ۱۵ خو اِسمٰعيل سره د خپلو هغه اتو کسانو دوستانو د
عمون مُلک ته وتښتېدلو. ۱۶ نو بيا يوحانان د قريح زوئ او
نورو فوجى مشرانو، هغه ټول کسان د ځان سره روان کړل
کوم چې هغوئ په جبعون کښې د اِسمٰعيل نه خلاص کړى
وُو چې په هغوئ کښې سپاهيان، زنانه، ماشومان او د دربار
خصيان شامل وُو، ځوک چې د جدلياه د قتلولو نه وروستو
اِسمٰعيل ګرفتار کړى وُو. ۱۷ هغوئ مِصر ته د تللو وخت
کښې د کِمهام سرائې چې بيت‌لحم سره نزدې وو هلته ايسار
شُو. ۱۸ نو د دې يرې نه چې کۀ بابليان په دې موضوع خبر
شى چې اِسمٰعيل جدلياه قتل کړے دے، هغه ځوک چې د
بابل بادشاه د يهوداه ګورنر مقررولو، نو هغوئ به بيا څۀ
کوى.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## خلقو د حضرت يرمياه نه د دُعا درخواست وکړو

۴۲ ۱ نو بيا د فوج ټول جنګى مشران، يوحانان د قريح
زوئ او يزنياه د هوسعياه زوئ، او د وړو نه تر لويو پورې
ټول خلق ۲ يرمياه نبى ته راغلل او ورته يې ووئيل، ”مونږ
ستا مِنت کوُو چې زمونږ دپاره د مالِک خُدائ ستا مقدس
خُدائ نه دُعا وغواړه، کوم چې پاتې شوى کسان يُو. لکه
څنګه چې تهٔ وينې چې د مخکښې په مقابل کښې اوس مونږ
ډېر لږ يُو. ۳ زمونږ دپاره دُعا وکړه چې مالِک خُدائ
زمونږ خُدائ پاک مونږ ته لاربښودنه وکړى چې څهٔ وکړُو او
چرته لاړ شُو.“ ۴ يرمياه هغوئ ته په جواب کښې وفرمائيل
چې، ”صحيح ده، زهٔ به مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ته
هم هغه شان دُعا وکړم لکه څنګه چې تاسو ما ته خواست
وکړو، او زهٔ به هر هغه څهٔ تاسو ته ووايم چې هغه څهٔ ما ته
وفرمائى. زهٔ به ستاسو نه هيڅ څيز هم نهٔ پټوم.“ ۵ بيا
هغوئ يرمياه ته ووئيل، ”نو بيا دې مالِک خُدائ په مونږ په
دې خبره رښتينے او وفادار ګواه وى کهٔ چرې مونږ ستا په
هغه ټولو خبرو عمل ونهٔ کړو کومې چې مالِک خُدائ ستا
خُدائ پاک زمونږ دپاره تا ته فرمائيلى دى چې تهٔ يې مونږ ته
بيان کړې. ۶ کهٔ هغه کلام زمونږ خوښ شى او کهٔ خوښ
نهٔ شى، مونږ به د مالِک خُدائ د کلام پيروى کوُو چا ته چې
تهٔ مونږ د خپل خواست دپاره لېږې. ځکه کهٔ چرې مونږ د
هغهٔ د کلام پيروى وکړُو، نو هر څهٔ به زمونږ دپاره د خير
وى.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د حضرت یرمیاه دُعا ته د مالِک خُدائ جواب

۷ لس ورځې وروستو د مالِک خُدائ کلام په یرمیاه نازل
شو. ۸ نو بیا هغهٔ یوحنان د قریح زوئ او نورو فوجی
آفسرانو ته، او ټولو خلقو لویو او وړو ته آواز وکړو، ۹ هغهٔ
هغوئ ته وفرمائیل چې، ”تاسو زهٔ مالِک خُدائ، د بنی
اِسرائیلو خُدائ پاک ته د خپل درخواست سره ولیږلم، هغه
داسې فرمائی چې، ۱۰ کهٔ تاسو په دې مُلک کښې پاتې شئ،
نو زهٔ به تاسو بیا آباد کړم او نهٔ به مو خرابوم، زهٔ به تاسو
وکرم او تاسو به د بېخ نه نهٔ وباسم. زهٔ ستاسو په هغه افت
کوم چې ما په تاسو نازل کړے دے پښېمانه یم. ۱۱ مالِک
خُدائ فرمائی چې، د بابل بادشاه نه نور مهٔ یرېږئ. ځکه چې
زهٔ تاسو سره یم او د هغهٔ نه به مو بچ کړم او د هغهٔ د لاس نه
به خلاصون درکړم. ۱۲ زهٔ به په تاسو دا رحم وکړم چې
هغه به درباندې مهربانه کړم، نو بیا به هغه تاسو ته په خپل
مُلک کښې د پاتې کېدو اجازت درکړی. ۱۳ خو کهٔ چرې
تاسو د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د دې پېغام نه اِنکار
وکړئ، او کهٔ چرې تاسو ووایئ چې، نه، مونږ به دلته نهٔ پاتې
کیږُو، ۱۴ خو د دې په ځائ به مِصر ته لاړ شُو، چرته چې
به مونږ د جنګونو، د جنګ د بیګل آوازونو او قحط نه آزاد
شُو، ۱۵ نو بیا تاسو د مالِک خُدائ پېغام د یهوداه پاتې خلقو
ته واوروئ. مالِک خُدائ ربُ الافواج داسې فرمائی چې، کهٔ
چرې تاسو دا ضرور غوره کړئ چې مِصر ته لاړ شئ او هلته
پاتې شئ ۱۶ د کوم جنګ او قحط نه چې تاسو یرېږئ نو هم
هغه به تاسو راګیر کړی، او تاسو به هلته مړهٔ شئ. ۱۷ نو په
حقیقت کښې چې څوک هم په تلو کلک ولاړ وی او هلته د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوسېدو اراده لرى نو هغه به په جنګ، قحط او په وبا مړ شى.
په تاسو کښې به يو کس هم د هغه افت نه ونۀ تښتى کوم چې
زۀ په تاسو باندې هلته راولم. ۱۸ مالِک خُدائ ربُ الافواج د
بنى اِسرائيلو خُدائ پاک فرمائى، لکه څنګه چې زما قهر او
غضب د يروشلم په خلقو نازل شوے وو، نو کۀ تاسو مِصر
ته لاړئ نو زما غضب به په تاسو هم نازل شى. نو ستاسو نوم
به د تل دپاره د لعنت، يرې او مسخرې په توګه اخستلے
کيږى او خپل مُلک به دوباره ونۀ وينئ. ۱۹ اے د يهوداه
ژوندى پاتې شوى خلقو، مالِک خُدائ تاسو ته فرمائيلى دى
چې مِصر ته مۀ ځئ. زۀ چې دا خبردارے نن تاسو ته درکوم
دا مۀ هېروئ. ۲۰ ځکه تاسو چې کله زۀ مالِک خُدائ ته د
خواست کولو دپاره ولېږلم نو تاسو غټه غلطى وکړه، ځکه
چې تاسو ووئيل، د څۀ چې مالِک خُدائ مونږ ته حکم کړے
دے هغه مونږ ته ووايه، مونږ به په هغې باندې پوره عمل کوُو.
۲۱ خو ما تاسو ته نن د هغۀ حکم واورولو، خو تاسو تر
اوسه پورې د مالِک خُدائ د هغه پېغام پيروى نۀ کوئ د کوم
دپاره چې تاسو زۀ استولے وم. ۲۲ نو اوس په دې خبره
باندې يقين ساتئ چې، تاسو چې کوم ځائ ته تلل او اوسېدل
غواړئ نو تاسو به هلته په جنګ، قحط او وبا مرۀ شئ.“

## مِصر ته د حضرت يرمياه بوتلل

۴۳ ۱ کله چې يرمياه د مالِک خُدائ د دوئ د خُدائ
پاک هغه پېغام بيانول ټولو خلقو ته ختم کړو کوم يې چې
دوئ ته رالېږلے وو، ۲ نو عزرياه د هوسعياه زوئ او
يوحانان د قريح زوئ او نورو ټولو کبرژنو خلقو يرمياه ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووئیل چې، ”تهٔ دروغ وائې، مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک
مونږ کله هم مِصر ته د تلو نه منع کړې نهٔ يُو. ٣ تهٔ باروک
د نیریاه زوئ په دې رضا کړے یې چې داسې خبرې کوه،
ځکه هغه غواړی چې مونږ دلته پاتې شُو او د بابلیانو د لاسه
مړهٔ شُو او یا بابل ته جلاوطن کړے شُو.“ ٤ نو بیا د قریح
زوئ یوحانان او نورو فوجی مشرانو او نورو ټولو خلقو د
مالِک خُدائ د حکم نه اِنکار وکړو چې په یهوداه کښې پاتې
شی. ٥ یوحنان او نورو مشرانو ځان سره ټول خلق بوتلل
څوک چې د نزدې مُلکونو نه راواپس شوی وُو کوم ځائ ته
چې دوئ خوارهٔ شوی وُو. ٦ او په هغوئ کښې نارینه،
زنانه، ماشومان، د بادشاه لوڼه، او ټول هغه خلق شامل وُو
چې نبوزردان د محافظانو آفسر جدلیاه ته سپارلی وُو. په
دوئ کښې یرمیاه پیغمبر او باروک هم شامل وُو. ٧ خلقو
د مالِک خُدائ د حکم نه اِنکار وکړو او د مِصر تحفنحیس
ښار ته ورسیدل. ٨ په تحفنحیس کښې مالِک خُدائ یرمیاه
ته بل پیغام ورکړو. هغهٔ وفرمائیل چې، ٩ ”کله چې د
یهوداه خلق درته ګوری، نو دلته په تحفنحیس کښې یو څو
غټې کاڼی راواخله او د فِرعون د محل په دروازه کښې یې د
فرش لاندې ښخ کړه. ١٠ نو بیا د یهوداه خلقو ته ووایه چې،
مالِک خُدائ ربُ الافواج د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک داسې
فرمائی چې زهٔ به په یقین سره خپل خِدمتګار نبوکدنضر د
بابل بادشاه دلته مِصر ته راولم. زهٔ به د هغهٔ تخت په دې کاڼو
دپاسه جوړ کړم کوم چې یرمیاه دلته ښخ کړل. هغه به په دې
کاڼو خپل شاهی تمبو وغوړوی. ١١ او کله چې هغه راشی،
نو هغه به د مِصر مُلک تباه کړی. هغه څوک به مړ کړی د
چا دپاره چې د مرګ سزا مقرر شوې وی، د قید سزا به هغهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته ورکړی چا ته چې د قيد سزا مقرر شوې وی، او څوک به
په تُوره مړۀ کړی د چا دپاره چې په تُوره مړ کېدل مقرر
شوی وی. ١٢ هغه به د مِصر د معبودانو په مندرونو اور بل
کړی، هغه به مندرونه وسوزوی او بُتان به قبضه کړی او د
غنيمت په توګه به يې يوسی. هغه به د مِصر مال متاع داسې
صفا کړی لکه شڼګه چې يو شپون د خپلې چُوغې نه ورږدې
صفا کوی. او بې‌نقصانه به هغه خپل مُلک ته واپس شی. ١٣
هغه به د مِصر په بيت‌شمس مندر کښې مقدسې ستنې
راوغورزوی کومې چې په هغې کښې ولاړې دی، او هغه به د
مِصر د معبودانو مندرونه وسوزوی.“

## په مِصر کښې د بنی اِسرائيلو دپاره د مالِک خُدائ پيغام

۴۴ ١ دا پيغام يرمياه ته د يهوداه د خلقو په حقله
ورکړے شو څوک چې د مِصر په جنوبی ښارونو کښې لکه
مجدال، تحفنحيس، ميمفِس او څوک چې په بره برخو کښې
اوسېدل، ٢ ”مالِک خُدائ ربُ الافواج د بنی اِسرائيلو
خُدائ پاک فرمائی چې، تاسو هغه تباهی په خپله وليده چې
کومه ما په يروشلم او د يهوداه په نورو ټولو ښارونو باندې
راوستله. او نن دا شاړ او تباه شوی پراتۀ دی، ٣ ځکه کوم
بد کارونه چې هغوئ وکړل. هغوئ زما قهر په هغه خوشبو
سوزولو او غېرو معبودانو ته په عبادت کولو راوچت کړو
چې نۀ خو هغوئ او نۀ تاسو او نۀ د هغوئ پلار نيکۀ پېژندل.
٤ ما بار بار تاسو ته خپل خِدمتګاران پيغمبران درولېږل،
هغوئ تاسو ته مِنت وکړو چې دا حرامکاری مۀ کوئ د کوم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه چې زهٔ نفرت کوم. ۵ خو هغوئ د نبیانو خبرو ته غوږ
ونهٔ نیولو او نهٔ يې توجو ورکړه، او هغوئ د خپلو هغه بد
عملونو نه راونهٔ ګرځېدل او نهٔ يې غېر معبودانو ته خوشبو
سوزول بند کړل. ۶ نو په دې وجه ما خپل سخت قهر د
یهوداه په ښارونو او د یروشلم په کوڅو لکه د اور په شان
نازل کړو، او هغه يې تر نن ورځ پورې تباه او په خرابه بدل
کړل. ۷ نو اوس مالِک خُدائ ربُ الافواج د بنی اِسرائیلو
خُدائ پاک فرمائی چې زهٔ تاسو نه تپوس کوم چې، تاسو ولې
خپل ځانونه تباه کوئ؟ په تاسو کښې به نهٔ نارینه، نهٔ زنانه، نهٔ
ماشومان او نهٔ تې خوړونکی هیڅوک هم ژوندی پاتې نهٔ شی
څوک چې دلته د یهوداه نه راغلی يئ. ۸ تاسو په مِصر
کښې نورو معبودانو او بُتانو ته د خوشبويۍ نذرانې پېش کولو
سره ما ولې غصه کوئ؟ تاسو به په دې کار کولو سره
صرف خپل ځان تباه کړئ او د دُنیا د نورو خلقو د لعنت،
خندا او مسخرو به وګرځوئ. ۹ ولې تاسو د خپل پلار نیکهٔ
ګناهونه، د یهوداه د بادشاهانو او د مَلِکو ګناهونه، او هغه
ګناهونه چې تاسو او ستاسو ښځو په یهوداه او یروشلم کښې
کړی دی هېر کړل؟ ۱۰ خو تر ننه پورې نهٔ تاسو په خپل
ځان کښې خاکساری راوستې ده او نهٔ مو په خپلو بدو
کارونو پښیمانی ښکاره کړې ده. په تاسو کښې هیچا، نهٔ زما
د شریعت په مطابق او نهٔ زما د اصُولو په مطابق ژوند کړے
دے کوم چې ما ستاسو نه وړاندې ستاسو پلار نیکهٔ ته
ورکړی وُو. ۱۱ نو په دې وجه، مالِک خُدائ ربُ الافواج د
بنی اِسرائیلو خُدائ پاک فرمائی چې، ما په خپله دا کلکه
اراده وکړه چې ټوله یهوداه تباه او هلاکه کړم. ۱۲ زهٔ به د
یهوداه هغه ژوندی پاتې شوی خلق راواخلم هغه څوک چا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې په مِصر کښې په پناه اخستو او اوسېدو زور راوړے وو.
زۀ به هغوئ تباه کړم. هغوئ ټول لوئ او واړۀ به په مِصر
کښې په جنګ، قحط او ويا باندې مړۀ او تباه کړم. او هغوئ
به نورو خلقو ته د تهمت، وحشت، لعنت او حقارت مثال
وګرځيږى. ١٣ زۀ به هغوئ ته په مِصر کښې سزا ورکړم
لکه څنګه چې مې ورته په يروشلم کښې په جنګ، قحط او ويا
سزا ورکړې وه. ١٤ د يهوداه څومره خلق چې دلته مِصر ته
پناه اخستو دپاره راغلى دى هغه ټول به دلته هلاک شى.
څوک به هم يهوداه ته واپس لاړ نۀ شى. تر دې چې هغوئ به د
دوباره هلته د تلو او آبادېدو ډېر خواهش هم کوى. خو په
هغوئ کښې به صرف يو څو کسان واپس شى.“ ١٥ د سړو
او ښځو يوه لويه ډله چې په هغوئ کښې ځينې کسان په دې
موضوع خبر وُو چې د هغوئ ښځو بُتانو ته خوشبويۍ
سوزولې او ورسره هغوئ هم څوک چې په شمالى او جنوبى
مِصر کښې اوسېدل يرمياه ته يې ووئيل چې، ١٦ ”کومه
خبره چې تا مونږ ته د مالِک خُدائ په نوم وکړه هغې ته به
مونږ غوږ نۀ نيسو. ١٧ مونږ به ضرور په خپلو هغه ټولو
خبرو عمل کوُو د کومې خبرې چې مونږه منښته کړې ده،
مونږ به آسمانې مَلِکې ته خوشبو سوزوُو او هغې ته به د
انګورو د شيرې نذرانې پيش کوُو. مونږ به هغه کارونه کوُو
لکه څنګه چې به زمونږ پلار نيکۀ، بادشاهانو، سرکارى کسانو
د يهوداه په ښارونو او د يروشلم په کوڅو کښې کول. مونږ
سره په هغه وخت کښې خوراک ډېر تېر وو او زندګى مو ښۀ
وه او مونږ ته هيڅ قسمه تکليف او مصيبت نۀ وو. ١٨ خو
چې د کوم وخت نه مونږ آسمانې مَلِکې ته د خوشبو سوزول
او د څښلو نذرانې پيش کولو رسم بند کړے دے نو مونږ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره هيڅ هم نۀ وُو او په جنګ او قحط باندې مړۀ کېدلُو.“
١٩ نو ښځو خپله خبره جارى وساتله او وې وئيل چې،
”ولې ستاسو دا خيال دے چې ګنې زمونږ خاوندانو ته دا پته
نشته چې مونږ آسمانې مَلِکې ته خوشبوئى وسوزوله، د ښځلو
نذرانه او هغه روټۍ چې پرې مو د هغې شکل جوړ کړے وو
پېش کړه؟ نه، بلکل داسې نۀ ده.“ ٢٠ نو بيا يرمياه هغه ټولو
سړو او ښځو ته وفرمائيل چا چې يو شان جواب ورکړے
وو، ٢١ ”ولې ستاسو هم دا خيال دے چې ګنې مالِک خُدائ
ته دا پته نشته څۀ چې تاسو او ستاسو پلار نيکۀ، ستاسو
بادشاهانو او سرکارى کسانو، او ټولو خلقو بُتانو ته د يهوداه
په ښارونو او د يروشلم په کوڅو کښې خوشبوئى سوزولې
ده؟ ٢٢ دا ځکه وشُو چې، نور مالِک خُدائ ستاسو د
شرارت نه ډک او حرام کارونه نۀ شو برداشت کولے، نو د
دې په وجه ستاسو زمکه د لعنت مثال وګرځېده، او په
صحرا او کنډرو بدله شوه چې تر ننه پورې هيڅ څوک په
کښې نۀ اوسيږى. ٢٣ دا مصيبتونه ځکه په تاسو باندې
راغلل چې تاسو بُتانو ته خوشبو وسوزوله او د مالِک خُدائ
خلاف مو ګناه وکړه. تاسو د هغۀ د حکمونو منلو نه اِنکار
وکړو او نۀ مو د هغۀ په لارښودنو، اصُولو او شريعت باندې
عمل وکړو.“ ٢٤ نو بيا يرمياه ټولو نارينو او زنانو ته
وفرمائيل چې، ”اے د يهوداه خلقو تاسو څوک چې په مِصر
کښې اوسيږئ د مالِک خُدائ کلام ته غوږ ونيسئ. ٢٥
مالِک خُدائ ربُ الافواج د بنى اِسرائيلو خُدائ پاک داسې
فرمائى چې، تاسو او ستاسو ښځو وو‌ئيل چې، مونږ به
ضرور خپلې وعدې پوره کوُو او آسمانې مَلِکې ته به د
خوشبو سوزولو او د ښځلو نذرانې پېش کوُو. نو تاسو چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څۀ کول نو هغه وکړئ او خپله وعده او منښته هغې ته پوره
کړئ. ۲۶ خو اوس تاسو ټول د مالِک خُدائ دې پېغام ته
غوږ ونيسئ، تاسو د يهوداه ټولو خلقو څوک چې اوس په
مِصر کښې اوسېږئ، زۀ په ژوندى مالِک قادر مطلق خُدائ
قسم خورم، مالِک خُدائ فرمائى چې، زما نوم به نور هيڅکله
په مِصر کښې د يو يهودى په خولۀ وانۀ خستلے شى. په
تاسو کښې به يو هم زما نوم د دُعا او د قسم خوړلو دپاره
استعمال نۀ کړى، هغه دا چې، په يقين سره مالِک قادر مطلق
خُدائ ژوندے دے. ۲۷ زۀ به په تاسو ضرور افتونه نازل
کړم، نه چې آبادى. د يهوداه هر يو کس څوک چې اوس په
مِصر کښې اوسيږى ټول به جنګ او يا په قحط کښې مړۀ
شى ترڅو چې يو هم ژوندے پاتې نۀ شى. ۲۸ صرف يو څو
کسان به د مرګ نه وتښتى او د مِصر نه به يهوداه ته واپس
شى. نو بيا ټول هغه کسان چې مِصر ته راغلى دى نو هغوئ
ته به دا پته ولګى چې د چا خبره رښتيا ده، زما او کۀ د
هغوئ. ۲۹ مالِک خُدائ فرمائى چې، دا به تاسو دپاره نښه
وى چې زۀ په دې ځائ کښې تاسو ته سزا درکړم، نو تاسو به
په دې پوهه شئ چې ما ستاسو خلاف صرف خبرې نۀ دى
کړې بلکې ضرور به سزا هم درکوم. ۳۰ مالِک خُدائ
فرمائى چې، لکه څنګه چې ما د يهوداه بادشاه صدقياه د بابل
بادشاه نبوکدنضر ته حواله کړو، دغه شان به زۀ د فِرعون
حفرع د مِصر بادشاه هم د هغۀ دشمنانو ته حواله کړم څوک
چې د دۀ مرګ پسې ګرځى.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د باروک سره د خُدائ پاک وعده

۴۵ ۱ يرمياه نبی باروک د نيرياه زوئ ته د يهويقيم د
يوسياه د زوئ د بادشاهۍ په څلورم کال چې د يهوداه بادشاه
وو پېغام ورکړو د دې نه وروستو کله چې باروک په طومار
کښې هغه څۀ وليکل کوم چې ورته يرمياه فرمائيلی وُو. ۲
”اے باروکه، دا هغه څۀ دی چې مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو
خُدائ پاک يې تاسو ته فرمائی چې، ۳ تا ووئيل چې
افسوس دې په ما وی. زۀ د غمونو او تکليفونو د لاندې شوے
يم. ولې زما دا دردونه کافی نۀ وُو څۀ؟ مالِک خُدائ زما په
غمونو کښې اضافه وکړه. زۀ د اسويلو نه ستړے ستومانه
شوے يم او هيڅ قسم آرام راته نۀ ملاوېږی. ۴ باروکه،
مالِک خُدائ داسې فرمائی چې، زۀ به دا قوم تباه کړم کوم
چې ما آباد کړے دے. او څۀ چې ما کَرلی دی هغه به د بېخ
نه راوباسم. ۵ ولې تۀ د خپل ځان دپاره د دې نه نور هم
زيات د خاص سلوک اُميد کوې څۀ؟ داسې مۀ کوه. زۀ به
لوئ افت په دې خلقو نازل کړم. خو تۀ چرته هم ځې نو زۀ به
تا ته ستا ژوندون درکړم. مالِک خُدائ داسې فرمائی.“

## د مِصر شکست

۴۶ ۱ مالِک خُدائ د غېريهوديانو په حقله يرمياه نبی ته
پېغام ورولېږلو. ۲ کوم پېغام چې د مِصر په حقله وو هغه
دا وو چې، د يهوداه بادشاه يهويقيم د يوسياه د زوئ د
بادشاهۍ په څلورم کال، د کرکميس د جنګ په موقع کله چې
فِرعون نِکوه د مِصر بادشاه او د هغۀ فوجيانو د فرات د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سیند سره نزدې د بابل بادشاه نبوکدنضر نه شکست وخوړو.
۳ ”خپل غټ او واړۀ ډالونه تیار کړئ او د جنګ دپاره
راوځئ. ۴ خپل آسونه زین کړئ او ورباندې سوارۀ شئ.
صفونه جوړ کړئ او د جنګ ټوپۍ په سر کړئ. خپلې نېزې
تېرې کړئ، او زغره واچوئ. ۵ خو زۀ څۀ ګورم؟ چې په
مِصرى فوجيانو باندې د يرې نه دهشت راغلے دے او
هغوئ د يرې نه لګيا دى په شا کيږى، د هغوئ فوجيانو
شکست وخوړلو. او په وارخطايۍ سره په مخه تښتى او
هغوئ وروستو نۀ ګورى، او د هرې خوا نه په هغوئ باندې
يره خوره شوې ده، مالِک خُدائ داسې فرمائيلى دى. ۶
تېزه منډه وهونکے هم نۀ شى تښتېدلے، او نه تکړه فوجى
تښتېدلے شى. او هغوئ په شمال کښې د فرات د سيند سره،
تيندک خورى او راغورزيږى. ۷ څوک دے دا چې لکه د
نيل درياب په شان موجونه وهى، لکه د هغه سيند په شان
چې اوبۀ يې په بره موجونه وهى او ټوله زمکه لاندې کوى؟
۸ دا د مِصر فوج دے چې د نيل درياب په شان راوچت
شوے دے او لافې وهى چې زۀ به راوچت شم او د سېلاب
په شان به ټوله زمکه پټه کړم، زۀ به ټول ښارونه تباه کړم او
په هغې کښې ټول خلق به هلاک کړم. ۹ اے آسونو او
جنګى ګاډو روان شئ، اے د مِصر تکړه سپاهيانو په دشمن
حمله وکړئ، اے د ايتهوپيا، ليبيا، خلقو ډال راواخلئ او د
لِديه خلقو څوک چې په غشو ليندو کښې تکړه يئ. ۱۰ ځکه
چې دا د مالِک خُدائ ربُ الافواج ورځ ده، د انتقام ورځ،
ځکه چې هغه به د خپلو دشمنانو نه انتقام واخلى. د هغۀ تُوره
به تر هغې خوړل کوى ترڅو پورې چې مړه شوى نۀ وى، او
ترڅو چې د هغوئ په وينو تنده ماته نۀ کړى. په نن ورځ به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ مالِک خُدائ ربُ الافواج خُدائ پاک ته په شمال کښې
د فرات د سيند سره د قربانۍ په شان پيش کړے شى. ۱۱
اے د مِصر پېغلې لورې، جِلعاد ته لاړه شه او هلته دارو
ولټوه. خو ستاسو رنګارنګ دوائى به تاسو ته شفا درنۀ کړى.
۱۲ قومونه به ستاسو د شرم په حقله خبر شى. زمکه به
ستاسو دردناکه ژړا ډکه کړى. ستا تکړه فوجيان به په يو بل
تيندک وخورى، او په يو ځائ به راپرېوځى.“

## په مِصر د نبوکدنضر حمله کول

۱۳ دا هغه خبر دے چې مالِک خُدائ د يرمياه نبى په وسيله
د نبوکدنضر يعنې د بابل د بادشاه د راتلو او د هغۀ په مِصر
باندې د حملې په حقله ورکړو، ۱۴ ”د مِصر په ښارونو په
مجدال، ميمفِس او تحفنحيس کښې به دا اعلان وکړئ چې، د
جنګ دپاره تيار شئ، ځکه چې تُوره به ستاسو خوا او شا
کښې هر څۀ وخورى. ۱۵ ستاسو جنګيالى ولې راغورزېدلى
دى؟ هغوئ د مالِک خُدائ مخې ته نۀ شى ټينګېدلے ځکه چې
هغه به هغوئ راوغورزوى. ۱۶ هغوئ به ټول تيندکونه
خورى، او هغوئ به په يو بل راغورزېږى. هغوئ به يو بل ته
وائى، پاڅه، راځئ چې خپلو خلقو او خپل مُلکونو ته واپس
لاړ شُو، چرته به چې مونږ د ظالم د تُورې نه بچ شُو. ۱۷ نو
هغوئ به وائى چې د مِصر بادشاه فِرعون خو تش په خولۀ
لوئېږى، هغۀ نه اوس خپله موقع خطا شوې ده. ۱۸ د دُنيا
بادشاه د چا نوم چې مالِک خُدائ ربُ الافواج دے فرمائى
چې، زما دې په خپل ذات قسم وى چې، يو کس څوک چې د
مِصر خلاف راروان دے هغه لکه څنګه چې د تبور غر لوړ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے، او لکه څنګه چې د کرمل غر د سمندر په غاړه لوړ
دے. ١٩ اے د مِصر اوسېدونکو، خپل مال حال راواخلئ
او د جلاوطنۍ دپاره تيار شئ، ځکه د ميمفِس ښار به تباه او
کنډرې شی، او يو کس به هم په کښې نۀ اوسيږی. ٢٠ مِصر
لکه د يوې ځوانې سخۍ په شان ښائسته دے، خو د شمال د
خوا نه د هغۀ خلاف د غوباړې په شان مچ راروان دے. ٢١
د مِصر د کرايه فوجيان لکه د کمزورو سخو په شان دی.
هغوئ به هم په يو ځائ راوګرځی او په شريکه به وتښتی،
هغوئ به په خپل ځائ باندې ونۀ دريږی. ځکه چې په هغوئ د
تباهۍ او افت ورځ راروانه ده، دا د هغوئ دپاره د سزا
ورکولو ورځ ده. ٢٢ مِصر به لکه د مار په شان کشار وکړی
او په وروستو به وتښتی کله چې د دشمن فوج ورباندې حمله
وکړی، هغوئ به د دوئ خلاف تبر په لاس راشی او په دوئ به
داسې حمله وکړی لکه څنګه چې يو سړے ونې وهی. ٢٣
مالِک خُدائ فرمائی چې، هغوئ به د مِصر خلق د ځنګلی
ونو په شان ووهی، ځکه چې د هغوئ شمېر د مُولخانو نه هم
ډېر بې‌شمېره دے. ٢٤ د مِصر خلق به وشرميږی، او د
شمال خلقو ته به حواله کړے شی.“ ٢٥ مالِک خُدائ ربُ
الافواج د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک فرمائی، ”زۀ به امون د
مِصر د تيبس معبود او د مِصر نورو معبودانو ته سزا
ورکړم. زۀ به د مِصر بادشاهانو او فِرعون ته او هغوئ ټولو
ته سزا ورکړم څوک چې په هغۀ يقين کوی. ٢٦ مالِک
خُدائ فرمائی چې، زۀ به هغوئ هغه خلقو ته حواله کړم
څوک چې دوئ وژل غواړی، نبوکدنضر د بابل بادشاه او د
هغۀ آفسرانو ته. خو وروستو به مِصر کښې د وړاندې په شان
خلق بيا آباد شی. دا مالِک خُدائ فرمائی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## مالِک خُدائ اِسرائیل بچ کوی

۲۷ "اے زما خِدمتګاره یعقوبه مۀ یرېږه، اے اِسرائیله مۀ
یرېږه. زۀ به تاسو د هغه لرې مُلک نه دوباره خپلو کورونو ته
راولم، چرته چې تاسو جلاوطن شوی یئ. ستا اولاد به زۀ
خپلو کورونو ته د جلاوطنۍ نه واپس راولم. یعقوب به دوباره
خپل مُلک ته راشی او په امن او سکون سره به ژوند کوی،
او تاسو به څوک هم نۀ یروی. ۲۸ مالِک خُدائ فرمائی چې،
اے زما خِدمتګاره یعقوبه مۀ یرېږه، ځکه زۀ تا سره یم. زۀ به
په پوره توګه هغه قومونه تباه کړم کومو ته چې تاسو ما جلا
وطن کړی وئ، خو زۀ به تاسو په مکمل توګه نۀ تباه کوم. زۀ
به ستاسو په اِنصاف سره تنبیه وکړم، زۀ به تاسو بې‌سزا نۀ
پرېږدم."

## د فلستیه په حقله د مالِک خُدائ پیغام

۴۷ ۱ دا د مالِک خُدائ هغه کلام دے چې د فِرعون د
لښکرو په غزه د حملې کولو نه مخکښې، په یرمیاه نبی د
فلستیانو په حقله نازل شو. ۲ "مالِک خُدائ وفرمائیل چې،
وګوره، د شمال نه اوبۀ څنګه راوچتېږی، او د سیلاب په
شان په زور شور راروانې دی، دا به ټوله زمکه او هر څۀ چې
په کښې دی رالاندې کړی، ښارونه او د هغې اوسېدونکی به
ډوب کړی، ټول خلق به د مدد دپاره چغې وهی او څومره
خلق چې په کښې اوسیږی هغوئ به ژړا کوی. ۳ هغوئ به
د آسونو د سومونو او پښو ټکار واوری، او د دشمن د جنګی
ګاډو غرار او د هغوئ د پایو شور به واوری. پلاران به د یرې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه جام شی او د خپلو بې‌وسه ماشومانو د بچ کولو دپاره به
شاته نۀ ګوری. ۴ د ټولو فلستيانو د تباهۍ ورځ رارسيدلې
ده او ورسره د هغوئ هم ځوک چې به د صور او صيدا
خلقو سره مدد کوی. مالِک خُدائ په خپله هغه فلستيان تباه
کوی، هغوئ ځوک چې ژوندی پاتې شوی دی او د کريت د
ساحل نه راغلی دی. ۵ غزه لور به د غم نه خپل سر
ګنجے کړی او د اسقلون ښار به وران او خاموشه شی. اے
د ميدانی علاقې پاتې شوو خلقو ترڅو پورې به خپل ځان وهئ
او ماتم به کوئ؟ ۶ تاسو چغې وهئ، اے د مالِک خُدائ
تُورې، ترڅو پورې به تۀ زخمی کول کوې؟ خپل کاش ته
واپس لاړه شه، او هلته په آرام پرته اوسه. ۷ خو دا به
څنګه په آرام شی چې ورته مالِک خُدائ حکم کړے دے، کله
چې هغۀ ورته په اسقلون او په ساحل د حملې کولو حکم
کړے دے؟“

## د موآب په حقله د مالِک خُدائ پيغام

۴۸ ۱ مالِک خُدائ ربُ الافواج د بنی اِسرائيلو خُدائ
پاک د موآب په حقله فرمائی، ”په نبو ښار باندې افسوس،
ځکه چې دا ښار به تباه شی. د قِريَتائم بې‌حرمتی به وشی او
قبضه به کړے شی. او د مضبوطې قلعه بې‌حرمتی به وشی
او ټوټه ټوټه به شی. ۲ د نن نه پس به ځوک هم د موآب
تعريف ونۀ کړی، په حسبون کښې به خلق د هغې د
راغورزولو منصوبې جوړوی، هغوئ وائی راځئ چې د موآب
نوم او نشان ختم کړُو. اے د مدمين ښاريې، تۀ به هم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خاموشه شي، او تاسو به په تُوره مړهٔ شئ. ۳ د حوروناېم
نه د چغو آوازونو ته غوږ شئ، د لوئې تباهئ درزار او آوازونه
اورېدلے کيږى. ۴ موآب به ټول تباه شى، د هغې واړهٔ
ماشومان به په تېزه چغې وهى. ۵ هغوئ لوحيت ته په بره
تلو سخته ژړا کوى، او حوروناېم ته په ورکوزېدو سره د
تباهئ د درزار او شور په اورېدو هغوئ په چغو چغو ژړا
کوى. ۶ هغوئ وائى چې، منډه کړئ او ځان بچ کړئ او په
صحرا کښې د ځنګلى بوټو په شان شئ. ۷ دا چې تا اے
موآبه په خپلو اعمالو او دولت باندې باور کولو، نو تاسو به
هم ګرفتار شئ، او ستا بُت کموس به هم د خپلو اِمامانو او
نورو خادِمانو سره جلاوطن کړے شى. ۸ تباه کوونکے
دشمن به د هر يو ښار خلاف حمله وکړى، او يو ښار به هم
ترې بچ نهٔ شى. هره وادى به تباه شى او هر هوار مېدان به
تباه شى. ځکه چې مالِک خُدائ دا حکم کړے دے. ۹ په
موآب باندې مالګه ودوړوه، ځکه چې هغه به په ښوره او
صحرا بدل شى، د هغې ښارونه به وران شى، او هيڅ څوک به
په کښې نهٔ اوسيږى. ۱۰ لعنت دې په هغه کسانو وى څوک
چې د مالِک خُدائ په کار کښې غفلت کوى، او خپله تُوره د
وينو توېدو نه بچ ساتى. ۱۱ موآب د ځوانئ نه واخله تر
اوسه پورې په امن او سکون سره وخت تېر کړے دے، هغه
جلاوطن شوے نهٔ دے. لکه څنګه چې مے په خپل لوښى
کښې ځائ په ځائ پراتهٔ وى، او د يو لوښى نه بل لوښى ته نهٔ
وى اړولے شوى. نو د هغې ذائقه هم هغه شان ده لکه څنګه
چې يې د اول نه وه، او د هغې خوشبو بدله شوې نهٔ ده. ۱۲
خو هغه ورځې راروانې دى، مالِک خُدائ فرمائى چې، کله به
زهٔ خلق ورولېږم چې موآب د لوښى نه رابهر کړى. او هغوئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به هغه د لوښی نه لکه د میو په شان توئ کړی او لوښی به
زره زره کړی. ۱۳ نو په آخر کښې به بیا د موآب خلق د
کموس بُت نه شرمیږی، لکه څنګه چې بنی اِسرائیل په
بیت‌ایل کښې په بُت باندې په یقین کولو شرمېدل. ۱۴ نو بیا
تاسو څنګه لافې وهلې چې، مونږ په جنګ کښې ډېر تکړه او
باتور فوجیان یُو؟ ۱۵ موآب به تباه شی او د هغهٔ ښارونه به
قبضه کړے شی. د هغهٔ ښائسته زلمی به حلالېدو دپاره
بوتلے شی، دا د هغه بادشاه فرمان دے چې د چا نوم مالِک
خُدائ ربُ الافواج دے. ۱۶ د موآب د ختمېدو اَنجام
رانزدې شوے دے، او د هغهٔ بربادی زر راتلونکی ده. ۱۷
اے د موآب دوستانو او ګاونډیانو په دهٔ باندې ماتم وکړئ،
تاسو څومره چې د هغهٔ د شُهرت او نوم نه واقف یئ، نو
ووایئ چې، افسوس د موآب د شان او شوکت امسا ماته
شوه او د هغې ټول طاقت تس نس شو. ۱۸ اے د دیبون
اوسېدونکو د خپل شاندار تخت نه راکوز شئ او په خشکه
زمکه او خاورو کښېنئ، ځکه هغه چا چې موآب تباه کړو
هغه به دیبون هم ټوټه ټوټه کړی. او هغه به ستاسو ټولې قلعه
ګانې راوغورزوی. ۱۹ اے د عروعیر اوسېدونکو د سړک په
غاړه ودرېږئ او خلقو ته وګورئ. د هغه نارینه او زنانهٔ نه
څوک چې تښتی تپوس وکړئ چې څهٔ چل وشو؟ ۲۰ هغوئ
به په جواب کښې ووائی چې، د ارنون د سیند په غاړه موآب
تباه شو او په شرمونو وشرمېدو، په چغو او سورو په هغهٔ
ماتم او ژړا وکړئ. ۲۱ د مالِک خُدائ عدالت په دې غریزه
مُلکونو لکه حولون، یهض، مفعت، ۲۲ دیبون، نبو،
بیت‌دبلاتایم، ۲۳ قِریَتائم، بیت‌جمول، بیت‌معون، ۲۴
قریوت او بُصره او د موآب په ټولو لرې او نزدې ښارونو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نازل شوے دے. ۲۵ مالِک خُدائ دا اعلان وکړو چې، د
موآب ښکر مات شو، او د هغهٔ طاقت ختم شو.“

## د موآب عاجز کېدل

۲۶ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”په موآب باندې مے وڅښئ
او نشه يې کړئ، ځکه چې هغهٔ خپل ځان په ما اوچت ګڼلو،
پرېږده چې اوس هغه په خپلو اولټو کښې ورغړی، او پرېږده
چې هغه د خلقو د خندا شی. ۲۷ اے موآبه، آيا تا به بنی
اِسرائيلو پورې خندا نهٔ کوله څهٔ؟ آيا ستاسو په خيال هغوئ
غلهٔ وُو، چې کله به تاسو د هغوئ په حقله خبرې کولې نو په
مسخره آميزه توګه به مو خپل سرونه خوځول؟ ۲۸ اے د
موآب اوسېدونکو، تاسو خپل ښارونه پرېږدئ او په ګټانو
کښې اوسېږئ. لکه د ګوګوشتکو په شان شئ، چې د غارونو
په خولهٔ کښې خپل ځان له جاله جوړوی. ۲۹ مونږ د موآب
د کبر په حقله واورېدل، ځکه چې د هغهٔ بېحده کبر او سوچ،
د هغهٔ کبر او غرور او د هغهٔ د زړهٔ د خود غرضئ نه خبر يُو.
۳۰ مالِک خُدائ فرمائی چې، زهٔ د هغوئ د غرور نه خبر يم
خو دا بېمطلبه دے، او د هغوئ عملونه عبث دی. ۳۱ نو په
دې وجه زهٔ په موآب ماتم کوم، زهٔ د ټولو موآبيانو دپاره ژړا
کوم، او زهٔ د قيرحراست د خلقو دپاره ژړا کوم. ۳۲ سبماه،
زهٔ به په تا وير وکړم د دې نه هم زيات چې مې په يعزير کړی
وُو، سبماه ستا د انګورو خانګې تر سمندر پورې رسېدلی
دی، خو تباه کوونکے ستا په مېوو او انګورو راپرېوتلے
دے. ۳۳ د موآب د زرخېزه پټو او مُلک نه د خندا او
خوشحالئ آوازونه تلی دی، ما د انګورو د لنګرو نه مے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جوړول بند کړی دی، هيڅ څوک هم انګور په خوشحالۍ سره
نۀ نچوړوی. تر دې چې هلته شور او چغې اوريدلے شی، خو
د خوشحالۍ نه بلکې د جنګ. ۳۴ د هغوئ د ژړا آوازونه د
حسبون نه تر اِلىعالى او يهض پورې، او د ضُعر نه تر
حورونايم پورې او عجلتشليشياه پورې اوريدلے شی. او تر
دې چې اوس د نِمريم اوبۀ هم اوچې شوې دی. ۳۵ مالِک
خُدائ فرمائی چې، زۀ به په موآب کښې هغه کسان ختم کړم
څوک چې په اوچتو ځايونو کښې خپلو معبودانو ته نذرانې
پيش کوی او هغوئ ته خوشبوئی سوزوی. ۳۶ نو زما زړۀ د
موآب دپاره لکه د شپيلۍ فريادونه کوی، او دا هم په
قيرحراست کښې د هغه خلقو دپاره لکه د شپيلۍ فريادونه
کوی. کوم مال دولت چې هغوئ حاصل کړے وو لاړو. ۳۷
ټولو خلقو خپل سرونه او ږيرې د غم په وجه ګنجې کړی وُو،
او خپل لاسونه يې زخمی کړی وُو او د خپلو ملاګانو نه يې
ټاټ تاو کړے وو. ۳۸ مالِک خُدائ فرمائی چې، د موآب د
هر يو کور په سر او په هره لاره او کوڅه کښې ماتم او ژړا
اوريدلے کيږی. ځکه چې ما موآب لکه د هغه لوښی په شان
چې څوک يې هم نۀ غواړی ټوټه ټوټه کړو. ۳۹ هاے هاے،
دا څنګه ټوټه ټوټه شو. او د هغوئ چغې او سورې واورئ. د
موآب شرميدل وګورئ، دا خو ټولو خلقو او ګاونډيانو دپاره
د خندا او د تباهۍ يو مثال جوړ شو.“

## مالِک خُدائ د موآب خلاف راپاڅيدلے دے

۴۰ مالِک خُدائ داسې فرمائی چې، ”ګورئ، يو قوم د باز په
شان خپلې وزرې خورې کړې او په موآب باندې راغوټه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کیږی. ۴۱ قریوت به قبضه شی او د هغهٔ مضبوطې قلعه
ګانې به واخستلے شی. او په هغه ورځ به د موآب د فوجیانو
زړونه داسې ګبراویږی لکه چې د یوې ښځې زړهٔ چې د
لنګون په وخت کښې ګبراویږی. ۴۲ موآب به نور یو قوم
پاتې نهٔ شی ځکه چې هغوئ خپل ځان د مالِک خُدائ نه لوئ
تصور کړو. ۴۳ مالِک خُدائ فرمائی چې، دهشت، کنده او
دامونه د موآب د خلقو په انتظار کښې دی. ۴۴ هر څوک
چې د دهشت نه وتښتی نو په کنده کښې به وغورزیږی. څوک
چې د کندې نه راوچت شی نو په دام کښې به ګرفتار شی،
ځکه چې زهٔ په موآب باندې د سزا وخت راولم، مالِک خُدائ
فرمائی. ۴۵ کوم خلق چې حسبون ته د پناه دپاره وتښتی نو
هلته به بېوسه ودریږی، ځکه چې د حسبون نه د اور شُغلې
راوچتیږی، د بادشاه سیحون د زوړ کور نه به د اور لمبې
راوچتیږی. دا اور د موآب تندے سوزوی، او د شور
اچوونکو لافوانو کوپړۍ سوزوی. ۴۶ په تا دې افسوس وی
اے موآبه. د کموس بُت عبادت کوونکی تباه شول، ستاسو
زامن مُلک بدر شول او ستاسو لوڼه ونیولے شوې او
جلاوطن کړے شوې. ۴۷ خو زهٔ به بیا موآب په راتلونکی
وخت کښې دوباره بحال کړم، مالِک خُدائ فرمائی.“ نو دلته
د موآب په حقله د یرمیاه نبی پیشګوئې ختمه شوه.

## د عمونیانو سره د مالِک خُدائ عدالت

۴۹ ۱ د عمونیانو په حقله مالِک خُدائ فرمائی چې، ”آیا
د بنی اِسرائیلو څوک اولاد نشته؟ او د هغوئ څوک وارث

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نشته؟ نو بیا ولې د مولک بُت تابعداری کوونکو د جاد په مال
حال قبضه کړې ده او د هغوئ په ښارونو کښې اوسیږی؟“
٢ مالِک خُدائ فرمائی، ”خو هغه ورځې راروانې دی کله
چې زۀ به د عمونیانو د ربه د ښار خلاف د جنګ آواز وکړم.
دا ښار به د تباهۍ نه د خاورو یو ډیرے جوړ شی، او د خوا
او شا کلی به یې وسوزولے شی. نو بیا به بنی اِسرائیل هغه
کسان وشړی چا چې دوئ شړلی وُو. ٣ اے د حسبون
ښځو، وژاړئ، ځکه چې د عی ښار تباه شو. اے د ربه ښځو،
ویر وکړئ. د ټاټ جامې واغوندئ او ماتم وکړئ. اخوا
دیخوا سرګردانه وزغلئ، ځکه چې د مولک بُت به سره د
خپلو اِمامانو او خادِمانو جلاوطن کړے شی. ٤ تاسو ولې
په خپل لوئ طاقت باندې فخر او لافې کوئ؟ ستاسو مال
دولت به کم کړے شی، اے عمونه. چې د سرکشه جینۍ په
شان په خپل مال دولت باندې یقین کوئ او داسې وایئ، په
چا کښې جرأت شته چې په مونږ باندې حمله وکړی؟“ ٥
مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی چې، ”ګورئ، زۀ به ستاسو
د هرې خوا نه په تاسو باندې یره او وحشت راولم. او ستاسو
هر یو کس به د مُلک نه وشړلے شی، او هیڅ څوک به هم دا
مفروران یو ځائ ته راجمع نۀ کړی. ٦ خو وروستو به زۀ
عمونیان یو ځل بیا بحال کړم. دا د مالِک خُدائ فرمان
دے.“

## د ادومیانو په حقله پیغام

٧ د ادومیانو په حقله مالِک خُدائ ربُ الافواج داسې
فرمائی چې، ”ولې په تیمان کښې نور حکمت او عقل نشته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څۀ؟ آيا هوښياران ورته صحيح مشوره نۀ شي ورکولے څۀ؟
ولې د هغوئ عقل خوړلے شوے دے څۀ؟ ٨ اے د ددان
خلقو، واپس شئ او وتښتئ، او په غارونو کښې خپل ځان پټ
کړئ، ځکه چې زۀ په عِيسو افت نازلوم نو په دغه وخت
کښې به زۀ هغۀ ته هم سزا ورکړم. ٩ هغوئ څوک چې
انګور راټولوى لږ څۀ غريبانانو ته پرېږدى. کۀ چرې په شپه
کښې ورباندې غلۀ راشى، نو هغوئ به ورنه هر څۀ نۀ جارُو
کوى. ١٠ خو زۀ به د عِيسو نه هر څۀ جارُو کړم او د هغۀ
پټ ځايونه به ښکاره کړم، نو هغه به يو ځائ هم خپل ځان
پټولے نۀ شي. د هغۀ ماشومان، خپلوان، او ګاونډيان به تباه
کړے شي، او هغه به نور په دُنيا کښې ژوندى پاتې نۀ شي.
١١ خو زۀ به ستاسو د يتيمانو خيال ساتم او ستاسو کونډې
دې هم په ما د مدد دپاره باور وکړى.“ ١٢ مالِک خُدائ
فرمائى چې، ”کۀ چرې بېګناه خلقو ته سزا ملاويږى، نو بيا
به تاسو د څومره سزا لائق يئ. تاسو به بېسزا پاتې نۀ شئ. نو
تاسو به ضرور د غضب د دې پيالۍ نه څوند واخلئ.“ ١٣
مالِک خُدائ فرمائى چې، ”زۀ په خپل ذات قسم خورم چې،
د بُصره ښار به تباه شي او د خاورو ډېرے به جوړ شي او د
ټولو خلقو دپاره به د وحشت، سپکوالى او د لعنت مثال
وګرځى، او د هغۀ ټول ښارونه به د تل دپاره تباه او برباد
شى.“ ١٤ ما د مالِک خُدائ له طرفه پېغام واورېدو، يو
قاصد قومونو ته ولېږلے شو چې هغوئ ته ووائى چې، ”د
ادوم په خلاف لښکر راجمع کړئ او د جنګ دپاره تيارى
وکړئ. ١٥ مالِک خُدائ ادوميانو ته فرمائى چې، اوس به زۀ
تا د نورو قومونو په مينځ کښې کمزورے کړم. او ټول به تا ته
په سپکه سترګه ګورى. ١٦ ستا خپل دهشت او کوم کبر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ستا په زړۀ کښې وو تۀ دوکه کړې، تاسو څوک چې د
ګټانو په درزونو کښې اوسېږئ، او د غرونو اوچتې څوکې
ستا په قبضه کښې دی. کۀ څۀ هم چې تۀ د باز په شان په
اوچتو ځايونو کښې خپلې جالې جوړې کړې نو د هلته نه به
زۀ تا لاندې راکوز کړم. دا د مالِک خُدائ فرمان دے. ۱۷
ادوم به د خلقو دپاره د يرې مثال وګرځى، او څوک هم چې
په دې لار تېرېږى د هغوئ د تولو افتونو پورې به حق حيران
شى. ۱۸ لکه څنګه چې سدوم او عموره، او د دې نه
ګېرچاپېره ښارونو باندې تباهى راغلې وه، نو ادوم به هم هغه
شان تباه شى، هلته به هيڅ څوک نۀ ژوند کوى او نۀ به
اوسيږى. مالِک خُدائ داسې فرمائى. ۱۹ لکه څنګه چې يو
زمرے د اُردن د جاړو بوټو نه د څرن زمکې ته راځى او په
ګډو ورټوپ کوى، نو دغه شان به زۀ ادوميان د هغوئ د
خپل مُلک نه وشړم، او زۀ به د خپلې خوښې مشر په کښې
مقرر کړم. نو هغه به په دوئ حکومت وکړى. څوک زما په
شان کېدلے شى؟ او يو مشر به هم زما خلاف ونۀ درېږى.
۲۰ نو بيا هغې منصوبې ته غوږ شه کومه چې مالِک خُدائ
د ادوم په خلاف جوړه کړې ده، او څۀ چې هغه د تيمان د
خلقو سره کول غواړى. د هغوئ د رمې نه به واړۀ ګډورى
راکاږى او هغه به په پوره توګه د هغوئ د څرن ځائ د دوئ
په وجه وران کړى. ۲۱ د ادوم د راغورزيدو په آواز به زمکه
توله په لړزان شى، او د هغوئ د چغو او سورو آواز به د
بحرِقُلزمه پورې اورېدلے شى. ۲۲ ګورئ، دشمن لکه د باز
په شان راغوټه شوے دے، او خپل وزرونه يې په بُصره
باندې خوارۀ کړى دى، تر دې چې په هغه ورځ به د ادوم د
تکړه فوجيانو زړۀ داسې په تکليف او يره کښې وى لکه چې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یوې ښځې زړهٔ په لنګون کښې وی.“

## د دمشق په حقله پېغام

۲۳ مالِک خُدائ د دمشق په حقله دا پېغام ورکړو چې، ”د
حمات او ارفاد ښارونه د یرې نه اوبهٔ شول، ځکه چې هغوئ
د خپل ځان د تباهئ پېغام واورېدو. د هغوئ زړونه داسې
بې‌سکونه شول لکه څنګه چې د سمندر چپې نا آرامه او
بې‌سکونه وی او هیڅ سکون ورته نهٔ ملاوېږی. ۲۴ د دمشق
ښاریه د هغې ښځې په شان ده چې بې‌همته شوه، او د هغې
ټول خلق وتښتېدل. یرې، وارخطایئ او درد هغه رانیولې ده
لکه څنګه چې یوه ښځه د لنګون په وخت کښې نیولې وی.
۲۵ دا مشهور ښار به څومره وران ویجاړ وی، کوم ښار
چې په یو وخت کښې د خوشحالئ ډک وو. ۲۶ مالِک خُدائ
ربُ الافواج فرمائی چې، د هغهٔ ځوانان به په کوڅو کښې
راپرېوځی او قتل به شی، او د هغوئ فوجیان به په هغه ورځ
ټول ختم کړے شی. ۲۷ زهٔ به د دمشق په دېوالونو باندې
اور ولګوم، او تر دې چې دا به د بِن‌حدد محلونه وسوزوی.“

## د مالِک خُدائ د قیدار او حاضور قبیلې ته پېغام

۲۸ د قیدار او د حاضور د علاقې په حقله کوم چې د بابل
بادشاه نبوکدنضر وراندې حمله وکړه، مالِک خُدائ فرمائی
چې، ”راپاڅئ او په قیدار باندې حمله وکړئ او د مشرق
اوسېدونکی تباه کړئ. ۲۹ د هغوئ خېمې او رمې به قبضه
کړے شی، د هغوئ د سر سورے به ترې نه سره د سامانه او
اوښانو واخستلے شی. او خلق به د هرې خوا نه چغې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سورېږي وهي. او هر چرته به يره خوره شوې وي. ۳۰ مالِک
خُدائ فرمائي چې، اے د حاضور خلقو په منډه وتښتئ. او
خپل ځانونه په ژورو غارونو کښې پټ کړئ. ځکه چې د بابل
بادشاه نبوکدنضر ستا خلاف منصوبه تياره کړې ده. او
ستاسو د تباهئ تيارے کوي. ۳۱ مالِک خُدائ فرمائي،
راپاڅه او په هغه ښارونو باندې حمله وکړه څوک چې په آرام
او سکون کښې ژوند کوي. د چا چې نۀ دروازې شته او نۀ
دېوالونه او يواځې اوسيږي. ۳۲ د هغوئ اوښان تالا کړه او
د هغوئ رَمې لوټ کړه. او زۀ به هغوئ څوک چې په دشتو او
ميرو کښې اوسيږي د هوا په مخکښې خوارۀ کړم او د هرې
خوا نه به پرې افت نازل کړم. دا د مالِک خُدائ فرمان دے.
۳۳ حاضور به د ګيدړانو د اوسېدو ځائ شي او د همېشه
دپاره به وران او شاړ پروت وي. هيڅ څوک به هلته نۀ ژوند
کوي او نۀ به اوسيږي.“

## د عيلام په حقله د مالِک خُدائ پېغام

۳۴ دا د مالِک خُدائ هغه پېغام دے چې په يرمياه نبی باندې
د عيلام په حقله د يهوداه د بادشاه صدقياه د بادشاهئ په
وړومبو ورځو کښې نازل شو. ۳۵ مالِک خُدائ ربُ الافواج
وفرمائيل چې، ”زۀ به د عيلام ليندې چلوونکی ووژنم، کوم
چې د هغوئ د زور او طاقت اُميد دے. ۳۶ زۀ به د
آسمانونو د څلورو خوا نه په هغوئ باندې څلور بادونه راولم
او هغوئ به ورته تس نس کړم، او داسې يو قوم او مُلک به نۀ
وي چې د عيلام خلق ورته په جلاوطنئ لاړ نۀ شي. ۳۷ زۀ به
د عيلام د خلقو په زړۀ کښې د هغوئ د دشمنانو يره واچوم.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځوک چې د هغوئ مرګ پسې ګرځی، زۀ به په هغوئ افت
نازل کړم او تر دې چې خپل خطرناک قهر او غضب به پرې
راولم. دا د مالِک خُدائ فرمان دے. زۀ به هغوئ ته فوجیان
ورولیږم چې دوئ راټینګ کړی تر دې چې ټول تباه کړم. ۳۸
زۀ به خپل تخت په عیلام کښې قائم کړم، او د هغې بادشاه او
آفسران به هلاک کړم. دا د مالِک خُدائ فرمان دے. ۳۹
خو زۀ به په آئنده کښې د عیلام خلق بحال کړم. دا د مالِک
خُدائ فرمان دے.“

## د بابل په حقله د مالِک خُدائ پیغام

۵۰ ۱ مالِک خُدائ یرمیاه نبی ته د بابل د خلقو او د
بابل د وطن په حقله دا پیغام نازل کړو چې، ۲ ”د قومونو
په مینځ کښې د دې خبرې اعلان وکړه، جنډا اوچته کړه او
په ډاګه ورته ووایه، او هیڅ خبره مۀ پټوه بلکې دا ښکاره وایه
چې، بابل به قبضه کړے شی، او بیل بُت به په شرمونو
وشرمیږی او رسوا به شی، او مردوک بُت به ویریږی. د بابل
مجسمه به په شرمونو وشرمولے شی او د هغې بُتان یرې
راخستی دی. ۳ د شمال د خوا نه به یو قوم په دې حمله
وکړی او د هغوئ مُلک به تباه کړی او په صحرا به یې بدل
کړی. او هیڅ ځوک به هلته نۀ اوسیږی، انسانان او ځناور به
وتښتی.“

## د بنی اِسرائیلو راواپس کېدل

۴ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”په هغه ورځو کښې به د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِسرائيل او د يهوداه خلق په يو ځائ په ژړا راروان وی. د
مالِک خُدائ او د خپل مقدس خُدائ لټون به کوی. ۵
هغوئ به د صيون د لارې تپوس وکړی او بيا به هغه خوا ته
مخ تاو کړی او ورروان به شی. هغوئ به ما سره ابدی لوظ
وکړی کوم به چې کله هم نۀ هېرېږی. ۶ زما غوره شوے
قوم د ورکو شوو ګډو په شان دے، د هغوئ د قوم شپونکو
هغه په غلطو لارو روان کړی دی او په غرونو کښې يې
سرګردانه پرېښودی دی. او هغوئ په غرونو او غونډو
سرګردانه ګرځی او خپل د آرام کولو ځائ ترې نه هېر وی.
۷ هر چا به چې هم هغوئ بياموندل نو هغوئ به يې وژل. د
هغوئ دشمنانو وئيل، مونږ په دوئ باندې په حملې کولو سره
ګناه ګار نۀ يُو، ځکه چې هغوئ د مالِک خُدائ خلاف ګناه
کړې ده څوک چې رښتينے څرن ځائ دے او د هغوئ پلار
نيکۀ به هم په هغۀ باندې يقين او خپل اُميد ساتلو. ۸ اے
زما غوره شوے قومه د بابل نه وتښتئ، د بابليانو مُلک
پرېږدئ، او د هغه نر چېلی په شان شئ چې د رَمې رهنمائی
کوی. ۹ زۀ به د شمال نه د تکړه قومونو اِتحاد جوړ کړم
او د بابل خلاف به يې راپاڅوم. او هغوئ به د بابل خلاف د
جنګ دپاره صف بندی وکړی او د شمال د خوا نه به هغه
قبضه کړی. او هغوئ په غشو ويشتو کښې ماهران دی چې
کله هم د هغوئ غشی نۀ خطا کيږی. ۱۰ خو بابل به لوټ
کړے شی او هر هغه څوک چې هغه لوټ کړی او هر څۀ چې
غواړی هغه به يوسی او ځان به پرې موړ کړی. دا د مالِک
خُدائ فرمان دے.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د بابل زوال

۱۱ ”اے بابلیانو تاسو چا چې زما غوره شوے قوم تالا والا
کړو، او اوس په خپلو کښې خندا خوشحالي کوئ، تاسو د
هغه سخی په شان ټوپونه وهئ کله چې هغه د موږی نه آزاد
شی او د آس په شان هنیږئ، ۱۲ خو ستاسو خپله مور به
رسوا شی، چا چې تاسو زیږولی یئ هغه به شرمنده شی. هغه
به په ټولو مُلکونو کښې بې‌اهمیته وی، هغه به په دشتو، په
اوچه زمکه، او په صحرا بدله شی. ۱۳ د مالِک خُدائ د
غضب په وجه به بیا په کښې څوک نهٔ اوسیږی خو بلکل به
وران ویجاړ شی. څوک هم چې پرې تېرېږی او د بابل تباهی
وګوری نو د وحشت نه به حق حیران شی. ۱۴ اے لیندو
والاو تاسو ټولو چا چې خپلې لیندې راښکلی دی، د بابلیانو
خلاف د جنګ دپاره صف بندی وکړئ. په هغوئ باندې ګزار
وکړئ. چې یو غشے درنه خطا نهٔ شی. ځکه چې هغوئ د
مالِک خُدائ خلاف ګناه کړې ده. ۱۵ د هرې خوا نه د هغهٔ
خلاف د جنګ چغې ووهئ. وګورئ هغه محاصره شوے
دے، د هغهٔ دېوالونه راغورزېدلی دی. دا د مالِک خُدائ د
انتقام اخستو ورځ ده، د بابل نه انتقام واخلئ. کوم سلوک
چې هغوئ د نورو سره کړے وو هم هغه شان سلوک ورسره
وکړئ. ۱۶ د بابل خلق په پټو کښې د تخم کَرلو او فصل
ریبلو نه منع کړئ، د ظالمانو د ظلم د وجې نه دې ټول غېر
مُلکیان خپلو خلقو او خپل مُلک ته واپس لاړ شی.“

# د مالِک خُدائ قوم دپاره اُمید

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ ”بنی اِسرائيل د ګډو د هغه خورې ورې شوې رمې په
شان دے چې زمرو په مخه کړې وی. په اول ځل چې چا تېر
کړل هغه د اسور بادشاه وو، په آخر کښې چا چې د هغهٔ
هډُوکی مات کړل هغه نبوکدنضر د بابل بادشاه وو. ۱۸ نو
په دې وجه مالِک خُدائ ربُ الافواج د بنی اِسرائيلو خُدائ
پاک فرمائی چې، زهٔ به اوس د بابل بادشاه او د هغهٔ مُلک له
سزا ورکړم لکه څنګه چې ما د اسور بادشاه له ورکړې وه.
۱۹ زهٔ به بنی اِسرائيل خپل د څرن ځائ ته واپس راولم او
هغوئ به د کرمل او بسن په پټو کښې وڅرېږی، او د هغوئ
لوږه به د اِفرائيم او د جِلعاد په غونډو کښې معموره شی. ۲۰
په هغه ورځو کښې، مالِک خُدائ فرمائی چې، د اِسرائيل
ګناهونه به ولټولے شی خو يو به په کښې پېدا نهٔ شی، او د
يهوداه ګناهونه به ولټولے شی او هيڅ ګناه به په کښې پېدا نهٔ
شی، ځکه چې کوم ما ژوندی پرېښودی دی زهٔ به د هغوئ
ګناهونه معاف کړم.“

## مالِک خُدائ بابل ته سزا ورکوی

۲۱ مالِک خُدائ فرمائی، ”زما لښکرو د مراتايم په وطن او د
فقود په خلقو باندې حمله وکړئ. هغوئ پسې شئ، او وې
وژنئ او مکمل يې تباه کړئ، او هر څهٔ وکړئ د څهٔ چې ما
حکم درکړے دے. ۲۲ په مُلک کښې دې د جنګ شور او
ژړاګانې واورېدلے شی، او د لوئې تباهئ آوازونه اورېدلے
کېږی. ۲۳ په ټوله دُنيا کښې د بابل لوئ او زورَور څټک
څنګه ټوکړې ټوکړې شو. او وګورئ چې بابل څنګه په نورو
قومونو کښې د وحشت مثال وګرځېدو. ۲۴ اے بابليانو، ما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو ته لټ کېښودلو، خو تاسو پرې خبر نهٔ وئ خو په کښې
گرفتار شوئ، ځکه چې تاسو د مالِک خُدائ خلاف جنګ
وکړو. ۲۵ مالِک خُدائ خپل د وسلې گودام کولاو کړے
دے او د خپل غضب وسله يې ترې راويستلې ده، ځکه چې
مالِک خُدائ ربُ الافواج به دا د بابل خلاف د هغوئ په مُلک
کښې استعمال کړی. ۲۶ د هرې خوا نه د هغهٔ خلاف حمله
وکړئ، او گودامونه يې مات کړئ، او هغه لکه د غلې دانو په
شان ډېرے کړئ. په مکمل توګه هغه تباه کړئ او هيڅ څوک
په کښې ژوندی مهٔ پرېږدئ. ۲۷ د هغوئ ټول غوَيان حلال
کړئ، په دوئ دې افسوس وی ځکه د هغوئ د سزا او
حساب ورځ او وخت رارسېدلے دے. ۲۸ هغه کسانو ته
غوږ شئ څوک چې د بابل نه راتښتېدلی دی، نو هغوئ په
يروشلم کښې وائی چې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک د
هغوئ نه څنګه انتقام اخلی څوک چې د هغهٔ کور تباه کوی.
۲۹ ټول ليندہ چلوونکی د بابل خلاف راجمع کړئ، محاصره
يې کړئ چې يو کس هم درنه ونهٔ تښتی. هغهٔ ته د خپلو اعمالو
په مطابق بدله ورکړئ، هغهٔ سره هغه څهٔ وکړئ کوم چې دهٔ
د نورو خلقو سره کړی دی. ځکه چې بابل د خپلې مغرورتيا
په وجه د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو د مقدس ذات خلاف
سرکشی کړې ده. ۳۰ مالِک خُدائ فرمائی چې، د هغهٔ
ځوانان به په کوڅو کښې راپرېوځی او قتل به شی، او د
هغوئ فوجيان به په هغه ورځ ټول ختم کړے شی. ۳۱ مالِک
خُدائ ربُ الافواج فرمائی چې، گورئ، زهٔ ستاسو خلاف يم،
اے مغروره خلقو، ستاسو د سزا ورځ رارسېدلې ده هغه
وخت چې زهٔ تاسو له سزا درکړم. ۳۲ ستا کبرژن قوم به
تيندک وخوری او راويه غورزېږی، او هيڅ څوک به تاسو نهٔ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوچتوی، زۀ به د هغۀ په ښارونو اور بل کړم او هغه به په
خپل شا او خوا کښې ځان سره هر څۀ وسوزوی. ۳۳
مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی چې، د اِسرائيل او د يهوداه
خلق مظلومان دی، هغوئ چې چا نيولی دی نو د هغوئ د
پرېښودو نه اِنکار کوی. ۳۴ خو د هغوئ بچ کوونکے ډېر
زورَور دے، او مالِک خُدائ ربُ الافواج د هغۀ نوم دے. هغه
به په سختئ سره د هغوئ د مسئلې دفاع وکړی، او هغه به
دوئ ته آرام ورکړی، خو د بابل خلق به نا آرامه کړی. ۳۵
مالِک خُدائ فرمائی چې، د تباهئ تُوره دې بابل تباه کړی.
هغه دې د بابل ټول اوسېدونکی او د هغۀ آفسران او
هوښياران خلق تباه کړی. ۳۶ د هغوئ دروغژن نبيان به په
جنګ کښې مړۀ شی، او هغوئ به بېوقوفان ثابت شی. د
هغوئ تکړه فوجيان به په جنګ کښې قتل کړے شی، او
هغوئ به سختو يرو ترخو کښې راګير شی. ۳۷ جنګ به د
هغوئ خلاف د هغوئ آسونه او جنګی ګاډئ تباه کړی او په
هغۀ کښې د نورو مُلکونو فوجيان به هم تباه کړی. او هغوئ
به د ښځو په شان بُزدله شی. او جنګ به د هغوئ خزانې تباه
کړی، او لوټ به يې کړی. ۳۸ د هغۀ د اوبو ذخيرې دې
اوچې کړے شی. هغه به اوچې شی، ځکه چې ټول مُلک د
بُتانو نه ډک شوے دے، او د هغه خلقو د بُتانو د يرې نه لکه
د ليونو په شان عمل وکړو. ۳۹ نو بيا به په بابل کښې د
دشتو ځناور اوسيږی، او د ګيدړانو او ګونګيانو په کور به
بدل شی. نو دا به بيا هيڅکله آباد نۀ شی او دا به هميشه دپاره
شاړ پروت وی. ۴۰ لکه څنګه چې خُدائ پاک سدوم او
عموره، سره د ګاونډيانو تباه کړل هم هغه شان به بابل هم
تباه کړی. مالِک خُدائ فرمائی چې، نو هيڅ څوک به هلته نۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوسېږی او نۀ به يو انسان په کښې ژوند کوی. ۴۱ وګورئ،
د شمال د خوا نه فوج راروان دے، يو لوئ قوم او ډېر
بادشاهان د دُنيا د آخر نه راپاڅېدلی دی. ۴۲ هغوئ په لیندو
او نېزو باندې سمبال دی، او هغوئ ظالمان دی او هيڅ رحم
په کښې نشته. کله چې هغوئ په خپلو آسونو باندې سوارۀ
شی لکه د سمندر داسې غړمبار کوی، هغوئ جنګ ته په
قطارونو کښې راروان دی چې په لور بابل باندې حمله
وکړی. ۴۳ د بابل بادشاه چې د دشمن د راتلو په حقله دا
خبر واورېدو، نو د هغۀ لاسونه شل شول. هغه يرې او دردونو
ونيولو، داسې درد لکه چې د ښځې د لنګون په وخت کښې
وی. ۴۴ لکه څنګه چې يو زمرے د اُردن د جاړو بوټو نه د
څرن زمکې ته راځی او په ګډو ورټوپ کوی، نو دغه شان به
زۀ د بابل خلق د خپل مُلک نه وشړم، او زۀ به د خپلې
خوښې مشر په کښې مقرر کړم. نو هغه به په دوئ حکومت
وکړی. څوک زما په شان کېدلے شی؟ او يو مشر به هم زما
خلاف ونۀ درېږی. ۴۵ نو بيا هغې منصوبې ته غوږ شه کومه
چې مالِک خُدائ د بابليانو خلاف جوړه کړې ده، تر دې چې
واړۀ ماشومان به د ګډورو په شان وشړلے شی، او د هغوئ
د څرن ځايونه به وران کړے شی. ۴۶ زمکه به په دې چغو
سورو سره په لړزان شی ”بابل قبضه کړے شوے دے.“ او
د هغوئ د مايوسئ ژړا به په ټوله دُنيا کښې واورېدلے شی.“

## د بابل تباه کېدل

۵۱ ۱ مالِک خُدائ داسې فرمائی چې، ”ګوره، زۀ به د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بابل او د هغهٔ د خلقو خلاف تباه کوونکې هوا راوچته کړم.
۲ زهٔ به بابل ته غېر مُلکیان ورولېږم چې هغه چاڼ کړی او
د هغهٔ مُلک تباه کړی. او هغوئ به په هغهٔ د هرې خوا نه
حمله وکړی کله چې د هغهٔ د تباهۍ ورځ راشی. ۳ د بابل
فوجیان لیندو راښکلو ته مهٔ پرېږدئ، او زغرو اچولو ته یې مهٔ
پرېږدئ. د هغوئ ځوانان درنه بچ نهٔ شی، د هغوئ فوجیان په
مکمل توګه تباه کړئ. ۴ هغوئ به په بابل کښې مړهٔ شی،
او د هغهٔ په کوڅو کښې به سخت زخمیان شی. ۵ خو
اِسرائیل او یهوداه خُدائ پاک ربُ الافواج نهٔ دی هېر کړی،
کهٔ څهٔ هم چې د هغوئ مُلک د بنی اِسرائیلو د مقدس ذات په
خلاف د ګناه نه ډک دے. ۶ د بابل نه وتښتئ، د خپل ژوند
د بچ کولو دپاره منډه ووهئ، د هغهٔ د ګناهونو په وجه خپل
ځان مهٔ مړ کوئ. دا د مالِک خُدائ د انتقام وخت دے، هغه
به ورته پوره بدل ورکړی د کوم چې بابل حقدار وی. ۷
بابل د مالِک خُدائ په لاس کښې د سرو زرو پیاله وه، هغه
پیالۍ چې ټوله زمکه یې نشه کړه. قومونو د هغهٔ شراب
وڅښل نو په دې وجه هغوئ اوس مست شول. ۸ خو
ناګهانه بابل هم راوغورزېدو په هغهٔ ماتم وکړئ. د هغهٔ
زخمونو له مرهم ورکړئ. کېدے شی چې هغه شفا ومومی.
۹ مونږ به هغهٔ ته شفا ورکړې وه کهٔ چرې مونږ کولے
شو، خو هغه اوس نهٔ رغېږی. راځئ چې اوس هغه پرېږدو او
هر یو خپل مُلک ته واپس لاړ شُو، د هغهٔ سزا اوس آسمان ته
رسېدلې ده، دا دومره لویه ده چې هغه اوس د اندازه کولو نه
بهر ده. ۱۰ مالِک خُدائ دا خبره څرګنده کړه چې مونږ په
حقه یُو. راځئ چې په صیون کښې هغه څهٔ ووایو کوم کارونه
چې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک کړی دی. ۱۱ خپل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غشی تېرۀ کړئ، او خپل ډالونه راوچت کړئ، مالِک خُدائ
دا مادی بادشاهان راوچت کړی دی، چې د بابل خلاف پېش
قدمی وکړی او هغه تباه کړی. دا د هغۀ انتقام اخستل دی د
هغه چا نه چا چې د هغۀ کور پلیت کړے دے. ۱۲ د بابل د
دېوالونو خلاف جنډا اوچته کړئ، د ښار محافظان مضبوط
کړئ، او چوکیداران ودروئ او د پټ ګزار دپاره تیارے
وکړئ، ځکه چې مالِک خُدائ به خپله منصوبه او مقصد
پوره کړی، هغۀ چې څۀ وفرمائیل نو هم هغه به د بابل د خلقو
سره وکړی. ۱۳ اے بابله، تۀ د ډېرو سیندونو په غاړه پروت
ښار يې او د مال دولت او تجارت نه ډک يې، خو ستا اَنجام
رارسېدلے دے، او ستا د ژوند تار شلېدلے دے. ۱۴ مالِک
خُدائ ربُ الافواج په خپل ذات باندې قسم وکړو چې، زۀ به
ستاسو ښارونه د دشمنانو نه ډک کړم، لکه څنګه چې يو پتنګے
د مُولخانو نه ډک وی، او هغوئ به په تاسو باندې د فتحې
چغې ووهی.“

## د خُدائ پاک ثناء او صِفت

۱۵ ”مالِک خُدائ په خپل قدرت سره زمکه جوړه کړه. او په
خپل حکمت سره يې دُنيا قائمه کړه. او په خپل عقل يې
آسمانونه خوارۀ کړل. ۱۶ د هغۀ په حُکم باندې آسمان په
غرار شی، هغه وريځې د زمکې د يو سر نه تر بل سره پورې
خوروی. هغه برېښنا د باران سره رالېږی او د خپلو ذخيرو
نه هوا رالوځوی. ۱۷ د انسان ټول نسلونه بېعقله او بېعلمه
دی، هغه کاريګر چې بُتان جوړوی دوئ به د دې بُتانو په وجه
وشرمېږی، ځکه چې د دوئ بُتان هم دوکه ده او ساه په کښې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نشته. ۱۸ دا بُتان فضول او د مسخرو څیزونه دی. کله چې
د هغوئ د حساب کِتاب ورځ راشی دا به ټول تباه شی. ۱۹
خو مالِک خُدائ د یعقوب میراث د دې بُتانو په شان نهٔ دے.
هغه د هر شی خالق دے، د بنی اِسرائیلو په شمول چې د هغهٔ
خپل قوم دے. او د هغهٔ نوم ربُ الافواج دے.“

## د مالِک خُدائ تبر

۲۰ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”اے بابله، تهٔ زما د جنګ تبر
یې، او زما د جنګ وسله یې. ستا په ذریعه به زهٔ قومونه ذره
ذره کوم، او زهٔ به په تا بادشاهتونه تباه کوم، ۲۱ زهٔ به ستا
په ذریعه آسونه او د هغهٔ سوارهٔ ذره ذره کوم، زهٔ به په تا
ګاډئ او د هغې چلوونکی تس نس کوم، ۲۲ زهٔ به په تا
ښځې او سړی ذره ذره کوم، زهٔ به په تا بوډاګان او ځوانان
وژنم، زهٔ به په تا ځوانان او پېغلې ذره ذره کوم، ۲۳ زهٔ به په
تا شپونکی او رمې تس نس کوم، زهٔ به په تا زمیندار او د
غوَیانو جوړې ذره ذره کوم، زهٔ به په تا حکمرانان او مشران
وژنم.“

## د بابل نسکوریدل

۲۴ ”ستا د سترګو د وړاندې به زهٔ بابلیانو او څوک چې په
بابل کښې اوسیږی د هغوئ د بدو کارونو په بدله کښې چې
یې په صیون کښې کړی دی بدله ورکړم،“ مالِک خُدائ
فرمائی. ۲۵ مالِک خُدائ فرمائی چې، ”زهٔ ستا په خلاف یم،
اے تباه کوونکیه غره، تهٔ چې ټوله زمکه تباه کوې. زهٔ به خپل
لاس ستا په خلاف دراوږد کړم، چې د اوچت ځائ نه دې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رانسکور کړم، او چې درنه يو سوزېدلے او د ايرو غر جوړ
کړم. ۲۶ ستا نه به يو کاڼے هم راوچت نۀ کړے شی چې د
ګوټ کاڼے شی، او نۀ به درنه يو کاڼے د بنياد دپاره
استعمال شی، ځکه تۀ به د تل دپاره په خرابه بدل شې. دا د
مالِک خُدائ فرمان دے. ۲۷ په هغه مُلک کښې د بابل
خلاف جنډا راوچته کړئ، په قومونو کښې بيګل وغږوئ،
قومونه د هغۀ په خلاف د جنګ دپاره تيار کړئ، او دغه
بادشاهتونه د هغۀ په خلاف راوچت کړئ يعنې، اراراط، مِنى،
او اشکناز بادشاهتونه د هغۀ خلاف راوغواړئ. او د هغۀ
خلاف جنګی کمانډر مقرر کړئ، او د هغۀ خلاف دومره
آسونه راولئ لکه د مُولخانو پرګله. ۲۸ قومونه د بابل خِلاف
د جنګ دپاره تيار کړئ. د مادى بادشاهان، د هغوئ
حکمرانان او د هغوئ ټول مشران، او هغه ټول مُلکونه چې
هغوئ ورباندې حکومت کوی راوغواړئ چې د هغوئ خلاف
جنګ وکړی. ۲۹ زمکه لړزيږی او د دردونو په وجه
چورليږی، ځکه چې مالِک خُدائ د بابل په خلاف چې کومه
منصوبه تياره کړې ده هغه نۀ بدلېدونکې ده. نو بابل به په
خرابه بدل کړے شی او يو کس به هم هلته نۀ اوسيږی. ۳۰
د بابل فوجيانو جنګ بس کړو، او په خپلو برجونو کښې بند
پاتې شول. د هغوئ زور ختم شو او هغوئ لکه د ښځو په
شان بُزدله شول. حمله کوونکو د هغوئ کورونو ته اور
واچولو او د هغوئ د ښار دروازې يې ماتې کړې. ۳۱
قاصدان د يو بل نه مخکښې کيږی او په منډه دی چې د بابل
بادشاه ته دا پيغام ورسوی او په دې يې خبر کړی چې د هغۀ
ټول ښار قبضه شو، ۳۲ دشمن د سيندونو لارې ګودرې د
تښتيدلو دپاره بندې کړې دی او په جبو او لوخو يې اور بل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړے دے او د بابل فوجیان یرې راخستی دی. ۳۳ مالِک
خُدائ د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک داسې فرمائی چې، بابل لکه
د درمند په شان تیار دے او اوس هغه وخت رارسېدلے دے
چې خلق هغه د پښو لاندې کړی هرکله چې د لو وخت شروع
شی.“ ۳۴ ”نبوکدنضر د بابل بادشاه مونږ لواړ تېر کړُو، او
هغۀ مونږ سرګردانه او مات کړُو، هغۀ مونږ لکه د تش منګی
په شان یوې خوا ته وغورزولو. لکه د ښامار په شان یې تېر
کړُو او زمونږ د ښو غوښو نه یې خپله ګېډه ډکه کړه، او نوره
یې بیا د خولې نه تُو کړه.“ ۳۵ خو اوس دې د صیون
اوسېدونکی وائی چې، ”مونږ سره چې کوم ظلم زیاتے
شوے دے هم هغه شان حالات دې په بابل راشی.“ د یروشلم
اوسېدونکی دې وائی چې، ”زمونږ چې کومه وینه توئ شوې
ده نو د هغې ذمه واری دې د بابل په غاړه وی.“

## د مالِک خُدائ د بابلیانو نه انتقام اخستل

۳۶ نو په دې وجه مالِک خُدائ داسې فرمائی چې، ”زۀ به
ستاسو د حق دفاع وکړم او ستاسو انتقام به واخلم، زۀ به د
هغۀ د سیند او چینو اوبۀ اوچې کړم. ۳۷ بابل نه به د تباهۍ
ډېرے جوړ شی، او ګیدړان به په کښې غارونه جوړ کړی.
هغه به نورو ته د یرې او مسخرو شی، او څوک به هم په
کښې نۀ اوسیږی. ۳۸ د بابل ټول خلق به لکه د زمرو په شان
شور کوی. او هغه به لکه د زمرو د ورکوټو بچو په شان
غریږی. ۳۹ خو کله چې هغوئ په مستۍ کښې راشی نو زۀ
به هغوئ دپاره مېلمستیا وکړم او هغوئ به ښۀ نشه کړم، نو
بیا به هغوئ په چغو سورو او خندا ګانو کښې داسې د ټول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عمر دپاره اودهٔ کړم چې بيا به کله هم راوچت نهٔ شی. دا د
مالِک خُدائ فرمان دے. ۴۰ زهٔ به هغوئ لکه د ګډورو،
چېلو او ګډانو په شان حلالېدو دپاره بوځم.“

## د بابل اَنجام

۴۱ مالِک خُدائ د بابل په حقله فرمائى چې، ”د بابل هغه
لوئ ښار چې ټولې دُنيا به يې صِفت کولو څنګه شکست
وخوړو او قبضه شو، د ټولو قومونو دپاره د بابليانو نه څهٔ
يرونکے منظر جوړ شو. ۴۲ سمندر به په بابل راواوړى او
د هغهٔ زورَورى چپې به بابل پټ کړى. ۴۳ د هغهٔ ښارونه به
وران او تباه کړى او په اوچه دشته او ميره باندې به بدل
شى، هغه به په داسې زمکه باندې بدل شى چې څوک به هم په
کښې نهٔ اوسيږى، او نهٔ به څوک په کښې سفر کوى. ۴۴ زهٔ
به د بابل معبود بيل بُت ته سزا ورکړم، او څهٔ چې يې خوړلى
دى هغه به پرې ګنډير کړم. قومونه به نور د هغهٔ عبادت نهٔ
کوى. او د بابل دېوالونه به راوغورزيږى. ۴۵ اے زما خلقو
د هغهٔ نه رابهر شئ. د خپل ژوند د بچ کولو دپاره د هغه ځائ
نه منډه کړئ. او د مالِک خُدائ د سخت غضب نه وتښتئ.
۴۶ تاسو چې په دغه مُلک کومې افواه ګانې اورئ نو چې د
هغې په وجه نهٔ بېزړه شئ او نهٔ وېرېږئ. دا افواه به کال په
کال راځى. ظلم او فساد به مُلک کښې راوچت شى او
بادشاهان به د يو بل سره جنګونه کوى. ۴۷ خو په حقيقت
کښې هغه وخت راروان دے چې زهٔ به د بابليانو بُتانو ته سزا
ورکړم، او د هغهٔ ټول مُلک به وشرميږى، او د هغوئ قتل
شوى کسان به ټول په کښې مړهٔ پراتهٔ وى. ۴۸ نو بيا به

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

آسمان او زمکه او هر څهٔ چې په کښې دی د بابل په شکست
د خوشحالئ چغې ووهی، ځکه چې د شمال نه به تباه
کوونکی فوجیان په هغهٔ حمله وکړی، دا د مالِک خُدائ
فرمان دے. ۴۹ لکه څنګه چې بابل د بنی اِسرائیلو او د ټولې
دُنیا د قتل عام سبب جوړ شوے وو، نو بیا به هغه هم هغه
شان قتل کړے شی.“

## په بابل کښې د بنی اِسرائیلو دپاره د مالِک خُدائ پیغام

۵۰ ”تاسو څوک چې د مرګ نه راتښتېدلی یئ، ودرېږئ مه،
لاړ شئ. تاسو چې څومره هم لرې یئ نو مالِک خُدائ یادوئ.
او د خپل کور یروشلم په حقله سوچ کوئ.“ ۵۱ تاسو وایئ
چې، ”مونږ په شرمونو وشرمېدو، او زمونږ بې‌عزتی وشوه او
شرم مو په مخ راخور شوے دے، ځکه چې غېر مُلکیان د
مالِک خُدائ په مقدس ځائ کښې راداخل شوی دی.“ ۵۲
مالِک خُدائ فرمائی چې، ”هغه ورځې راروانې دی کله چې به
زهٔ د بابل بُتانو ته سزا ورکړم نو د هغوئ د زخمونو زبیرګی
به ټول مُلک کښې اورېدلے شی. ۵۳ کهٔ بابلیان آسمان ته
هم وخېژی او هلته یوه مضبوطه قلعه جوړه کړی، نو زهٔ به
هلته هم دشمنان ورولېږم چې هغوئ چور کړی، مالِک خُدائ
فرمائی.“

## د بابل تباه کېدل

۵۴ ”د ژړا آوازونه د بابل نه راځی، د لوئ تباهئ آوازونه د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بابلیانو د زمکې نه اوریدلے کیږی. ۵۵ مالِک خُدائ به بابل
تباه کړی، او هغه به د هغوئ د شور نه ډک ښار خاموشه
کړی، دشمن به لکه د اوبو د غضبناکو چپو په شان راروان
وی او د هغوئ د آوازونو شور به اوریدلے شی. ۵۶ تباه
کوونکے به د بابل خلاف راشی، د هغوئ جنګی فوجیان به
ونیولے شی او د هغوئ لیندۍ به ماتې کړے شی. ځکه چې
مالِک خُدائ د انتقام اخستلو خُدائ پاک دے او هغه به پوره
بدله ورکړی. ۵۷ زۀ به د هغۀ مشران او پوهان نشه کړم، د
هغۀ حکمرانان، آفسران، او فوجیان به هم نشه کړم. هغوئ به
د تل دپاره اودۀ شی او بیا به نۀ راپاخی، دا د بادشاه فرمان
دے د چا نوم چې مالِک خُدائ ربُ الافواج دے.“ ۵۸
مالِک خُدائ ربُ الافواج داسې فرمائی چې، ”د بابل پیړ
دیوالونه به هوار کړے شی او د هغۀ اوچتې دروازې به
وسوزولے شی، نو خلقو یې خپل ځان ستړے کړو خو هیڅ
فائده یې ونۀ کړه، د دې قوم ټول محنت صرف د اور دپاره
خشاک دے.“

## یرمیاه خپل پیغام بابل ته لیږی

۵۹ یرمیاه نبی دا پیغام د عملی آفسر سرایاه د نیریاه زوئ
یعنې د محسیاه نمسی ته هغه وخت ورکړو کله چې هغه بابل
ته د صدقیاه د یهوداه بادشاه د حکومت په څلورم کال د هغۀ
سره لاړو. ۶۰ یرمیاه د هغه ټولو آفتونو د تفصیل په حقله
چې په بابل باندې راتلونکی وُو په یو طومار کښې ولیکل. ۶۱
هغۀ سرایاه ته وفرمائیل، ”کله چې تۀ بابل ته ورسیږې نو تۀ دا
ټول کلام په اوچت آواز سره خلقو ته ولوله. ۶۲ نو بیا داسې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وایه چې، اے مالِکه خُدایه، تا وفرمائیل چې تاسو به دا ځائ
تباه کړئ، نو په دې کښې به نۀ انسان او نۀ ځناور اوسیږی،
او دا به د تل دپاره وران ویجاړ پروت وی. ۶۳ کله چې تۀ د
دې طومار لوستل بند کړې، نو یو کاڼے ورپورې وتړه او د
فرات د سیند په مینځ کښې یې وغورزوه. ۶۴ نو بیا هغوئ ته
ووایه چې، دغه شان به بابلیان ډوب شی او هیڅکله به بیا
راوچت نۀ شی د هغه افت په وجه کوم چې زۀ په دوئ
نازلوم. نو د هغۀ خلق به راوغورزیږی." د یرمیاه خبرې دلته
په دې ځائ باندې ختمې شوې.

## د یروشلم زوال

۵۲ ۱ صدقیاه د یویشتو کالو وو کله چې هغه د یهوداه
بادشاه شو، او هغۀ په یروشلم یوولس کاله بادشاهی وکړه. د
هغۀ د مور نامه حموطل وه، چې د یرمیاه لور وه، چې هغه د
لِبناه وه. ۲ خو هغۀ د مالِک خُدائ په وړاندې هغه
بدکارونه وکړل، کوم چې یهویقیم بادشاه کړی وُو. ۳ دا هر
څۀ د یروشلم او یهوداه سره د مالِک خُدائ د قهر په وجه
وشول، او په آخر کښې هغۀ هغوئ د خپل حضور نه وشړل.
خو اوس صدقیاه د بابل بادشاه خلاف سرکشی وکړه. ۴
نو د صدقیاه بادشاه د حکومت په نهم کال، په لسمه ورځ د
لسمې میاشتې نبوکدنضر د بابل بادشاه د خپل ټول فوج سره
په یروشلم حمله وکړه. هغوئ ښار محاصره کړو او د دې د
دېوالونو نه یې ګېرچاپېره مورچې جوړې کړې. ۵ یروشلم د
صدقیاه بادشاه د حکومت تر یوولسم کال پورې محاصره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وو. ۶ د څلورمې مياشتې په نهمه ورځ د صدقياه د
حکومت په يوولسم کال، په ښار کښې قحطى ډېره سخته
شوه، او آخر يې ټول خوراک بلکل ختم شوے وو. ۷ بيا د
ښار د دېوال يوه حِصه راوغورزولے شوه او ټول فوجيان
وتښتېدل. خو دا چې بابليانو ښار محاصره کړے وو، نو
هغوئ د شپې د تيارۍ انتظار کولو. نو بيا هغوئ د بادشاه د
باغ وروستو دوو دېوالونو په مينځ کښې دروازې نه وتښتېدل
او د اُردن وادۍ طرف ته يې مخه وتړله. ۸ خو د بابليانو
فوجيانو صدقياه بادشاه پسې راخستې وه او هغه يې د يريحو
په مېدانونو کښې ونيولو، د هغهٔ سرو هغه پرېښودو او خوارهٔ
وارهٔ شول. ۹ هغوئ هغه د بابل بادشاه ته رِبله ته بوتلو چې
د حمات په مُلک کښې وو. د بابل بادشاه بيا د سزا ورکولو
خپله فېصله په صدقياه واوروله. ۱۰ هغوئ د صدقياه په
مخامخ د هغهٔ زامن او د يهوداه ټول آفسران حلال کړل. ۱۱
نو هغوئ د صدقياه سترګې ويستلې، د پيتلو په زنځيرونو يې
وتړلو او بابل ته يې بوتلو چرته چې هغه د خپل مرګ تر وخته
پورې هلته پروت وو.

## د خُدائ د کور او د يروشلم تباهى

۱۲ د پينځمې مياشتې په لسمه ورځ په نولسم کال د بابل د
بادشاه نبوکدنضر، شاهى کمانډر نبوزردان چې د شاهى فوج
مشر وو، يروشلم ته راغلو. ۱۳ هغهٔ د مالِک خُدائ په
عبادتګاه، په شاهى محل او د يروشلم په ټولو کورونو اور
ولګولو. هر يو خاص عمارت هغهٔ وسوزولو. ۱۴ او د بابل
ټولو فوجيانو د شاهى کمانډر په مشرۍ کښې د يروشلم د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښار ګېرچاپېره دېوالونه راوغورزول. ۱۵ نو بيا نبوزردان د
بابل فوجى کمانډر هغه ځينې غريبانان خلق جلاوطن کړل او
نور هغه کسان چې په ښار کښې پاتې وُو، او هم نور ماهِر
کاريګران، او هغوئ څوک چې د بابل د بادشاه بګوړه شوى
وُو هم بوتلل. ۱۶ خو نبوزردان څۀ غريبانان خلق په مُلک
کښې پرېښودل کوم چې بلکل غريبانان وُو ترڅو هغوئ د
انګورو په باغونو او پټو کښې کار وکړى. ۱۷ بابليانو هغه د
زېړو ستنې ماتې کړې، او هغه ګاډۍ او د زېړو تالاب چې نوم
يې سمندر وو، کوم چې د مالِک خُدائ په کور کښې وو او
هغوئ ټول زېړ د خپل ځان سره بابل ته يوړل. ۱۸ هغوئ د
خپل ځان سره ټول هغه سامان يوړلو کوم به چې د خُدائ په
کور کښې د خِدمت کولو دپاره استعمالېدلو، لکه بېلچې او د
ايرو لوښى، د ډيوو سرپوښونه، چمچې، د قربانۍ د وينې
اوچتولو جامونه، پيالۍ، د خوشبويۍ سوزولو لوښى او د
زېړو نور ټول سامان يې لوټ کړو. ۱۹ نبوزردان د فوج
مشر ځان سره هم هغه وړې کاسې، د خوشبو انګيټۍ، کاسې،
دېګونه، ډيوټ دانونه، لوښى، کاسې کومې چې څنګاو نذرانو
دپاره استعمالېدلې او نور ټول سامان کوم چې د سوچه سرو
او سپينو زرو نه جوړې شوې وې. ۲۰ هغه زېړ چې کوم په
ستنو کښې وُو، د زېړو سمندر او هغه دولس غوَيان چې
ورلاندې جوړ شوى وُو، هغه ستنې، کومې چې سليمان
بادشاه د مالِک خُدائ د کور دپاره جوړې کړې وې، دومره
زيات درانۀ وُو چې وزن کولو نه بهر وُو. ۲۱ دواړه ستنې يو
شان وې، هره يوه تقريباً نهۀ ګزه اوچته او تقريباً شپږ ګزه
ګول وه، د هغوئ مينځ خالى وو خو د هغوئ د دېوال ګېج
تقريباً درې اِنچه غټ وو. ۲۲ د هرې يوې ستنې په سر باندې
Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تقریباً درې ګزه اوچت د زېړو تاج وو چې دا ګېرچاپېره د
زېړو په زنځيرونو ترلی شوی انارو ښائسته کړے شوے وو.
٢٣ د هرې ستنې نه ګېرچاپېره شپږ نوې انار لګولے شوی
وُو چې ټوټل سل انار وربانديې لګولے شوی وُو.

## د يهوداه د خلقو بابل ته بوتلل

٢٤ نبوزردان د فوج مشر د خپل ځان سره د دې نه علاوه،
مشر اِمام شراياه، وړېسې اِمام صفنياه او د مالِک خُدائ د
کور نور درې خادمان قېديان بوتلل. ٢٥ د ښار نه هغۀ هغه
آفسر بوتلو کوم چې د جنګی فوجيانو مشر وو، او اووۀ د
بادشاه ذاتی مشيران چې هغوئ لا تر اوسه په ښار کښې وُو،
د فوجی مشر منشی چې هغه د فوجيانو د بهرتی کولو ذمه
وار وو او شپېتۀ نور اهم سړی يې هم بوتلل، ٢٦ نبوزردان
هغوئ ټول ځان له کړل او د صوبه حمات په رِبله ښار کښې
يې د بابل بادشاه له بوتلل. ٢٧ او هلته په رِبله کښې د حمات
په زمکه د بابل بادشاه ټول ووژل. نو بيا داسې د يهوداه خلق
د خپل مُلک نه پردی مُلک ته بوتلے شول. ٢٨ د نبوکدنضر
د حکومت په اوؤم کال کښې څوک چې جلاوطن کړے
شوی وُو د هغوئ شمېر درې زره او درويشت وو. ٢٩ او د
نبوکدنضر په اتلسم کال د حکومت په دوران کښې نور اتۀ
سوه او دوه ديرش کسان د يروشلم نه قېديان بوتلل. ٣٠ او د
نبوکدنضر د حکومت په درويشتم کال هغه نبوزردان راولېږلو
او هغۀ نور اووۀ سوه او پينځۀ څلوېښت کسان قېديان بوتلل
چې د ټولو شمېر څلور زره او شپږ سوه کسان شُو. ٣١ د
جلاوطنئ په اووۀ ديرشم کال يهوياکين د يهوداه بادشاه په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوم کال چې اويل‌مرودک د بابل بادشاه شو، نو هغهٔ د يهوداه
بادشاه په يهوياکين رحم وکړو او هغه يې د قېدخانې نه د
دولسمې مياشتې په پينځويشتمه ورځ آزاد کړو. ٣٢
اويل‌مرودک د هغهٔ سره ښهٔ سلوک وکړو او د هغه نورو
بادشاهانو نه يې هم د لوئ عزت ځائ ورکړو کوم چې د هغهٔ
سره په بابل کښې جلاوطن وُو. ٣٣ نو يهوياکين خپلې د
قېدخانې جامې يو خوا ته وويستلې او باقى ټول عمر يې د
بادشاه په مېز باندې خوړل څښل کول. ٣٤ هره ورځ د بابل
بادشاه يهوياکين ته باقاعده خرچه ورکوله او هغهٔ ورته تر
مرګه پورې خرچه مقرره کړه.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © يوسفزى ٢٠١٩
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.